# ا هد اء

خپلې کورنۍ ته !
چې دهجرت اوجهاد په کلونوکې يې دافغانستان
دنور ولس په شان زياتې ستونزې ګاللي اوقرباني يې
ورکړې ده.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: دواقعیتونو په بهیر کې

لیکوال: شاه محمود میاخېل

کمپوز : مجیب الرحمان لحاظ

چاپ کال :۱۳۸۶ هـ — ۲۰۰۷ م

چاپ ځای : پیر پرینټینګ پریس
ټیلیفون : 0093(0)799739080
Email- pirprinting_kabul@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا خاطرې

د۱۳۵۸ کال پسرلی دنوروکلونو په شان له ګلونو او بارانونو سره پیل شوی ؤ او دهیواد خلکودپخوا په شان آرام ژوند درلود اودبشپړ امنیت په غیږ کې یې خپل کارونه پرمخ بیول خو یو ناڅاپه ددې کال دغوایې داوومې نیټې په سهار کې دتوپونو اوټانکونو ددرنو ګولیو دړلیو اوریدل په عسکري قشلو کې پیل شول وروورویې دارګ لمنه ونیوه او دوحشت لاسونو دراډیو افغانستان پرکومې منګولې خښې کړې ، ددولت ارتباطات قطع شول او دپردو پر ملاتړاومرستو ولاړې کمونیستي کودتاه د خپل تسلط ساحه ورور پراخوله . تر غرمې وروسته ناپیژندلې الوتکې چې په ډیر مهارت یې الوتنې کولې دکابل په فضا کې راپیدا شوې ،دکابل دهوایې ډګرپه الوت کرښې ،ارګ اونورو ځایونو یې دبمونو تندرونه راوغورزول اودآزاد اوآرام افغانستان ځمکه او فضا یې دوحشت او ویر په غیږه کې راونغښتله .

له همدې ورځې نه دافغان ملت دویر او دافغانستان دبدبختۍ ورځې پیل شوې ، په عسکري اوملکي ادارو کې دمسلمانو او هیواد پالو افغانانو نیول ،ځورول، بندیانول او وژل پیل شول او دکورونو او فکرونو په لټولو او پلټلو یې لاس پورې کړ . خلك یې په زور دخپل له پردوسره تړلې الحادي ګوند غړیتوب ته وربلل او یایې زندانونو ته اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دافغان مسلمان ،هیوادپال اوقهرمان ملت چې دتاریخ په اوږدوکې یې غلامي نه وه منلې دنوې سرې غلامۍ په وړاندې هم راولاړشو، ،دکمونیستي دولت وحشت دقهرمان ملت قهر اونفرت راوپاروه او په تش لاس یې مقابله او پاڅون پیل کړ ، کمونیستانو غوښتل چې دوحشیانه بریدونو او بمباریو په وسیله دملت دقیام مخه ونیسي او دشوروي دغلامۍ غړوندی یې په غاړه کې واچوي خو دې وحشیانه عمل قیام ته نور هم قوام ورکړ او دپاڅون لمن ټول هیواد ته خوره شوه .په زرګونو کسان په خپلو کلیو او کو رونو کې شهیدان او ورسره په لس ګونو زره کسان دمهاجرت په کاروانونو کې دایران او پاکستان په لوري روان شو ل. په دې دوران کې دکمونیستي وحشت دسوځونکي اور لنبې دهیواد ګوټ ګوټ ته خورې شوې او هرڅوك بیل بیل په کې وسوځیدل :

فلکه ستا له لاسه ده وژړل ما وژړل
هغه او دغه خپل،پردي دوست او اشنا وژړل
دغم لپاره یې هم یوځای سره پرینښودو
هرچا جلا،جلا،جلا،جلا ،جلا وژړل

په دې ترتیب ددې وحشت پیښو دهرچا لپاره بیله بیله بڼه درلوده اوپه هر افغان دظلم بیلې بیلې ځپې تیرې شوې ،له یوې خوا دکمونیزم وحشت، له بله پلوه دولس قهرماني او له بله اړخه په هیواد کې دننه او دهجرت په بستر کې دافغانانو ستونځې ددې غم لړلې تاریخ بیلابیل ځپرکي دي ،خصوصاً په هر چا تیر شوي حالات دویر بیلابیل داستانونه دي چې په دې تاریخ کې باید دعبرت او دراتلونکو نسلونو دخبرتیا لپاره درج شي او ولیکل شي .

ښاغلي شاه محمود میاخیل چې ددې حالاتو له بیلو بیلو میچنو راوتلی ، په هیواد کې دننه یې هم دوحشت صحنې له نژدې لیدلي ،له هیواده بهر یې هم ددوست ډوله دښمنانو دسیسې او طوطیې او هم یې دخودخواه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاه طلبه او دنورو په امکاناتو ولاړو رهبرانو سیالۍ اونفاقونه لیدلي او هم یې دمظلومو مهاجرو دګرمیو او لوږونه دمړو شویو ماشومانو اولویانو زړه بوګنونکي خبرونه او پیښې اوریدلي اولیدلي دي نو داټول یې په خپل دې اثر کې په ځانګړي بصیرت اوپه ژمنتیا ولاړ امانت راغونډ کړي او دخپلو ترخو خاطرو داټولګه یې ترې جوړه کړې ده چې هم دتاریخ لیکونکو له پاره ښه او باوري معلومات لري اوهم دداستان کښونکو له پاره جالبې سوژې او مواد .

ما چې کله ددې خاطرو په لوستلو پیل وکړ ، داسې یې ورجلب کړم چې خپل ځان مې پکې وموند ځکه ما هم په هیواد کې ډیر څه لیدلي وو اودمهاجرت په هماغو لارو تللی وم چې له وردګو تر میران شاه پورې مې اووه ورځې پلی سفر کړی ؤ او بیا په پیښور کې دبې احساسه رهبرانو دکړو وړو شاهد وم اوخصوصاً دهغو هیوادپالو اوروشنفکرو افغانانو مظلومانه شها دت ځورولی وم چې ښاغلي میاخیل صاحب دخپلو خاطراتو په پاڼ کې په لنډیز یاد کړي دي .

زما له نظره دمحترم میاخیل صاحب داخاطرات هغه باوري سندونه اولاسوندونه دي چې زمونږد جها د له پندونو اوعبرتونو ډك تاریخ به په ډاډ تکیه پرې کوي او زمونږ راتلونکي نسلونه به یې په مینه مینه لولي او پند به ترې اخلي .

زه یو ځل بیا خپل حساس او دراك ورورښاغلي شاه محمود میاخیل صاحب ته ددې ګټور اثر دلیکلو مبارکي ورکوم او چاپول ،لوستل او په کتابتونونو کې ساتل یې ضروري او اړین بولم !

په درنښت

حبیب الله رفیع

دافغانستان دعلومو اکاډیمۍ مشاور

۱۸\۱\۱۳۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

د۱۹۸۲ م کال نه راپدې خواما داهځه کړې چې دژوند ورځنۍ پېښې او په سترګو لیدلي حالات د یادښتونو په توګه ولیکم . دامې ارزو وه چې که دخدای (ج) رضا وه یوه ورځ به دغه یاد ښتونه یوځای کوم اودرنو لوستونکو ته به یې دتاریخي واقیعتونو په توګه وړاندې کوم .

داکتاب مې د ۱۹۹۲ م کال دمی میاشتې په دربیمه نېټه پیل کړی و خو دژوند دستونزو اوکاري مصروفیتونو له امله یې زیات وخت ونیو خوبیا هم دلوی الله پاك د دربارنه راضي یم چې ماته دافرصت اوس په لاس راغی چې دخپلو یاد ښتونویوه ببلګه درنو لوستونکو ته وړاندې کړم .

البته دتېروځه دپاسه دوه نیمو لسیزو په اوږدو کې درنو لیکوالانو دافغانستان دپېښو په هکله ډېرې مقالې او لیکنې کړي چې هر یوه یې په خپل ځای دقدر وړ دي، اما ما دا ضروري وګڼله چې دجهاد خاطرې دمومندو لښکر او دخاص کونړ په ولسوالۍ کې دجهاد پیل په هکله د خپلو سترګو لیدلې پېښې ولیکم او دا به هم په خپل وار د افغانانو دتېرو دوه نیمو لسیزو دناورین یوه بېلګه وي . که څه هم زه لیکوال او ادیب نه یم خوهځه مې کړې چې زما لیکنې عام فهمه وي او په اصطلاح په خپله کلیواله ژبه مې لیکلي دي. که زما په لیکنو کې څه ادبي انشائي او یا املائي غلطي وي، هیله کوم چې درانه لوستونکي به مې وبښي.

ددې کتاب په چاپ کې دګران ورور مجیب الرحمان لحاظ څخه مننه کوم چې په خپلو هنرمندو ګوتو یې زما لیکنو ته کتابي بڼه ورکړه.د ښاغلي پیکار صیب دې هم کور ودان وي چې دکتاب په ډیزاین او صحافت کې یې زیات کوښښ کړی او زما غلطۍ یې اصلاح کړي دي.

په مینه اودرنښت
شاه محمود میاخېل
کابل _ دقمبر فامیلي څلور لاری
۱۶\ اکتوبر\۲۰۰۶ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست :


دا خاطرې :
الف
سریزه :
ج
لومړی څپرکی (دثور دکودتاه ننداره اوپیل) ۱

دویم څپرکی(دثورکودتا څخه وروسته لیدلې پیښې ) ۱۲

دریيم څپرکی (دهجرت کولو نیت او تیاری )
۲۲
څلورم څپرکی ( په خاص کونړ کې دجهاد پیل ) ۳۸

پنځم څپرکی (**په خاص کونړ کې زمونږ د هجرت او جهاد د پیل لومړۍ مرحله** )
**۴۵**

شپږم څپرکی ( دمومندو لښکر)
۶۷

اووم څپرکی (په خاص کونړ کې د جهاد دویمه مرحله ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم څپرکی (**د برچنچن څخه پېښور ته هجرت)** ۱۰۷

نهم څپرکی ( په پېښور کې دتنظیمونو جوړیدل )
۲۴

لسم څپرکی (خاص کونړ ته د روسانو له راتګ نه وروسته
د جهاد لپاره تګ
۱۴۱

یولسم څپرکی (د وحدت المسلیمن ګوندونو جوړېدل ۱۵۶

دولسم څپرکی (د کچه ګړی په کمپ کې ژوند)
۱۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## دثور د کودتا ننداره اوپيل :

د ۱۳۵۷ لمريز کال په اوومه نېټه دخلق ګوند ، د نور محمد تره کي په مشرۍ ديوې خونړۍ کودتاه په ترڅ کې دسردار محمد داود خان رژيم نسکور کړ، زه په هغه وخت کې شل کلن او دکابل پوهنتون دکرهنې دپوهنځي د دويم کال محصل وم .

دثور په درېيمه نېټه دپرچم ګوند يوتن ، مير اکبر خيبر چې ووژل شونود هغه مړی يې دکابل پوهنتون دطب پوهنځی دعدلي طب ځانګې ته راوړی و ، د سې شنبې په ورځ چې دثور څلورمه نېټه وه ،سهار وختي له مرکزي ليليې نه دکرهنې پوهنځي په لوري خپلو درسونو ته روان وم چې زما دکوټې يوتن ملګري عبدالحميد چې دکامې دولسوالۍ اودخلق ګوند غړی و ،په مخه راغی ،له عليك سليك نه وروسته يې وويل چې خيبر صيب چاوژلی دی .

څرنګه چې ما په کوم سياسي ګوند کې غړيتوب نه درلود اونه خيبر په ملي سطحه کوم مشهور سړی و نو مايې هېڅ پروا ونه کړه او د درس لپاره ټولګي ته لاړم .پوهنځي ته چې ننوتم نو يوشمېر هم صنفيانومې چې خلقيان و راته وويل چې دخيبرجنازه ده ، دېرخلك به له ښارونواو اطرافونو نه ورته راشي ،راځئ !چې مونږهم ورشو .

تر دغه وخته مادپوهنتون په دوره کې کومه غونډه ياجلسه نه وه ليدلې حال داچې د داود خان د راتګ نه دمخه پوهنتون دسياسي فعاليتونو خورا فعال مرکز و خو د داود خان په وخت کې په ټولوسياسي فعاليتونو بنديزونه لږول شوي وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه ؤ چې فکر مې وکړ چې ښه ده باید سړی هرڅه دنږدې نه وګوري اوجنازې ته لاړشم .
کله چې مکروریانوته ولاړم ، چېرته چې دخیبر د جنازې ترتیب نیول شوی و ، هلته دخیبر د کور مخې ته په زرګونوکسان راټول شوي وو ، زما په یاد دي چې کریم میثاق چې دخلق ګوند غړی و او وروسته د ترکي په کابینه کې دمالیې وزیر شو ، دمکروریانو دیوه کور برنډې ته ورپورته شو او ډېره لنډه بیانیه یې ورکړه ، ورپسې بارق شفیعي چې دپرچم ډلې څخه و، خبرې وکړې او وې ویل چې جنازه نن معطله شوه . سباته یعنې دچهارشنبې په ورځ به دشهداء صالحین په هدېره کې خاوروته سپارل کېږي ځکه چې داطرافونه زمونږ ملګري نه دي را رسېدلي . دبارق شفیعي له خبرو څخه وروسته زیاد تره راغلي کسان خواره واره شول او زه هم دپوهنتون په لوري خپلې لیلیې ته وخوځېدم . دشپې له خوا دپوهنتون په لیلیوکې خلقیانو اوپرچمیانوفعالیت کاوه چې سباته باید زیات کسان په جنازه کې برخه واخلي .
دچهارشنبې په ورځ دهر پوهنځي مخې ته ډله ډله محصیلین ولاړ وو او هغه محصیلین چې دخلق یا د پرچم دګوندونو غړي نه وو ، دې ته هڅول کېدل چې په جنازه کې برخه واخلي . دخلقیانواوپرچمیانو دفعالیت په نتیجه کې زیات محصیلین جنازې ته ولاړل.
دوی غوښتل چې دخیبر د وژل کېدو نه سیاسي ګټه واخلي او دفوځي کودتا لپاره زمینه برابره کړي . همدا سبب وو چې دخیبر جنازه یې دوه ورځې معطله کړه ، حتیٰ ځینې کسان په دې نظر وو چې دخیبر د وژل کېدو توطیئه هم روسانو جوړه کړې وه چې د داود خان دحکومت اود خلق اوپرچم ترمنځ اړیکې خرابې کړي .
ما د لومړي ځل لپاره دخلق اوپرچم د ګوندونو مشران ، چې دزیاتو نومونه مې له مخکې څخه نه پېژندل ،له نژدې نه ولیدل.دخیبر جنازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکروریانو نه واخیستل شوه . په زرګونو کسان په جنازې پسې روان وو . په ډېرنظم او ارامۍ سره دامریکا دسفارت او ارګ ترمخه په داسې حال کې چې دامریکاپرضدیې شعارونه ورکول ، تېره شوله او ګڼونکونکي بلاخره له یوه اوږده مارش (لار یون) نه وروسته د شهداء صالحین هدیرې ته ورسېدل ، هلته چې جنازه خاوروته وسپارل شوه ، نودخلق دګوند مشر نورمحمد تره کی ، دپرچم دګوند مشر ببرك کارمل ، سلیمان لایق ، بارق شفیعي او دستګیرپنجشېري خبرې وکړې .

دخلق اوپرچم ډلو دروسانو د دباؤ او فشار په اساس ، د نورمحمد تره کي ترمشرۍ لاندې په ۱۳۵۶ لمریز کې ائتلاف کړی وو .حفیظ الله امین چې له اوردو سره یې زیات ارتباط درلود، پخپله دخیبر په جنازه کې ګډون نه ؤ کړی ، زه فکر کوم چې د دې علت به همدا وو چې دکودتاه لپاره یې تیاری نیوه.

دتره کي له خبرو نه مې یوه خبره په یاد ده . نوموړي د سردار محمد داود خان رژیم ته په ډاګه ګواښ وکړ او وې ویل : ((ددغه وینو بدل به په وینو اخیستل کېږي )) له ماسره سم دستي دا اندېښنه پیدا شوه چې دغه خلك (خلقیان) لکه چې روسانو په شاتپولي دي چې کودتاه وکړي او دمحمد داود خان رژیم رانسکور کړي ، ځکه د محمد داود خان غوندې مستبد واکدار ته په ډاګه اخطار ور کولو بله معنیٰ نه درلوده . وروستیو پېښو داثابته کړه چې د داودخان رژیم هم دظاهرخان د رژیم په څېر ویده او بې خبره وو، ځکه دغه ګواښ یې ډېر جدي ونه ګاڼه او یوائې دیو څوکسانو په بندي کولو یې اکتفا وکړه .

دشپې له پلوه مو دکابل رادیو څخه واورېده چې :نورمحمدتره کی ، ببرك کارمل او د خلق اوپرچم د ګوندونو یوشمېر غړي دامنیتي قواؤ له خوا نیول شوي دي . د کابل پوهنتون په لیلیه کې د دې خبر په اورېدلو سره خلکیان اوپرچمیان ډېرخپه اومایوسه شول ، یوشمېرمحصلین بې تفاوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو اویو شمېر محصلین چې دخلك او پرچم پر ضد یې په نورو سیاسي ډلوکې برخه درلوده ښکاره خوښي کوله او حتی په ځینو کوټو(خونو) کې د محصیلینو ترمنځ اخ و ډب هم وشوو.

زه په همدغه ورځ ماښام ،یعنې دثور په شپږمه نېټه دارالامان سره نژدې ، قلعهٔ بختیارته دخپل سانډو (باجه) جګتورن عبدالغفور کره چې د ریشخورو دفرقې دمدافع هوائي په غونډکې صیب منَصب و، ورغلم چې اوښی مې انجنیرمحمدنعیم چې تازه دخاص کونړ نه راغلی ؤ وګورم .

انجینیرمحمدنعیم په دغه وخت کې دشین ډنډ په هوائي ډګرکې دمخابرې انجینیر ؤ او د رخصتي لپاره کونړ ته تللی و .

جګتورن عبدالغفور اندېښمن ښکاره کېده او ماته داپته نه وه چې دی هم دخلك ګوند غړی دی ،د ماښام په ډوډۍ ناست وو چې دکور ور چا وټکاوه . نفرخدمت چې دروازې ته ورغی نو بېرته یې ژر احوال راوړ او جګتورن عبدالغفور ته یې وویل چې جګتورن انځرګل تا غواړي نوموړی چې دشینوارو دسیمې اوسېدونکی او خلکی و ، دثور دکودتاه نه وروسته په دفاع وزارت کې د توپچي قواؤ دعمومي قوماندان په حیث د ډګرجنرالۍ په څوکۍ مقرر شو انځر ګل او عبدالغفور پوره وخت له دروازې نه بهر په پټو خبرو تېر کړ . ډوډۍ مخ په خلاصېدو وه چې عبدالغفور را ننوت . مونږ ترې پوښتنه وکړه چې انځرګل څه شو ، هغه وویل چې د انځرګل څوك مریض و او څه پیسې یې په کار وې نو بېرته په عاجله توګه لاړ . ماته وروسته پته ولګېده چې په دغه شپه جګتورن انځرګل ، جګتورن عبدالغفور ته دکودتاه په کولوکې د دندې ورسپارلو خبر راوړی ؤ .

زه دپنجشنبې په ورځ چې د ثور اوومه نېټه وه ، سهار وختي پوهنتون ته دخپلو درسونو په لوري وخوځېدم اومحمد نعیم سره مې چې شین ډنډته روان وو ، وعده کېښوده چې ماسپښین په یوه بجه به دپل باغ عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

سره نژدې په ارین هوټل کې ګورو، دکورنه د وتلو په وخت کې عبدالغفور راته وویل که نن ماښام کورته راشې نوښه به وي ځکه چې زه نن شپه په فرقه کې نوکري يم او په کورکې څوك نشته دي، ماورته ښه وکړه اوترېنه لاړم .

له وعدې سره سم په دولس نيموبجو پل باغ عمومي ته لاړم ، ارين هوټل ته پاو کم يوه بجه ورسېدم ، په همدې وخت کې محمد نعيم هم راغی يوه شېبه په هوټل کې کېناستو ،هغه راته وويل چې راځه ميوند جادې ته به لاړ شوو اوهلته به دکوم ترانسپورت نه دشين ډنډ لپاره دتلو ټکټ واخلم .

څنګه چې دهوټل نه راووتو دکابل دښار هوا اوفضا راته بل رنګ ښکاره شوله ، دوه جينکۍ مو ولېدلې چې په تلوار د مطبوعاتو د وزارت لخواد پل باغ عمومي په لوري دبسونو تم ځای ته رواني وې او سخت يې ژړل . په همدغه شېبه زمونږ ترغوږونو هم د ماشيندارو دډزونو اواز راورسېد ، کله چې مونږ دبسونو تم ځای ته ورسېدو چې ميوند جادې ته په بس کې لاړ شو ، بسونه نه وو ، هماغه و چې دواړه دکابل دسيندنه دعائشه دراني دښوونځي په لور پورې وتلو او دهغه ځای نه ترميوندجادې پورې پلي لاړو . دملګرو ټرانسپورت دفتر ته لاړو چې شين ډنډ ته دبسونو دتګ نه ځانونه خبرکړو . دټرانسپورت مؤظف مامور وويل چې يوساعت دمخه زمونږ يوبس دلارې نه فوځي قواوو راګرځولی او وضع خرابه ده ، معلومه نه ده چې څه قصه ده . تاسې دوه درې ساعته وروسته پوښتنه وکړئ ، په همدې شېبه مو يو فوځي ټانك (زهريدار ) دميوند په جاده کې وليد چې په ډېره چټکۍ سره د حضوري چمن په لوري روان و ، محمد نعيم راته وويل چې داسې ښکاري کودتاه روانه ده ، بېرته دپل باغ عمومي په لوري وخوځېدو ګوندې داچې کوم بس پيداکړو او دارالامان ته لاړشو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمازدیگر درې نیمې بجې به وې چې مونږ پل باغ عمومي ته ورسېدو . په دغه شېبه د ډزو غږونه زیات شوي وو ، بسونه نه وو ، یوشمېر خلك د ارگ جنوبي خواکې لاهم دکابل هوټل ترمخه ډله ډله ولاړ و . مونږ هم دارگ سهیلي (جنوبي) خوا په لوري وخوځېدو چې ځان د احوال څخه خبر کړو ، کتل مو چې یوشمېر عسکرو د ارگ سهیلي دروازې او عمومي سرك ترمنځ په دواړو خواوو کې موضع گانې نیولي وې اوپه خپلو منځوکې دکارتوسو شاجرونه وېشي .

څرنگه چې داسې پېښې دکابل اوسېدونکوته عجیبه غوندې ښکارېدلې نو په سلگونو خلك د فوځیانو د ننداري لپاره ولاړ وو .

اکثریت کسان نه پوهېدل چې څه خبره ده اوجریان په کومه خوا روان دی او دکودتاه په سرکې څوك دی . مونږ هم دکابل هوټل دروازې ته نژدې شوو ، له ورایه مو ولیدل چې دپښتونستان واټ او د کابل هوټل د دروازې ترمنځ دپولیسو په موټروکې مړي پراته دي . وروسته معلومه شوه چې دپولیسو یوه قطعه (گروپ) دکورینو چارو دوزارت له خوا دکودتاه چیانو پرضد دغې سیمې ته لیږل شوې وو او له فوځیانوسره داخ وډب په پایله کې ووژل شو، په دغه وخت کې یوشمېر جنگي جیټ الوتکې راورسېدلې او په ارگ باندې دیوې دورې وهلو نه وروسته یې په بمباري پیل وکړ، محمد نعیم چې په هوایي قواوو کې دمخابرې انجینیر و ددغو الوتکو په لیدو یې راته وویل چې د دغه الوتکو پیلوټان دلومړي کلاس پیلوټان دي اوتازه دشوروي اتحاد نه راغلي دي او داسې ښکاري چې دکودتاه په سرکې خلکیان دي .

دغه شېبه چې تقریباً دمازدیگر څلوربجې کېدونکې وې ، دپښتونستان واټ له پلوه ، فوځیانو په ملکي خلکوباندې چې دسیل لپاره راټول شوي وو ، هوائي ډزې وکړې ترڅو دوی خواره شي ، مونږ سمدستي دزرنگار پارك په لوري وخوځېدو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزرنګارپارك سره نژدې مو دخاص کونړ دولسوالۍ دچندراو دکلي لومړی بریدمن هدایت الله چې په (تك) مشهور و ولید هدایت الله په بالاحصارکې صیب منصب و او هم یې د داودخان په استخباراتوکې کار کاوه، خو په دغه وخت کې په شخصي جاموکې د بایسکل سره ولاړ وو او دحالاتو ننداره یې کوله . موښږ هم دهغه سره دستړي مشي نه وروسته یوڅه شیبه ودرېدوو ،هغه سمدستي وویل ګورئ چې دا مرتجعین (دخلك دډیموکراټیك ګوندمشران) به ډېرژر په سزا ورسول شي . دکودتاه دبریالیتوب نه وروسته هدایت الله دخلکیانو له خوا ونیول شو او له هماغه وخته تراوسه پورې بې درکه دی .

څه دپاسه څلور بجې کېدونکې وې چې ډېر سخت باران پیل شو ، ماښام هم نژدې کېدونکی و او جګړه مخ په تودېدو وه نو موږ نیت وکړ چې له ښار نه باید ووځوو او دعبد الغفور کورته باید لاړ شو ځکه چې ماورسره وعده کړې وه چې ماښام به زه کورته درشم .

موښږ چې کله بېرته پل باغ عمومي ته ورسېدو ، دکوم موټر یاسروېس هیڅ پته نه لګېده او یوزیات شمېر خلك بسونو ته د انتظار په حال کې ولاړ وو . دلنډې شیبې نه وروسته یوملي بس چې (۳۰۲ ) یې ورته ویلې راغی .

د داودخان درژیم په اخرو کلونو کې نوي بېنز بسونه د المان د اتحادي جمهوریت څخه لېږدول شوي وو چې **۳۰۲** (سه صدوسه) یې ورته ویلې او دښاري بسونو په شکل د ملي بس ترانسپورت ریاست په جوکاټ کې چلېدل . په ډېرتکلیف مو په دغه ملي بس کې ځای پیداکړ . تصادفاً دغه بس د دارالامان په لور روان و ، په لاره کې د دهمزنګ سره یوشمېر فوځي ټانګونه دسرك په خوا اوشاکې ولاړ و چې دتوپونو خولې (میلونه) یې د دارلامان په لوري سم کړي وو . دارالامان څلور لاري ته چې نژدې شولو ومو لیدل چې یوه لویه قوه د ریشخورو د فرقې نه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېدلې او دسرك په دواړو خواوو کې یې مورچې نیولې دي او دټانکونو دمیلونو خوا یې د دهمزنګ په لوري وه ، دغه قوه دکودتاه چیانوپرضد راخوځېدلې وه او زمونږ بس ته یې اجازه ورنه کړه چې نور مخکې ولاړشي ، د بس نه راکوز شوو او دبختیار کلا په لوري پیاده وخوځېدو .

دبختیار کلا سره نژدې په یوه غولي (میدان) کې دکلي یوشمېر کسان راټول شوي وو او دجګړې ننداره یې کوله او هم یې په حالاتو باندې تبصرې کولې ، مونږ هملته ودرېدو او په قواې مرکز کې مو دجګړې د ډزو اواز ته غوږ ونیوه ، جګړه شېبه په شېبه تودېدله چې بلاخره دماښام اووه (۷ ) بجې کېدونکې وې ، دکابل په ښاربانديې د ماښام دتورتم څپې دظلم، وحشت او استبداد دڅپو سره یوځای مخ په خورېدو وې .ما اومحمد نعیم نیت وکړ چې ښه به داوي چې کورته لاړشوو او رادیوګانو ته غوږ ونیسو چې څه خبره ده او حالات په کومه خو روان دي .

دجګتورن عبدالغفور کورته چې ورغلو سمدستي مو رادیو را وخیستله او دکابل رادیو څپې مو پیداکړې . دکابل رادیو دعادي خپرونې پر ځای موزیك چالان وو ، له یوې شېبې موزیك نه وروسته نطاق وویل چې اوس به دافغانستان د اردو دمسلحو قطعاتو له خوا اعلامیه واورئ . ویل کېږي چې حفیظ الله امین په خپله په دې شېبه کې نطاقي کوله . اعلامیه د ډګروال عبد القادر او اسلم وطن جار له خوا ولوستل شوه ، دواړو وویل چې قدرت د اردو د یوې انقلابي شورا لاس ته ورغلی دی. ټول فوځي قطعات باید د انقلابي شورا د اعلامیې سره سم خپل ملاتړ اعلان او دمخالفینوحرکت په هرځای کې چې وي شنډکړي .

تر دغه وخته ما نه د ډګروال عبدالقادر نوم اورېدلې و او نه د اسلم وطن جار. محمدنعیم چې دهوائي قواوو صیب منصب وو راته وویل چې ډګروال عبدالقادر دهوائي اومدافع هوائي قواوو مرستیال دی ، اصلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفراه ولایت دی او د داود خان په کودتاه کې یې هم مهم رول درلوده ، خو هغه هم اسلم جار نه پېژنده.

شپه مو تقریباً ټوله په ویښه تېره کړه. دنړۍ رادیوګانې مو دیو بل پسې اورېدلې ، ټوله شپه جګړه په پوره شدت سره د دارالامان په دوه لارې او دقوای مرکز په شا او خوا کې روانه وه ، ټوله شپه مو د درندو وسلو د ډزو اوازونه اورېدل چې همدې کې دسباؤن رڼا وختله ، دسهار د۹ بجو اودېرش دقیقو پورې د دارالامان په شاوخواکې سخته جګړه روانه وه . د بختیار کلا اکثریت خلك دکوټو سرونو ته ختلي وو او په دارالامان کې یې د جګړې ننداره کوله ،په دې وخت کې یو لویه الوتکه راغله ، محمدنعیم راته وویلې چې دا اکتشافي الوتکه ده او ددې نه وروسته کېدای شي چې ډېره سخته بمباري وشي ، هماغه و چې دلسو بجوپه شاوخواکې چې دثور اتمه نېټه وه ، درې جنګي جیټ روسي الوتکې دیوبل پسې ګرندۍ را ورسېدې او د دارالامان په مانۍ (قصر) یې دوره ووهله او په دویم ځل یې اور غورځوونکي ګڼ شمېر بمونه د دارالامان په مانۍ باندې وغورځول ، د دارالامان د تاریخي مانۍ نه داور سرې لمبې پورته شوې ، لنډه شېبه وروسته دغم چوپه چوپتیا شوه او د ډزو اوازونه ورك شول .

د دغه بمبارۍ نه لږه شېبه وروسته ، دکابل رادیو سمدستي یوه اعلامیه خپره کړه او وې ویل چې سردارمحمدداود خان او سردار محمدنعیم دوه مستبد واکداران دخپلو شومو اهدافو لپاره تر اخرې سلګۍ پورې مقاومت وکړ خو دمرګ په سزا ورسېدل او د اردو قطعات په ټولو حالاتو باندې مطلق کنترول لري . ویل کېږي چې داود خان د دغې اعلامیې دخپرولونه وروسته هم ژوندی و او د ارګ په دننه برخه کې یې تر ماسپښینه پورې مقاومت کاوه ، څرنګه چې دکودتاه دپیل په لومړۍ شېبوکې دکابل رادیو دکودتاه چیانولاس ته ورغلی وه نو په خپله ګټه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ترې سم تبلیغات پیل کړل ترڅو د داودخان او دهغه د پلویانو فعالیت چا چې د مقاومت خیال یې درلوده شنډکړي . دشنبې په ورځ چې دثور نهمه نېټه وه دکابل رادیوله لارې ټولو دولتي مامورینواو د کابل ښاریانو ته اعلامیه خپره شوه چې خپل کارونه په عادي توګه دمخکې په شان سرته ورسوي ، زه هم دکابل پوهنتون په لوري وخوځېدم . د دارالامان په څلور لاري کې مو یوشمېر ټانکونه ولېدل چې سوځول شوي و خو نور وضعه عادي وه . همدا شان د ارګ مخې ته هم یو شمېر ټانکونه سوځول شوي وو چې په کودتاه کې د وژل شوو کسانواثار په کې لېدل کېدل چې په ټانګونوکې ژوندي سوي وو ، دبعضې عسکرو اوصیب منصبانو د جامونښې دونو په څانګو کې نښتې وې ، د کابل پوهنتون وضعه هم ارامه ښکارېدله . نورمحمد تره کی د انقلابي شورا د مشر او د جمهور رئیس په توګه را څرګند شو ، دخلقیانولمړنۍ کابینه اعلان شوه . عام خلك چې دخلکیانو اصلي څېره ورته نه وه معلومه ،غلي او ارام ښکارېدل او د دې انتظار یې کاوه چې دوی څه کوي .یو شاعر وایي :

چې اصلي څېره دچا ښایي هرچاته<br>
اقتدار دی اقتدار دی اقتدار دی

## دویم څپرکی

### دثورکودتاه څخه وروسته لیدلې پېښې :

دخلقیانو او پرچمیانو اصلي څېره ورځ په ورځ خلکوته څرګندېدله دخلکیانو د رژیم دراتګ سره سم ټولې مهمې او حتی ډېرې عادي دندې او دولتي چوکۍ دخلك دګوند په غړو باندې بې له دې چې دچا اهلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کفایت په نظرکې ونیول شي ووېشل شوې ، ډېر عادي کسان چې هېڅ اداري تجربه یې نه درلوده په لویو اومهمو عهدو وګمارل شول دبېلګې په توګه زمونږ دفاکولتې یو اسسټنټ یاسین محسني دپوهاند ډاکتر عبدالقهار ثمین پر ځای دکرهنې دپوهنځي رئیس شو .
خلکیانو به هره ورځ د افغانستان په ګوډ ګوډ کې غونډې کولې ، د عدالت او مساوات په نامه به یې تش په نامه شعارونه ورکول .
له دې نه خبر نه وو چې ایا دولت یا حکومت د دې وسه لري او که نه چې د دغه غونډو او لویو مارشونو مصارف پرې کړي ، دغه غونډې چې دوی ورته مارشونه ویل زیاتره په درسي مرکزونو او کارګري مؤسسو کې جوړېدې اوهر سړی به ورته په جبري توګه مجبور وو چې لاړ شي ، همدا علت و چې په داسې مرکزونو کې تعلیمي سطحه راټیټه شوه او دتولیدي دستګاوو په تولیداتو کې پوره کمښت راغی ، د بېلګې په توګه دکودتاه نه دمخه زمونږ یومضمون به تقریباً پنځه سوه مخه ویل کېده خو دکودتاه نه وروسته دمضامینو زده کړه پنځوس مخوته را ټیټه شوه .
د ثور دکودتاه په لومړۍ اوونۍ کې یو ورځ چې غالباً دسې شنبې ورځ او د ثور یولسمه نېټه وه مونږ دکرهنې پوهنځي دلیکچر په ټولګي کې ناست او د Micro Biology دمضمون ساعت ووچې یومسلح صیب منصب ټولګي ته راننوته او زمونږ استاد ، پوهندوی ډاکترعبدالرشید جلیلي یې دټولګي نه ووېسته اوپه یوه روسي جیپ موټر کې چې د باندې ولاړ و یوړ . ټول محصلین چې په ټولګي کې حاضروو ډېر زیات خپه شول چې ګوندې زمونږ استاد ئې بندي کړ ، ماته هم پته نه وه چې جلیلي خلکی دی ځکه په هماغه کال ده ، تازه له روسیې څخه ډاکتري اخیستې وه او زمونږ استاد شوی وو ،نو زه هم ډېرزیات خپه شوم ، یو خو مو استاد و اوله بله پلوه زمونږ سیمه وال یعنې دکونړ دڅوکۍ ولسوالۍ و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سبا ورځ دپوهنتون ټول محصلین او استادان راټول کړای شول او وویل شول چې دپوهنتون نوی رئیس مقرر شوی او دوی باید دهغه دهرکلي لپاره ورشي ، کتل مو چې جلیلي په تورموټر کې سپور و ، دباډي ګارډانوسره یوځای راغی او دپوهنتون دریاست څوکۍ یې اشغال کړه .
دوی کولی شول چې بې له دې چې مسلح عسکر یا صیب منصب ټولګي ته ولېږي او یواځې دټیلفون یا کوم مکتوب په واسطه جلیلي ته دپوهنتون دریاست څوکۍ وسپاري ځکه چې د نورمال حکومت تقرر او تبدیلېدل په دې شکل نه وي چې مسلح صیب منصب یوې تعلیمي ادارې ته ولیږي او منتخب شخص ته څوکۍ حواله کړي .
دخلکیانو دقدرت ته درسېدو له لومړۍ ورځې څخه دخلکو توهینول ،بندي کول او وژل پیل شول . ټول سپین ږیري ،مشران ،دولتي مامورین او حتیٰ ډېر عادي کسان چې دخلك دګوند غړي نه وو ،دخپل سرنوشت په هکله اندېښمن وو ، دکابل پوهنتون په داخل کې د محصیلینوپه نیولو پیل وشوه د ۱۳۵۷ د دویم تعلیمي سمستر په اخرکې یوه ورځ د فارمسي دپوهنځي د دویم ټولګي ټول محصیلین ونیول شول او دپوهنتون په جمنازیوم کې واچول شول ، اکثریت محصلین په یوه کمیس کې ټولګیوته تللي وو او دمني ډېره سخته یخني وه .هېچا ته اجازه نه وه چې دوی ته کمپله یاګرمې جامې وروړي ، محب الله چې زما خوریی و هم د دغه محصلینو په ډله کې و ، ده راته کیسه کوله چې د دوی ګناه داوه چې دوی نه غوښتل چې د دوه مضمونونو امتحان په یوه ورځ ورکړي ، هماغه و چې له دویمې شپې وروسته د ژاندارم او پولیسو عمومي قومندان ، داودتړون راغی او ټولو محصلینو ته یې په ډاګه وویل چې زمونږ دکار ګري انقلاب په مقابل کې دپوهنتون دشل زره محصلینو ژوند هېڅ ارزښت نه لري . دټولو محصلینو نه یې لیکلي اسناد واخیستل چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې دوی بیا داسې عمل وکړي نو سزا به یې بې له مرګه بل څه نه وي .

ورستیو کلونوکې په ثبوت ورسېدله چې دپوهنتون شل زره کسان نه بلکې د افغانستان پنځه لس میلونه نفوس هم خلکیانو اوپرچمیانو ته هېڅ ارزښت نه درلوده او په لکونو بې ګناه انسانان یې په ځانګړې او ډله ایزه توګه دهېواد په ګوټ ګوټ کې په ډېره بې رحمۍ سره ووژل چې ژوندي مثالونه یې د ۱۳۵۸ کال په پسرلي کې دکونړ ولایت مرکز چغه سرای ته نژدې دکرالي کلي دسلګونو انسانانو وژل دی چې نیم ژوبله یې په بېلدوزرونو باندې د خاورو لاندې کړل . د نوموړو کسانو مړي په دوه ځایونوکې دخاورو لاندې راښول شوي دي ،کله چې زه په **۱۹۸۹** م کې دکونړ مرکز چغه سرای ته وروسته له دې چې روسانو کونړ پرېښود ، ورغلم دمړو دغه غونډۍ مې په خپلو سترګو ولیدلې .
بل مثال یې د **۱۳۵۷** کال دحوت په **۲۴** مه نېټه دهرات دخلکو عمومي قیام وو چې په ډېره بې رحمۍ سره دخلکي رژیم له خوا وټکول شول چې دشهیدانو تعداد یې زرګونو کسانوته رسېده. خلکي رژیم به هره ورځ په سلګونو بې ګناه انسانان په یوه اوبله پلمه نیول او دهېواد په بېلابېلو سیموکې یې ورته د وژل کېدو قصاب خانې چې دوی به ورته پولګونونه ویل جوړ کړي وو ، هلته په ډېره بې رحمۍ سره له منځه وړل کېدل .
دثور دکودتاه نه وروسته د افغانستان د ټولو پرګنو عادي ژوند ورځ په ورځ مخ په خرابېدو وو او هېڅوا په کور کې تر سبا ارامه خوب نه شو کولای او هرسړی اندېښمن و .
زه هم دخپل پلار په هکله ، سیدمحمود(حسرت) چې دتخار په ولایت کې د احصائیې مدیر و ، اندېښمن وم چې ګوندې هغه هم دزیاتره نوونورو مامورینو په شان ونه نیول شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

د **۱۳۵۷** لمریز دجوزا په اخره کې یوه ورځ په لیلیه کې ناست وم چې د دروازې مؤظف نفر احوال راوړ چې بېرون دې څوك غواړي ، څنګه چې بېرون ووتلم ، کتل مې چې زما پلار او دتره زوی ارواښاد سیدعبدالقهارنیازمن[1] ولاړ دی . د دواړو په لیدو ډېر زیات خوشحاله شوم او دستړي مشي نه وروسته ، نیازمن صیب راته وویلې: ځه چې کورته لاړ شو اوهلته به خبرې وکړو . ماته پته نه وه چې دی هم دخپلې وظیفې نه په ډه ډه شوې او کابل ته دخپلې کورنۍ سره راغلی دی .
نیازمن صیب اوپلارمې راته دکندهار او تخارپه ولایتونو کې د نوي رژیم دچال چلند ، ظلم او استبداد په هکله چې دسیمې دمخورو او پخواني مامورینو سره شوې وې تفصیلي کیسې وکړې. دبیلګې په توګه پلارمې وویل چې عادي کاتب دتخار دمستوفي په ځای مقرر شو . دپخواني مستوفي تخلص رحمتي و کله چې دولایت مامورین دنوي مستوفي سره یو ځای په نوې کرسۍ باندې دکېناستولپاره ورغلل نو یو تن ورته پخوانی

---

[1] - ارواښاد سید عبد القهارنیازمن زمادمشرتره ارواښاد سید محمد د عثمان مشرزوی و چې دپغمان دشرعیاتو د دارالعلوم نه فارغ شوی او دخلکیانودراتګ په وخت کې دکندهار ولایت د اداري چاروعمومي مدیرو ، دکودتاه نه وروسته سمدستي دخپلې وظیفې نه په ډه ډه شو . د**۱۳۶۳** کال دجدي دمیاشتې په **۲۹** مه نېټه دکابل دکلا غیبي په سیمه کې په خپل کورکې دقلبي حملې له امله په حق ورسېد . (اناالله واناالیه راجعون) ارواښاد نیازمن صیب زما خصوصي استاد هم و ، خو را حلیم ،جواد اومیلمه دوست انسان وچې دنوموړي مرګ زمونږ دکورنۍ لپاره یوه لویه ضایعه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستوفي معرفي کړ چې دا رحمتي صیب دی . نوي مستوفي ورته په ځواب کې وویل چې رحمتي نه دی بلکې لعنتي دی . د دې خبرې سره مونږ ټول مامورین هك پك شوو هېچا دځواب ورکولو جرئت نه درلوده ځکه سمدستي یې ژوند په خطر کې و . پلارمې وویل چې په تېرو دېرش کلونوماموریت کې ده داسې وضعه نه وه لیدلې چې دیو برطرف کړای شوي مامورسره دې وشي .

پلار مې وویل چې زه اوس کابل ته دیو سیمنار لپاره راغلی یم او بېرته دستنېدو سره خپل ژوند په خطر کې ګورم او له دندې څخه لرې کېدل خوحتمي دی . خلقیانوته مونږ او زمونږ کورنی هېڅ دقبول وړ نه دي اودخپلو دښمنانو په لومړي قطار کې یې شمېري ځکه چې مونږ دمیاعلي صیب (رح) [۱] لمسي یوو او دروحاني کورنیو له منځه وړل دخلکیانو دپروګرامونو لومړی پړاو دی ځکه دوئ د دین اومذهب په خلاف دی . دوی ټول مسلمانان په عمومي توګه او میاء ،ملا.پیر او سید په خاصه توګه په لومړي مقام کې خپل دښمنان بولي ، مونږ باید هجرت وکړو ځکه چې په افغانستان کې زمونږ ژوند سل په سلو کې په خطر کې دی ، په دغه وخت کې دکونړ ولایت دکامدېش او پېچ په سیمو کې دحکومت په ضد مسلحانه قیام پیل شوی و او په کابل کې دا اوازې خپرېدې چې نن اوسبا کودتاه کېږي . دافغانستان په مختلفو سیموکې مسلحانه قیامونه مخ په پراخېدو وو . نو نیازمن صیب او پلار مې تصمیم ونیو چې تر یوڅه وخته پورې باید همدلته واوسېږو ترڅو دهجرت کولو لپاره تیاری

۱ – د میاعلي صیب (رح) زیارت دجلال اباد ښار په ختیځه سیمه کې دڅمرخېلوپه کلي کې موقعیت لري . نوموړی زیارت دافغانستان په مشرقي سیمه کې یوله مشهورو زیارتونو څخه دی چې هره ورځ ورته په لسګونوکسان د زیارت کولو لپاره ورځي ، د میاعلي صیب زیارت دلېونو په ښه کولو کې خاص شهرت لري چې له ډېرولرې ځایونو څخه ورته خلك لېوني راولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسو ،کېدی شي چې دخلقیانو حکومت پرضد کودتاه وشي او له منځه لاړشي ، ځکه چې هجرت کول او دخپل ملك دپرېښو دلو تصمیم دیو نامعلوم سرنوشت په لوري څه اسانه کار نه و .

پلار مې دسیمنار نه وروسته تخار ته بېرته ستون شو خو د رسېدو سره سم دتخار څخه نیمروز ته تبدیل کړی شوی و .پلار مې کیسه کوله چې په دفتر کې ناست وم چې غیاث [۲] د باډي ګارډانو سره دفتر ته راننوت ، لومړی چې ما باډي ګارډان ولیدل نو وار خطا شوم خو چې غیاث مې ولید نو سمدستي یې دستړي مشي نه وروسته راته وویل چې کاکا راځه، تا نوي والي ته معرفي کړم چې څه درته ونه وایي ، نو ما ترې پوښتنه وکړه چې په څه وظیفه مقرر شوی یې. هغه وویل چې زه د مصؤنیت ملي عمومي مدیر مقرر شوی یم اوپه ډاډه زړه کار کوه تر څو چې زه یم څوك درته څه نه شي ویلی ، د تخار نوی والي فضل الرحمان نومېده او پرچمی و ، دکار تجربه یې درلوده ځکه چې دفاکولتې نه خلاص شوی و او مخکې هم حاکم(ولسوال) په توګه دنده اجرا کړې وه .

پلار مې دغیاث دمعرفي کېدو په وجه د نیول کېدوڅخه خلاص شو خو نیمروز ته تبدیل کړ ی شو د **۱۳۵۷** لمریزکال دسرطان په میاشت کې نوموړي ولایت ته لاړو.

پلارمې راته دنیمروزدتګ نه مخکې وویل چې زه ژر بېرته راځم او تاسې باید ځانونه تیارکړئ چې پاکستان ته هجرت وکړو . نوموړی داسد په

۲ _ غیاث حقمل دسید ا ګل زوی دخاص کونړ دولسوالۍ دکاویړ کلي اوسېدونکی و چې دخلکیانو د کودتاه نه مخکې دمیدان په ولایت کې مامور و او وروسته دقطغن (بدخشان،تخار،کندوزاوبغلان) دمصؤنیت ملي چې وروسته یې ورته خاد وایه عمومي مدیرمقرر شوی و ،دغیاث پلار زما دپلار د وړکتوب ملګری او هم د ابتدائیه ښونځي کې ټولګیوال وو .

دواقعیتونو په بهیر کې

مياشت کې دنيمروزنه ، دپخواني دفتر دکتابونو د تحويلولو په پلمه کابل ته راغی .

په هغه دوستانو او خپلوانوچې موپرې اعتبار و چې زمونږ راز نه افشاء کوي تماس ونيوه چې بايد په ګډه هجرت وکړو ، په دغه وخت کې زما د مور له طرفه نيا چې دکونړ دميرزمان خان لوروه ، وفات شوله اوپلار ته مې هم بهانه برابره شوله چې خاص کونړ ته لاړ شي او په جنازه کې برخه واخلي هلته هم دبعضې دوستانو او خپلوانو سره دهجرت او په خاص کونړ کې دجهاد دپيل کېدو په ارتباط سلامشوره وکړي .

له بله پلوه زماخسر مولوي غلام حضرت [1] غوښتل چې سمدستي پاکستان ته هجرت وکړي نو پلار او خسر مې د تفاهم په نتيجه کې زما د واده دمراسمو دخلاصولو فيصله وکړه مخکې له دې چې پاکستان ته لاړشوو .هماغه وو چې د **۱۳۵۷** لمريز دعقرب په **۲۵** مه نېټه زما د واده مراسم په ډېر ساده شکل سرته ورسېدل .

معمولاً دکابل پوهنتون دجدي په اخره کې رخصت کيده خو په **۱۳۵۷** لمريز کې امتحانونه يوه مياشت رامخې ته شول او پوهنتون دقوس په اخر کې رخصت شو .

دخلقيانو رژيم پوهنتون ځکه يوه مياشت دمخه رخصت کړ چې دګوند غړي په اطرافونوکې دمحلي مامورينو سره د امنيت او هم دحکومت دپرله پسې فرمانونو په عملي کولو کې مرسته وکړي ځکه چې په اطرافونو کې دخلقيانو دحکومت پرضد تحريکونه مخ په پراخېدو و .

امتحانونه چې څنګه خلاص شول ، مخکې له دې چې نمرې اعلان شي دپوهنتون يوزيات شمېر محصلين چې دخلکيانو په فکر دوی به دررژيم پر

---

[1] – مولوي غلام حضرت داروابناد قاضي شېر حسن خان زوی او داروابناد محمد معظم اخون زاده لمسی دی چې زمادعمه زوی او استاد هم دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد اطرافونو کې فعالیت وکړي ونیول . په نیول شوو کسانو کې زموږ یو تن هم محمد طاهر دلالپورې ولسوالۍ چې تر نن پورې یې د ژوند هېڅ پته ونه لږېده شامل وو. ویل کېدل چې دنیول شوو محصلینو شمېر **۲۵۰** کسانوته رسېده او ټول په یوه شپه دپوهنتون په لیلیو کې ونیول شول . تصادفاً دغه شپه زه دنیازمن صیب کورته دخپل پلار دلیدو لپاره تللی وم . سباچې پوهنتون ته راغلم دمحصلینو دنیول کېدو نه خبرشوم ، بیا دلیلې په لوري ونه ګرځېدم اوبېرته دنیازمن صیب کورته لاړم او پلارمې دمحصلینو دنیول کېدو دجریان نه خبر کړ . پلارمې وویل څه چې جلال اباد ته لاړ شوو او هلته به دهجرت کولو په هکله تصمیم ونیسو ،دملنګ جان دا لاندې شعرراپه یاد شو چې دثور له کودتاه څخه وروسته دحالاتو ښه تمثیل دی چې دخلك رژیم غړو په زوره خلك راپارول چې مهاجرت وکړي او جهاد ته یې د دوئ پر ضد زمینه مساعده کړه .

وژني مې خپل ورور په ګولو دا دچالمسون دی
بې ګناه مې جوړ په کاله وار په وار شب خون دی
نوم د ازادۍ چې واخلم بیایې مې زندان ته
مال وملك ضبطېږي رانه دا په کوم قانون دی
زه د دنیا عدل او انصاف ته حیرانېږمه
ورك په سپین میدان ولې روا حق دپښتون دی
کله مسلمان پرمسلمان باندې تعدا کوي
نن چې داسې کېږي خو د بل په لمسون دی
خدای لپاره ورونوتمام قوم سره تړون وکړئ
یو یو تالا کېږو دا سبب مو دبېلتون دی
لاړشه ملنګ جانه پښتونخوا په غرو کې وژاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعيتونو په بهير کې

کار دلس وشل نه دی دا کار دشل میلیون دی .

## دریيم څپرکی

### دهجرت کولو نیت او تیاری :

مونږ د **۱۳۵۷** لمریز دحوت په اخرو شپو او ورځو کې جلال اباد ته لاړو اودحوت په ۲۷ نيټه چې دجمعې ورځ وه دملك محمد قاسم[۱] په کور کې مو دنژدې دوستانواو خپلوانو سره غونډه درلوده چې دهجرت کولو تصمیم ونیسو په دغه غونډه کې زما پلار، دخاص کونړ دچندراو کلي اوسېدونکی ډاکټر محمد صالح چې په دغه وخت کې يې دننګرهار په ځارنوالي کې وظيفه درلوده ، د ځارنوال محمد صالح د تره زوی ځارنوال محمد عاصم موسیٰ چې دننګرهار په عسکري فرقه کې ډاکتر و اودخاص کونړ قومندان غازي محمد خان دحاجي فرازخان زوی چې دجلال اباد په امنيه قومنداني کې يې وظيفه وه برخه درلوده .

---

۱– ارواښاد ملك محمد قاسم زما دترور زوی و چې دکامې ولسوالی د ده غازي دکلي اوسېدونکی او د محمد حسين علاقه دار زوی اودملك صالح محمد خان لمسی و چې د کامې ولسوالی له مشهورو منورينوله ډلې نه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پورته کسان دخاص کونړ په ولسوالۍ کې پوره دنفوذ خاوندان وو او کولای یې شول چې دحکومت پرضد مؤثر حرکت وکړي .
په همدغه شپه زما بل دترور زوی ضابط عبد الغفور خان دخاص کونړ دتنر دکلي اوسېدونکی چې په امنیه قومنداني کې نوکریوال ؤ خبر راوړ چې حاجي سیف الدین خان دښېوه ولسوالۍ خلقي حاکم چې حضرت یونس نومېده او دسرکانو ولسولۍ دبهر اباد دکلي اوسېدونکې و ، ژوندی نیولی او غره ته یې خېژولی دی، دغه خبر زمونږ روحیه نوره هم اوچته کړه او په دې فکر کې شوو چې مونږ هم باید دخاص کونړ په ولسوالۍ کې په شریکه توګه یو مؤثر اقدام دحکومت پر ضد وکړو .
د **۱۳۵۸** لمریز په سرطان کې چې کله مونږ دمومندو دلښکر سره یوځای جهاد پیل کړ ما حاجي سیف الدین خان د لومړي ځل لپاره ولیده .
حاجي سیف الدین دملااحمد دین زوی په قوم میټاخېل دی او دکونړ (ښېوه)دسربند په کلي کې یې استوګنه کوله. دسربندکلي دکونړپه سهیلي غاړه دبرکاشکوټ کلي ختیځ پلوته موقعیت لري ،مافکر کاوه چې حاجي سیف الدین به دسرکند دمیټاخېلو د نورو ملکانو په څېر عادي ملك وي او دعمر له پلوه به سپین ږیری وي خو کله چې ما حاجي سیف الدین ولید، نوموړی دځلویښتو کلونو په شاوخوا کې عمر درلود ،ږیره اوبرېتونه یې دواړه خریول، له صورته غټ اوباسکه (خوش اندامه)سړی و ، په سیاسي مسائلو ډېر ښه پوهېده او دپوره سواد خاوند و .
کله چې مادحاجي سیف الدین خان نه دحاکم دنیولو پوښتنه وکړه هغه راته ټوله کیسه په لاندې ډول وکړه :
دثورکودتاه نه دمخه ما دیو شمېر خلقیانو سره پېژندګلوي درلوده او حتی دځینو سره مې نژدې اړیکې هم درلودې نو په دې اساس دخلکیانو پروګرام او فلسفه راته ښه معلومه وه . کله چې دوی قدرت ونیو نو زه یې دحکومت سره همکارۍ ته دعوت کړم خو څرنګه چې ما د دوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیدتي اختلاف درلود ، دهمکارۍ نه ډډه وکړه ، خلکیانو به ویل چې زمونږ انقلاب په شانه ځي نوما به ورته ویل چې هر شی مخکې ځي هغه په شا هم ځي او ګورو به چې دچاخبره سمه ده ، حاجي سیف الدین وویل چې کله دښیوې ولسوال حضرت یونس دمیا ګل جان آغا دتګاو ننګور چې دسلام پور دپاچایانو خوړنه وه، ونیوله ډېر خلك پرې خپه شول او شخصاً په مایې هم ډېر بد تاثیر وکړ نو دځان سره مې تصمیم ونیو چې مخکې له دې هجرت وکړم نوباید داسې یوکار وکړم چې لا اقل د رژیم لپاره خو یو ګزاروی ، هماغه و چې دښیوه ولسوال ما پسې ځواب راولیږه چې دمصلحت لپاره د ښیوې ولسوالۍ ته راشه خو زه وره نه غلم او عسکر وته مې  وویل چې که دولسوال دماسره کاروي نو هغه دې پخپله دلته راشي ،  حاجي سیف الدین  وویل چې څرنګه د خلکي رژیم حاکمیت په ښبوه کې ټینګ و او هېڅ داسې حرکت نه و چې دهغوی سره وېره وي ،هماغه و چې ولسوال حضرت یونس د یو تن اداري مامور او دوه کسانو عسکرو سره زمونږ ځای ته په یو جیپ موټرکې راغی . حاجي سیف الدین وویل چې ولسوال مانه پېژنده او دمخکې نه مې هم لیدلی نه و ، زه ویده وم چې دکلي دخلکو اوازونه مې واورېدل چې راووتم ګورم  چې جیپ موټر  دکلي په مخ کې ولاړ دی او خلك ترې راچاپېر دي، ولسوال په جیپ موټر کې یوڅه امدادي چپلکې او بوټان هم راوړي وو ، حاجي سیف الدین وویل چې کله ما د جیپ موټر ولید چې د کلي په منځ  کې ولاړ دی ، غټان واړه او ښځې ترې چاپېرې دي ډېر بد تاثیر یې راباندې وکړ نوسمدستي مې خپلو هلکانوته وویل چې داخلك څوك دي او د دې ځای نه یې لرې کړئ .

حاجي سیف الدین زیاته کړه چې ولسوال زما دا خبره واورېدله نو وې ویل چې حاجي صیب زه دښیوې ولسوال یم نو ماهم خپله خبره واړوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورته مې وویل چې ماونه پېژندې ځه چې حجرې ته لاړشو او هلته به درته اولس راوغواړم .
حاجي سیف الدین وویل ولسوال سمدستي وویل چې حاجي صیب تاسې خونوي ولسوالان نه پېژنۍ ! دولسوال دغه خبرو زما په مغزوکې (سوچ اوفکر) داسې وانګېرله چې ګوندې زما د نیولو لپاره اراده لري نومخکې له دې چې ما ونیسي، زه باید دی ژوندی ونیسم ، حاجي سیف الدین وویل چې تر دغه وخته ماسره دولسوال دنیولو هېڅ خیال نه و او نه مې دچاسره مصلحت کړی ؤ ، کله چې ولسوال زموږ حجرې ته راغی او کېناست ما سمدستي خپل خسر بهرام اونږدې دتره زامن یوې جداخونې ته راوغوښتل اوورته ومې ویل چې زه ولسوال نیسم، ستاسې څنګه خوښه ده . دهغوی نظر چندان ښه نه ؤ او وې ویل چې کډې (کورنۍ) موځای پر ځای دي نولومړی باید خپلې کډې اوماشومان وکاږواو چې وروسته بیا ستا څنګه خوښه وي هغه به وکړو . حاجي سیف الدین وویل ما دوی ته وویل چې لومړی به ماشومان وکاږو نو بیا داسې کارنه شو کولای او همداښه موقع ده او زه حتمي ولسوال نیسم ، دهغوی هم بله چاره نه وه او مجبور شول چې زما خبره ومني ، ده زیاته کړه چې زما درې حجرې وې نو په یوه حجره کې مې درې کسه تکړه هلکان (ځوانان) کېنول اوزه دې بلې حجرې ته چې ولسوال پکې دخلکو سره په خبرو مشغول دی راغلم ، ټکنده (دولس بجې خواوشا ) غرمه وه په کورکې دننه ښځې اوماشومان هم زما دتصمیم نه خبر نه دي او د ولسوال لپاره یې دغرمې ډوډۍ تیاره کړې ده نوما ولسوال ته وویل چې زما دتاسره څه پټې خبرې دي که تکلیف نه وي نو هغه بلې کوټې (خونې) ته به لاړ شو ، هماغه ؤ چې ولسوال دځای نه راپاڅېد او هغه خونې ته لاړو چېرته چې ځوانان ناست وو څرنګه چې ولسوال کوټې ته ننوت په ځان پوه شو او صحنه یې خړه پړه ولیده نوسمدستي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمانچې (تفنګچې ) ته لاس کړ خومونږ پرې سمدستي متې تاو کړې او ومو نیو .
یوهلك مې ولیږه او هغه اداري مامورته وویل چې ولسوال دې غواړي دلته راشه هغه چې راغی او وې لیده چې په ولسوال مومتې تاوکړي دي نو حیران شو ، هغه مو هم بې وسلې کړ او همداشان مو دواړه عسکر هم را وغوښتل او دهغوی نه مو هم وسلې واخیستلې، سمدستي مو خپلوښځو اوماشومانوته وویل چې دغره په لوري وخوځیږي .
دحاجي سیف الدین دکور اوغره ترمنځ دنیم ساعت نه کم دپښو (پیاده) مزل دی . ولسوال ته مو وویل چې ځان ونه خوځوي اوکه حرکت دې وکړ وژنو دي ، دوی هم حرکت ونه کړ او زه لاړم دموټر ټایرونه مې پنچر کړل ، حاجي سیف الدین چې ډیر خوشتبه سړ ی دی وې ویل چې په دې وخت کې مې دکور هرڅه پریښودل او یوائې د واده بستره مې خپله په بوغبند (دبسترخادر) کې راټوله کړه او شاته مې واچوله ، یو چا راته وویل چې هر څه دې پریښودل نو په دې بستره څه کوې ؟ نوماورته وویل چې نه غواړم چې خلقیان زما د واده په بستره کې ځملي (ویده شي).
حاجي سیف الدین وویل چې دغه کارسره دکلي ولس هم هك پك (حیران) شوو او نه پوهېدل چې څه وکړي .
د ولسوال دنیولو نه وروسته د برکاشکوټ یو تن خلقی دښیوې ولسوالۍ ته چې دکونړ سیندنه پورې غاړه په شمالي برخه کې واقع ده خبر یوړ چې حاجي سیف الدین ولسوال غره ته وخېژوه نو دښیوې ولسولۍ نه یوګروپ خلقیان او هم دخاص کونړ فوځي کنډك نه یوه قطعه دحاجي سیف الدین کورته راغله او دهغه کور یې ټول تالا(چور) کړ .
حاجي سیف الدین وویل چې زه هم دولسوال په نیولو حیران وم چې څه پرې وکړم ، اداري مامور اوعسکر مې رخصت کړل اویوائې مې ولسوال سره دخوګاخېلو په لوري حرکت وکړ (خو ګاخیل دمومندو په قبایلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه کې یو ځای دی چې دښیوي،خاص کونړ او ګوشتې ولسوالۍ په منځ په یوه غرییزه نقطه کې پروت دی .) ده وویل چې زما هدف دا ؤ چې ولسوال به په خوګاخېلو کې دفقیر حاجي په کور کې وساتم ځکه هغه زمونږ د کورنۍ سره پخوانۍ دوستي درلوده ، په لاره کې ماحاکم ته ویلي ؤ چې ته به ځان نه معرفي کوي او که معرفي دې کړ نو بې له مرګه درسره بل څه نه کوم کله چې دفقیر حاجي کورته ورسېدم ، هغوئ هم د ولسوال دنیولو نه خبر و نو فقیر حاجي دسترې مشي نه وروسته وویل چې حاکم دې څه کړ . ماورته وویل چې هغه مې وختي پېښور ته لیږلی دی ،فقیر حاجي وویل چې دکابل دحکومت نه به مو پیسې اخیستې وي او ولسوال به مو خو شې کړی وي .

حاجي سیف الدین زیاته کړه چې زما نیت خو دا ؤ چې حاکم به دفقیر حاجي په ځای کې وساتم خو دهغه نیت مې چې ولیده نو بېرته دڅپري کلي په طرف وخوځېدم او هلته مې یو بل پخوانی دوست وچې اعظم[1] نومیده او ډېر ایماندارسړی ؤ ورغلم ، اعظم ډېر زیات غریب ؤ خو ډېر اوچت (عالي) همت یې درلوده ، ما اعظم ته وویل چې غواړم حاکم ستا ځای ته راولم ایا هغه ساتلی شې او که نه ځکه داسې نه شي چې دپیسو په بدل کې یې خوشې کړې ! اعظم راته په ځواب کې وویل چې خپله ښځه به پرېږدم خو حاکم به پرې نه ږدم ، اعظم یوه ډېره ژوره کوټه درلوده ولسوال موهلته بندي کړ او خپل ورور (معلم غلام محی الدین) مې هم مؤظف کړ چې د اعظم سره واوسېږي ، حاجي سیف الدین وویل چې اعظم ډېر

[1] – اعظم دکوز څپري دکلي اوسېدونکی ؤ چې په قام بوټی خېل ؤ چې وروسته دشخصي دښمنۍ له امله دخپلومدعیانو له خوا دخاص کونړ دمنګوال په کلي کې ووژل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چټ پټې (صادقه) سړی ؤ ، چل ول یې یاد نه و نو خپله ښځه یې را وغوښتله او هغې ته یې وویل چې داحاکم باید درنه څوك ونه ګوري او که درنه خلاص شو نو ته هم زمانه خلاصه یې !

د دې نه وروسته دکابل حکومت دمنشي سارګل [۲] په ذریعه ځواب راو لیږه چې حکومت به درته لس لکه افغانۍ در کړي او حاکم خوشې کړه خوما منشي سارګل ته بیرته ځواب ولیږه چې حاکم ما د میاګل جان آغا دننګور په مقابل کې برمته کړی دی ترڅو چې هغه نه وي خوشې شوې زه دا دپیسو په مقابل کې نه خوشې کوم برمته په مومندوکې عامه ده نو په دې اساس څوك داحق نه لري چې برمته په زوره دچانه خلاصه کړي او هر څوك کولای شي چې دبل په سر کې برمته وکړي او بیا دجرګې له لارې مسئله حل کړي.

حاجي سیف الدین وویل چې کله دبرمتې آوازه په مومندو کې خپره شوله نو هغو سپین ږیرو چې غوښتل یې حاکم په یوچل نه یوچل خلاص کړي خوله هم ټپه شوه .

ده زیاته کړه چې خلقیانو به ویل چې دوی خپل بادارانو (انګریزانو) ته لاړل نوما دځان سره تصمیم ونیو چې نه زه خپل فامیل پاکستان ته بیایم او نه حاکم پاکستان کې کوم تنظیم ته تسلیموم او په غره کې تر اخره پورې اوسیږم او خپل جهاد ته دوام ورکوم . حاجي سیف الدین وویل چې دحاکم نیول خو تصادفي کارؤ نو زما مشر زوی عبدالاحد چې اوس د قرآنکریم حافظ دی ، بهسودو سره نزدې دعبدالخېلو دقبائلو په ابتدائیه

[۲] – منشي سارګل دعیسی خېلو درې اوسېدونکی ؤ چې دکابل د رژیم سره یې د ورستیو کلونو پورې همکاري کوله چې بیا د ډاکټر نجیب دریژیم له خوا دقبایلو د وزارت معین هم مقررشو. منشي سارګل وروسته پېښور ته راغلی واو دیوې جرګې په منځ کې خپلو دښمنانو وویشته او مړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځي کې سبق وایه او هغه هماغلته پاتې شو او داتشویش راسره ؤ چې خلقیانو به هغه حتمي نیولی وي او کېدای شي چې حاکم مانه د هغه په بدله کې وغواړي خو دځان سره مې داتصمیم ونیو چې ترڅو دمیاګل جان آغا ننګور نه وي خلاصه شوې ترهغې پورې زه حاکم نه خوشي کوم او داسلام په خاطر دخپل زوی نه هم تېر یم . ده وویل چې په څپري کې دحاکم دخوندي کولونه وروسته زه دسرکند سره نزدې د انارو کلي ته لاړم اوهلته دېره شوم ،انار دخاص کونړ کامې او ښېوې ولسوالۍ په منځ کې په غرونوکې ډېرمحفوظ ځای دی .حاجي سیف الدین وویل چې په دې فکر وم چې څنګه دکابل دحکومت پرضد مسلحانه جهاد ته دوام ورکړم او کله کله به مې زوی هم فکر ته راغی چې په هغه څه پېښ شوي وي او وړوکی هم دی . حاجي سیف الدین وویل چې زمونږ دهجرت پنځلسمه ورځ وه چې په کټ کې پروت یم اوپریشانۍ وړی یم چې سترګې مې بېرته کړې ګورم چې عبدالاحد هغه ساعت زما دکټ سرته ولاړدی ، دهغه په لیدو دومره خوشحاله شوم چې یواځې خدای پاك ته معلومه وه او تېرشو ، دخدای پاك ډېر شکر مې ادا کړ او مې ویل چې مونږ په حقه یوو او خدای پاك دمونږ سره کمك کوي که نه ماخو خپل زوی مړ شمېرلی و.

حاجي سیف الدین وویل چې ښه دوستان ډېر ښه نعمت دی . ده وویل چې زما دچپرهار یوتن ملګری چې امیر محمد نومېده. دجلال آباد اوکاشکوټ ترمنځ یې سروس موټر چلوه نو مازدیګر چې زمونږ کلي ته راغلی ؤ او دحاکم دکیسې نه خبرشوی ؤ سمدستي زما زوی یې دهغه ځای نه دځان سره اخیستی ؤ او چپرهار ته یې خپل کورته وړی ؤ . زما دې ملګري به هره جمعه زمازوی د عبدالخېلو ښوونځي نه راخیسته او په خپل سروس موټرکې به یې کورته راوسته ، زما زوی یې هلته تر هغې په خپل کورکې ساتلی ؤ تر څو چې یې زمونږ دځای پته پیداکوله او بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته خپل زوی راوست . زه د دې دوست دا نیکي اوقرباني هېڅکله هېرولی نه شم .

حاجي سیف الدین دحاکم د نیولونه وروسته خپل دمیټاخېلو قوم دځان سره ملګری کړ او دجلال آباد او کاشکوټ ترمنځ سرك یې بند کړ او مسلحانه جهاد یې په سیمه کې پیل وکړ.

حاجي سیف الدین دښېوې حاکم د ۱۳۵۸ لمریزکال تر اخره پورې دځان سره وساته کله چې دجدي په شپږمه نېټه روسان افغانستان ته داخل شول دعمومي عفوې په اساس یې اکثریت بندیان یې دپل چرخي نه خوشي کړل نو میاګل جان آغا ننګور هم خوشې شوه نو وروسته له هغه حاجي سیف الدین دمیاګل جان آغا لمسي ته حاکم په لاس ورکړ چې ځنګه ورسره کوي هغه وکړي ، هغوی حاکم په دې شرط خوشې کړ چې دکابل رژیم سره به نوره همکاري نه کوي . خو سره د دې حضرت یونس بېرته دکابل حکومت ته ورغی او بیا یې دحاجي سیف الدین داوسیدوځای چې انار کلی نومېده ، ډېرسخت بمباري کړ چې دحاجي سیف الدین خسر بهرام پکې ووژل شو . کله چې حاجي سیف الدین حاکم ، د اناروسیمه کې دځان سره ساتلی ؤ نو دهغه وظیفه مجاهدینوته چای برابرول ،چلم ډکول او دغره نه دلرګو راوړل و ، نورکوم خاص ظلم یاتېری په حاکم باندې نه ؤ ، حاجي سیف الدین د ۱۳۸۴ کال د میاشتې په نېټه په خپل کور کې د اوږدې مریضي له امله وفات شو (انالله وانااليه راجعون ).

حاجي سیف الدین واقعاً ډېر پوه ،مسلمان اوښه افغان دی او تر اخره پورې یې خپله کورنۍ پاکستان ته رانه وستله او تقریباً پنځلس کاله دمومندو په غرونوکې او خاصتاً دشمشاد په کلي کې چې دعیسی خیلو اوجړوبي درې سره نږدې پروت دی اوسېد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

د روسانو د وتلو نه وروسته چې کله دکونړ ولایت آزاد شو په **۱۹۹۲** م کې حاجي سیف الدین بېرته سر بند کلي ته دخپل فامیل او تره زامنوسره ستون شو او هلته یې په خپلو ځمکو کې کېږدۍ ووهلې او خپل ژوندیې بیا له سره پیل کړ .

په **۱۹۹۵** م دجون په میاشت کې زه دحاجي سیف الدین کورته ورغلم ماته یې وویل چې کله ما په خپله ځمکه کې کېږدۍ ووهلې نو ټولو راته ویلې چې ستا ټول کارونه سرچپه دي اول دې باید کور جوړ کړی وی او وروسته دې خپله کورنۍ راوستې وای. دا شرم دی چې ته په کېږدۍ کې او سېږې . ده زیاته کړه چې ما دې خلکوته وویل چې مونږ افغانان عجیبه ناراشه خلك یوو . دپاکستان په دښتو او ډاګونوکې موکېږدۍ وهلې او په هغه کې اوسېدلو خو هغه دشرم خبره نه وه ، اوس چې ما په خپله ځمکه کې کېږدۍ وهلې دي دا دشرم خبره ده ، دا شرم نه دی بلکې دا ماته افتخار دی چې په خپله ځمکه او خپله خاوره کې اوسېږم او دپردیو دمنت نه خلاص یم .

بې ځایه به نه وي چې زه دحاجي سیف الدین دوه نورې قصې هم دلته ولیکم او زما هدف دلته دوه ټکي دي چې مونږ څومره با تدبیره او پوه مشران دجهاد په پیل کې درلودل خو افسوس چې پردو مونږ ته داسې کسان مشران وټاکل،کوم چې دوی ته ښه غلامي کولی شي او زمونږ دملك جر ړې یې ویستلې شوې .

دحاجي سیف الدین په شان پوه کسانو ته یې نه موقع ورکړه او نه یې هغوی پرېښودل چې دجهاد رهبري په خپل لاس کې ونیسي او د دوی پرضد یې هر ډول دسیسې جوړې کړې ، څوك یې ووژل ، څوك یې دښمن داره کړل ، ځینو نورو هېوادونو ته پناه یوړه او ځینې مجبور شول چې په کراره کیني .دوېم مطلب یا مقصد زمادا دی چې دخلق او پرچم دحکومتونو تګلاره چې د افغانستان دخلکو ملي او دیني نوامیسو پرضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت او بلاخره یې روسي قواوې افغانستان ته راوستلې او تراوسه پورې چې کوم ناورین په افغانستان کې روان دی دوی یې اصلي عاملین دي نو د دوی تګلاره ددې باعث شوله چې د افغانستان ولس د دوی پرضد راپاڅیږي او ملي قیام پیل کړي . داچې بعضې تنظیمونه چې دپردیو په لاس په پردي کورونوکې جوړ شوي ، د دې ادعا کوي چې دا دوی ؤ چې روسانو ته یې ماته ورکړې دا صحیح خبره نه ده ځکه روسانو ته افغانانو ماتې ورکړې او دغه تنظیمونه د دې باعث شول چې د افغانستان دملت په دغه لویه قرباني او جهاد باندې تور داغ کیږدي .

اوس به راشو دحاجي سیف الدین کیسې ته د **۱۳۵۸** کال په سرطان کې چې دمومندو لښکر جوړ شو چې تفصیل یې وروسته راځي ،په لومړۍ شپه چې مونږ دخاص کونړ ولسوالۍ ته ښکته شولو مونږ ځوانان ؤ نو وینه مو زیاته ګرمه وه او انرژي مو هم درلوده نوزه هم په منډه روان وم چې کله له غره نه سرك ته ورسیدو نوحاجي سیف الدین زه دلاس څخه ونیولم او راته ویې وویل چې وراره جانه دا ډیر اوږد انقلاب دی او تیزې منډې مه وهه . ډیر خلك به پکې ستړي شي . مونږ څوك نه وژنو او نه ځان په چا وژنو او امنیت مه خرابوه هغه وشول چې دخلکي ریژیم نفوذ له منځه یو سو.

دحاجي سیف الدین د دې خبرې نه درویشت کاله کیږي چې واقعاً د افغانستان انقلاب ډیر اوږد شو او ډیرکسان پکې ستړي شول . په سباچې مونږ بېرته غره ته را وختلو دکلاول دکلي سره نژدې حاجي سیف الدین او پلارمې په یوه څمڅه کې ناست ؤ نو ما د دوی نه پوښتنه وکړه چې ایا مجاهدین به کامیاب شي او کنه ؟ ځکه چې روسان د دنیا لوی طاقت دی او مجاهدین هیڅ په لاس کې نه لري او اکثرو خلکو سره شخصي پخوانۍ زړې ټوپکې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

حاجي سيف الدين ووېل چې روسان خامخاپه افغانستان کې شکست خوري نو ما ترې د دليل پوښتنه وکړه ، ده په ځوا ب کې ووېل چې روس د امريکا سره په رقابت کې دی او هره ورځ چې روسان په افغانستان کې تېروي دخپل رقيب نه يو کال وروسته پاتې کېږي ، زمونږ د افغانانو نه څه ځي ، نه زمونـږ فابريکې شته چې ودرېږي او نه بل څه او اکثر خلك د افغانستان چې دهقانان دي کله چې غنم وکري نوبيا اته نه مياشتې لاس په زنې د ديوالونو چنوته ناست وي ،دخپل صفت او بل غيبت کوي نو روسان خامخا ماتې خوري او زما داخبره دځان سره وليکه . د حاجي سيف الدين خبره رښتيا شوله او واقعاً چې روسان پس له نه **۹** کاله اوږده او پرمصرفه جګړې نه وروسته په **۱۹۸۹** کال دفروري دمياشتې په ۲۸ مه نېټه خپلې ټولې قواوې د افغانستان نه وويستلې او دلوېې ناکامي سره مخامخ شول .

دژوند خواري مې اوبو يوړه
نور به دسيند په غاړه نه کرم ګلونه

هرې مور لره چې خپل لړمون بلا شي
نا بغه زوی يې چنګيز يا اتيلا شي

غلام جيلاني (جيلاني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

پلار مې د جلال اباد دغونډ نه  وروسته یو ځل بیا نیمروز ولایت  او زه خاص کونړ ته لاړم ، پلار مې د **۱۳۵۸** کال دحمل په میاشت کې دنیمروز نه د اخري ځل لپاره راساً خاص کونړ ته راغی چا به چې پوښتنه کوله دنده (وظیفه) چېرته لرې ؟ نو ده به ورته ویل چې په کابل کې خدمتي یم .

پلارمې خاص کونړ کې سمدستي دمنګوال او چمیاري دکلي دمشرانو سره پټې غونډې پیل کړې ، ترڅو دخاص کونړ خلك دحکومت پرضد حرکت او یاهجرت کولو ته چمتو کړي ، مونږ سره په لومړي سرکې دغو لاندې کسانو په غونډو کې برخه درلوده ، دمنګوال دکلي نه اروابناد فتوخان ،اروابناد بازشیخ،داؤد شاه خان ،زما دتره زوی معلم سید عبدالودود او د چمیاري دکلي نه شېر افضل .

دوی فیصله په دې وکړه که مونږ ټول مهاجر شوو نو بیا به زمونږ ارتباط دخلکوسره کم شي اوله بله پلوه به د اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ شو نه بنه به داوي چې په لومړي سرکې یواځې زمونږ کورنۍ مهاجره شي ځکه چې زما دپلار دنیولو خطر ډېر زیات ؤ .

تردغه وخته دخاص کونړ په لسوالي کې خلقي رژیم په مطلقه توګه حاکم ؤ ،په سلګونو کسانو دحکومت ټوپکې اخیستې وې او زیاتره سپین ږیرو او ملکانو د رژیم سره همکاري درلوده . دخاص کونړ ،ولسوال چې عثمان غني نومیده ،پرله پسې فرمانونه په منظمه توګه تطبیقول .

شپږم ، اوم،او اتم نمبرفرمانونه چې د ګروي ،دښځو دحقوقو او ځمکو داصلاحاتو په نامه وو، په خلکو کې زیاته کرکه د رژیم پرضد پیداکړ ه .

په اطرافونوکې دزمینداره خلکو ځمکې اکثره دبې ځمکو کسبه کارو کسانو سره ګرو وې او د دغه فرمان په اساس دبې ځمکو خلکو پیسې وسوځېدې او زمیندار له قرضه خلاص شو ، خو د اتم نمبر فرمان په اساس چې دچا دېرش **۳۰** جریبه ځمکې نه اضافه وه هغه به یې په بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکو کسانو باندې چې زیاتره درژیم طرفداري یې کوله او یابه ملیشه ؤ تقسیم کوله ، په دغه فرمان کې غټه ستونزه دا وه چې زیاتره ځمکې به دیوې کورنۍ دمشر په نامه و ې او ورثې به دغه ځمکې په شفاهي (لفظي) وېش باندې په خپلو کې تقسیم کړې وې او د دوی ترمنځ به شرعي ترکه نه وه شوې نو په دې اساس ډېر زمیندارن بلکل بې ځمکې شول .

دمثال په توګه دخاص کونړ په ولسوالۍ کې لوی زمیندار دچندراو دکلي اخون زادګان او یا زما ماما ګان ؤ خو د دوئ ځمکه د دوئ د نیکه په نامه وه او خاصتاً د اخون زادګانو دنفرو شمېر لس ګونو تنوته رسېده ،که سهي وېش شوی وی نو دهر نفر دوه او درې جریبه ځمکه هم نه رسېدله خو د دوئ د ټولې ځمکې نه یې دېرش جریبه ځمکه دوئ ته پرېښودله او تقریباً شپږ سوه جریبه ځمکه یې په نورو کسانو باندې و وېشله دوئ چې هر څومره عرض اوداد وکړ چاپې خبرې ته غوږ ونه نیوه او دفیوډالانوپه نامه به یې توهینول .

دخلق رژیم به چې کله ځمکې تقسیمولې نو په هغه ځمکوکې به یې پراخ مارشونه او غونډې کولې او په زرګونو کسان به یې ورته راټولول ، د یاچاریار داسلامي شعار په ځای به یې د هورا **Hurrah** [۱] چغې وهلې او هم به یې زمیندارانو ته پوچ رد الفاظ استعمال او ویل به یې چې دوئ فیوډالان دي ، د دهقانانوپه طبقه باندې یې ظلمونه کړي او دهغوئ کورنۍ یې په خپل خدمت کې ساتلې دي .

[۱] Hurrah– هورا په انګرېزي ژبه کې دخوشحالي معنی لري خوعاموخلکوبه ویل چې Hurrah دلینن مور ده نو دا خلقیان او پرچمیان چې دلینن بچیان (پیروان) دي دخپلې نیا د احترام په خاطر دغه لفظ په خپلو مارشونو کې استعمالوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې دفیوډالانوشمېر به په ټول افغانستان کې دمحدودوڅو تنو څخه زیات هم نه ؤ او په مشرقي کې خو فیو ډالانودسره وجود نه درلود .

دچندراؤ داخون زادګانو ځمکه چې کله د **١٣٥٧** کال دحوت په میاشت کې تقسیمېدله ، دځمکو د اصلاحاتو وزیر عبدالغفار لکڼ وال ، دلغمان والي حضرت ګل بارګامي چې دسرکانړو دولسوالۍ دپشد دکلي دکشمېریانو(پیاکوټانو) له کورنۍ و ، دکونړ والي اویوشمېر نور عالي رتبه دولتي مامورین په دوه هلیکوپټرنوکې راغلل. هلیکوپټرې دچندراو د کلي سره نژدې دسند په غاړه په یوه اواره ځمکه کې کېناستې ، پوره فوځي تدابیر نیول شوی وو او په زرګونو کسان یې دمارش لپاره په جبري توګه راټول کړي وو .
څرنګه چې ددوئ ځمکه د دوئ دنیکه محمدمعظم اخون زاده په نامه وه نو د وېش نه وروسته زیاتره اخون زادګان بې ځمکې پاتې شول او په اصطلاح دکورنۍ غړوته دترکاري دکرلو کوراړی (وړوکې ټوټه ځمکه یاپټی ) پاتې نه شو .
په کونړ کې تر دغه وخته عامه ذهنیت مطلق دکمونستي رژیم پرضد راپارېدلی ؤ او عام خلك مسلحانه قیام ته تیاروو ،هېڅ داسې یوه پرګنه نه وه چې دخلقي رژیم دمسلسلو فرمانونو او د دوی دحکومت چلولو اوبې تجربه ګي له امله زیانمن شوي نه وه ، د دوی غیراسلامي او ملي حرکات عاموخلکو ته پوره څرګند شوي ؤ که په ظاهره به چا څه نه شو ویلی خوپه زړه کې به په دې پوهېدل چې دوئ د دین اومذهب په خلاف دي .
څرنګه چې کوم منظم سازمان یا ګوند د افغانستان په سطحه چې ملت ته د اعتماد وړ وي او ولس عمومي قیام ته په یوه ځل اماده کړي وجود نه درلود نوپه هره سیمه کې دکابل دخلقي رژیم پر ضد قیامونه یامسلح حرکتونه په ځانګړې توګه په ټول هېواد کې او په خاصه توګه دکونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت په نورستان او پیچ دره کې او هم دپکتیا ولایت د ارګون په سیمه کې دلومړي ځل لپاره پیل شول .

## ځلورم څپرکی

## په خاص کونړ کې د جهاد پیل :

د**۱۳۵۷** کال د دلوې په میاشت کې یوائې یو څوتنو مجاهدینو چې هویت یې هم په لومړي سر کې معلوم نه ؤ ، دشونکړي په سیمه کې او سېدل دخاص کونړدمنګوال په منځني ښوونځي او ولسوالۍ باندې یوځل جګړه وکړه خو دومره مؤثره تمامه نه شوله ،د دغه ګروپ مشري دځوکۍ دولسوالۍ یوتن چې په ډاکتر حمید الله یې شهرت درلوده ، کوله . دوی سره دخاص کونړ دچنچن دکلي ملاغلام حسن چې په ملاصحاف مشهور ؤ [1] اوملانظر محمد[2]هم موجود وو دوی په شونکړ سیمه کې دمیرزا محمدي جان سره اوسېدل .

څرنګه چې حکومت په دغه وخت کې په حالاتو پوره کنترول درلوده نو یو څه قواوې او ملیشه یې دشونکړی سیمې ته ولېږلې چې دغه ګروپ ونیسي په دغه جګړه کې دمنګوال دمنځني ښوونځي معاون احمدخان [3]دمنګوال دکلي د اسلم زوی چې خلقي ؤ په جګړه کې په پښه ټپي شو او د کلي ګرام (حکیم اباد) دکلي دمهردل زوی چې خلکي وو ،وژل شو .

د دغې جګړې نه وروسته دخاص کونړ په سیمه کې دحکومت پرضد علني حرکت موجود نه وو د **۱۳۵۷** کال دحوت دمیاشتې تر اخره پورې

---

[1] – ملاصحاف وروسته د یکه غنډ په کمپ کې اوسېده چې دیوال وربانديې چپه شو او مړ شو .

[2] – ملانظر محمد وروسته په خاص کونړ کې د اسلامي حزب (حکمتیار) دجبهې قومندان و

[3] –احمد خان دهمدغه پېښې دزخم له امله ډېره موده وروسته مړشو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخاص کونړ د ولسوالۍ نه یو څو محدودو کورنیو هجرت کړی وو چې نومونه یې دا دي .دکونړ له کلي څخه مولوي محمد عبدالله ،دلوټانو له کلي څخه شهید ملك محمد جان [۴]،دمیاګانو له کلي ګل سید میا، دسنه خېلو دکلي ظاهر خان ،دکوز چنچن دکلي ملاغلام حسن چې په صحاف ملایې شهرت درلوده ،دچندراؤ دکلي د اخون زادګانو دکورنۍ نه سرمعلم غلام حسین حاجي عبد الخالق ،موسی کاظم او زما خسر مولوي غلام حضرت شامل ؤ .

د۱۳۵۸ کال دحمل په میاشت کې زما د پلار د فعالیت سلسله مخ په پراخېدو وه ، خپلوانو او دوستانو سره یې پټ تماسونه نیول چې یو ځای هجرت وکړو ، مامې پلارته وویلې چې ښه داده چې په ځانګړې توګه هجرت وکړو ځکه دابه ډېره سخته وي چې په ډله ایزه توګه هجرت ته خلك اماده کړو .

دحکومت جاسوسان په هر ځای کې موجود دي او اکثره دوستان اوخپلوان خواره واره اوسېږي که ژر لاړ نه شو نو خامخا مونږ حکومت نیسي او بیا به زمونږ سزا بې له مرګه بل څه نه وي ، دحمل دمیاشتې په اخره کې مو تصمیم ونیو چې هجرت باید وکړو ، هماغه وو چې زه اوپلارمې مزار شریف ته لاړو تر څو، زماورور سلطان محمود چې په زراعت لیسه کې ؤ له ځان سره راولو .

کله چې مونږ مزارشریف ته ورسېدو او دسلطان محمود سره مو وکتل هغه راته وویل چې زمونږ د ولسوالۍ څوتنه چې دزراعت په لیسه کې دي خلقیان دي اوزمونږ دراتګ نه خبر دي که مونږ یوځای حرکت وکړو نو هغوی خامخا مونږه نیسي نو بهتره به داوي چې دجوزا په میاشت کې

---

[۴]ــملك محمدجان په ډېره بې رحمۍ دخپل زوی سره یوځای دحکمتیار د اسلامي حزب یو تن قومندان معلم محمد امین له خوا ووژل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

چې ښوونځی رخصت شو نو زه به درشم او بیا به یوځای هجرت وکړو
.

د حربي ښوونځي د سردارمحمود د خارجېدو کیسه :

دمزار شریف نه چې کله مونږ کابل ته راغلو پلارمې زه ولیږلم چې زما خدابښلی ورور شهید سردارمحمود دکابل دحربي ښوونځي په نهم ټولګي کې ؤ خبرکړم چې دپنجشنبې په ورځ زما دتره زوی اروابښاد نیازمن صیب کورته راشي .
سردار محمود چې دمنګوال په منځني ښوونځي کې اول نمره ؤ عسکري لیسې ته یې جبراً نیولی ؤ . دهغه چپ لاس پخوا درې ځایه مات شوی ؤ او معیوب ؤ ، کله چې سردار محمود زه دحربي ښوونځي په نظام قرول کې ولیدم په ژړا شو او وې ویل چې زه عسکري لیسه نه وایم ځکه چې زه دځنګلوحرکت نه شم کولای او دوی په ما نظامي تعلیم کوي .
ماورته وویل چې ښه ده دپلار سره به مصلحت وکړو او زه به د اقبال وزیري نه چې د دفاع وزارت دسیاسي چارو مشاور ؤ ، د اخراج امر واخلم ، اقبال وزیري زما دخاله دلور خاوند ؤ ،ماشخصاً اقبال وزیري نه ؤ لیدلی ځکه چې نوموړی د داؤد خان په وخت کې بندي ؤ او کله چې خلکیانو کودتاه وکړه دی دحفیظ الله امین نږدې ملګری ؤ او د دفاع وزارت دسیاسي چارو دمشاور په توګه مقرر شو ، دهغه په واده کې زه په کونړ کې وم .
دضرورت په اساس د اقبال کورته چې په مکروریانوکې ؤ ورغلم .اقبال په کورکې نه ؤ او دتوړی لورته مې خپل مشکل ووایه چې سردارمحمود دعسکري ښوونځي نه خارج کړي .
تروزي مې وویل چې اقبال دماښام په شپږو بجو راځي ،که ورته پاتې شې نو دابه ښه وي ،څرنګه چې ماپه هغه چندان باور نه درلوده نوپاتې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم اوماورته وویل چې مازدیګر به زه ټلیفون وکړم . ما دشپږو بجو په شاوخواکې دنیازمن صیب دکورنه اقبال وزیري ته ټلیفون وکړ او ځان مې ورته معرفي کړ ، اقبال سمدستي په ځواب کې وویل :
((ماخو ویل چې دا دفیوډال زامن عسکري لیسې ته مه نیسئ ، اوس چې راغلی دی نوحتمي به عسکري لیسه وايي او امر نه شم درکولای ))
له دې خبرو نه یې وروسته د ټلیفون ګوشي کېښوده ، پلار او ورور ته مې ویل چې دا کار خو ونه شو ، خدای بښلی ورور مې ډېر زیات خپه شو دهغه دتسل لپاره مو ورته وویل چې ته یوه میاشت نور هم دلته اوسه مونږ غواړو چې د جوزا په میاشت کې پاکستان ته یوځای هجرت وکړو .

د اقبال وزیري دغوخبرو چې مونږ فیوډالان یو دهغه متل سره صدق کوي چې وايي (( ډوله کوم ځای دی وهم کوم ځای دې او از کوي )) موضوع څه وه اودهغه عکس العمل څه ؤ ، اقبال په دې نه پوهېده چې ایا مونږ فیوډالان یوو او که نه او مونږ څومره ځمکه لرو او دفیوډالیزم تعریف څه دی . نوموړی او همداشان ټول خلقیان د افغانستان دټولنې پېژندل خو پرېږده دخپل کلي او محیط په هکله ورته معلومات نه ؤ او هسې تش په نامه شعارونه یې یادکړي ؤ ، همدا علت ؤ چې په لکونو معصوم انسانان بې له دې چې په اصل موضوع باندې ځان پوه کړي، بندیان او له منځه یوړل او افغانستان یې ګډوډ او له نه حل کېدونکو ستونزو سره یې مخامخ کړ .
په لکونو انسانان د دوی دشخصي عقد او ناپوهۍ ښکار شو ،ټول ملك یې وران او دخارجیانو لاس وهنو او یرغل ته ښه زمینه مساعده کړه .په افغانستان کې څه وشول او څه چې په راتلونکي کې کېږي ، د دې ټولو بدبختیو او مصیبتونو د عواقبو مسؤلیت دخلقیانو او پرچمیانو په غاړه دی ځکه که دوئ نه وی راغلي او دومره فجایع یې نه وی کړي نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان مسلمان او غیرتي ولس به له دومره ستونزو سره نه مخامخ کېده ، او نه به داسې بې رحمه او بې تنظیمه مشر تابه سره مخامخ کېده . د دې لپاره چې د اصلي جریان نه لرې لاړ نشم ، دجمعې دورځې په مازدیګر خدای بښلی ورور مې سردارمحمود په ډېرې مایوسۍ سره دحربي ښوونځي په لوري وخو ځېد او دموټرو تر تمځایه پورې زه هم ورسره لاړم .

د شنبې په ورځ مازدیګر مو کتل چې سردار محمود د آهن چادرو وړوکی سپین بکس په شا اچولی او په شخصي جاموي کې را روان دی او د زیاتې خوشحالۍ نه له ورایه خاندي .

خدای بښلی ورور مې د وړکتوب نه ډېر زیات زیرکه او باجرئته ؤ نو مونږ ترې پوښتنه وکړه چې څنګه راغلی ؟ هغه وویل حربي ښوونځي ته چې لاړم نوځان مې مریض واچاوه او د ښوونځي ډاکتر راته په وزیر اکبر خان مېنه کې په څلورسوه بستریز روغتون باندې چټې راکړه ، څنګه چې په روغتون کې زیاتره روسي متخصصیونو کار کاوه نوهلته یې یو تن روسي متخصص ته یوړم ،متخصص ته مې خپل لاس وښود او هم مې ورته وویل چې زماسترګې صحیح کار نه کوي . د معاینې څخه وروسته روسي متخصص څه دوا راته ولیکله او هم یې نظر ورکړ چې دی نه شي کولای چې حربي ښوونځي ته دوام ورکړي باید چې دحربي ښوونځي څخه خارج کړی شي .

هماغه ؤ چې ما د روسي متخصص نظر یه حربي ښوونځي ته یوړه او هغویٔ زه سمدستي دلیسې څخه خارج کړم اوما هم دا ساعت له خدایه غوښته .

دسردار محمود په خارج کېدو مونږ زیات خوشحاله شولو او قلعهٔ زمان خان ته دخلیفه عبدالرسول فدائي کورته لاړو . خلیفه عبدالرسول فدائي دنقشبندیه دطریقې پیر ؤ چې زمونږ دکورنۍ زیاتره غړو دهغه نه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوی کړی و ،دهغه سره مو د هجرت موضوع مطرح کړه . خلیفه عبدالرسول فدائي هم دهجرت کولو مصلحت راکړ او دعا مو ترې واخیستله او هم مو د یو شمیر نورو نږدې خپلوانو او دوستانوسره د آخري ځل لپاره په کابل کې دهجرت کولو په نیت خدای پاماني وکړه او د خاص کونړ په
طرف وخوځیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## په خاص کونړ کې زمونږ د هجرت او جهاد د پیل لومړۍ مرحله :

مخکې مې یادونه کړې وه چې په کابل کې به همېشه دا اوازې خپرېدې چې نن کودتاه کېږي او سبا. دهرچا په خوله کې داخبره وه چې دخلقیانو رژیم ډېر ژر له منځه تلونکی دی نو په دې اساس د **۱۳۵۸** کال دڅور دمیاشتې چې دکمونستي رژیم لومړۍ کلیزه وه ډېر خلك په دې امید ؤ چې خامخا به څه تحول راځي ، مونږ هم دغه اوازو ته انتظار ووېسته ، خو دڅور په اوومه نېټه چې خلقیانو دکمونستي کودتاه دلومړۍ کلیزې لپاره جشنونه نیولي ؤ هېڅ کومه پېښه ونه شوه .
هماغه ؤ چې پلار مې دڅور دمیاشتې په دویمه اوونۍ کې د ځارنوال محمد صالح سره مصلحت وکړ چې یو ځل باید بې ماشومانو پاکستان ته لاړشوو . له یوه پلوه به خپلو کورنیو ته د اوسېدو دځای څه بند وبست وکړو او له بله پلوه به دمجاهدینو دبعضې تنظیمونو دمشرانو سره له نږدې نه وګورو او په احوال به ځان پوه کړو چې هلته څه خبره ده .
په دغه وخت کې زما خسر مولوي غلام حضرت چې مخکې مهاجر شوی ؤ هم په خصوصي توګه مونږ کره راغلی ؤ ، دڅور دمیاشتې په نهمه نېټه ځارنوال محمد صالح دهغه ورور مامور عبد الواجد ، زماتره سیدحسام ، پلار او خسر مې زما په شمول سهاروختي دخاص کونړ نه د پېښور په لوري حرکت وکړ .
تردغه وخته پورې ما دخاص کونړ ولسوالۍ ته نږدې دغرونوکلي او بانډې نه وې لیدلې او نه راته دهغوی د ورځني ژوند اوستونزو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه معلومات وو . وروسته له درې ساعته مزل نه برچچن کلي ته ورسېدو ، غرمه مو دباز په کورکې تېره کړه ، د برچچن اوسېدونکي په قوم باره خېل مومند دي ، که څه هم مونږ دمومندو کلی نه ؤ لیدلی او دزیاتو کسانو سره مو له نږدې نه پېژندګلوي نه درلوده خو سره د دې هم چې کله به کوم کلي ته ورسېدو مخکې له دې چې مونږ څوك وپېژني نو هرسړي به په ډېراخلاص سترې مشي کوله او دپښتونولۍ او مېلمه پالنې په اساس به یې زمونږ ډېره زیاته قدرداني کوله .
مومند زیاتره په لوړی سرکې دنابلدو کسانونه دچا دځای پوښتنه نه کوي ځکه دا دپښتونولۍ او مېلمه پالنې داصولو خلاف دی . خو وروسته له خوراك څښاك نه بیا پوښتنه کوي ، څرنګه چې زیاتره مومندو زمونږ کورنۍ پېژندلې نو وروسته به یې دځای پوښتنه وکړه اومونږ به ورته ځانونه یې به معرفي کړل نوبیا به یې زمونږ قدرداني نوره هم له حده زیاته کوله .او سمدستي به یې پوښتنه کوله چې چېرته ځئ ؟ او څه کوئ ؟ مونږ به هم دخلکي رژیم پرضد خبرې پیل کړې او دخلکیانو دبې دینئ او د هغوئ دپروګرامونو په هکله به موورته پوره تفصیل ورکړ.
مومندقوم دمیاه ،ملااوپیرخانو ډېر زیات احترام کوي اوخبرو ته یې غوږ نیسي نو زمونږ خبرو به پرې پوره تاثیر کاوه ، او دکابل د ریژیم پرضد به یې پوره کرکه څرګندوله .
زمونږ لپاره چې دغرونو مزل هم سخت ؤ نو په دمه دمه به دیوه کلي نه بل کلي ته تلو ، شپه مو دبر څپري په کلي کې دملك خلیل کره وکړه ، دڅپري خلك زیاتره بوتي خېل او یو کور په کې ماما خېل دی . بله غرمه مو دخوګاخېلو په تورکاني کې د حاجي عبدالخالق سره تېره کړه ، حاجي عبدالخالق دملك خالو زوی ؤ چې په دغه وخت کې ډېر سپین ږیری شوی ؤ ، نوموړی د مومندو او په خاصه توګه دمومندو دبیزو دقام یومشهور سپین ږیری ؤ چې دانګریزانو په وخت کې یې په غزاګانوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دخپل پلارسره یوځای برخه اخیستې وه د تورکانې نه مو شپه مزرې چینې ته یوړه دغه مزل ډېر سخت ؤ ځکه دیو ې خو په لاره کې هېڅ کوم کلی نه ؤ چې هلته مو دمه کړې وی او له بله پلوه زمونږ لاره غلط شوه ، د یوې غونډۍ نه به د بلې غونډۍ سرته ختلو چې لاره پیدا کړو .
دغرونو لارې چې هسې لیکې ښکاري دپسرلي په موسم کې چې واښه په غرونو کې زرغون شي نو دلارو کرښې ورکېږي او نابلده لارویو ته ډېره مشکله ده چې اصلي لاره پیدا کړي . بالاخره دیوغونډۍ دسره نه مولاره ولیده چې څوکسه پرې روان دي ، مونږ ورته له ورایه څادرونه وخوځول ځکه غږ یو بل ته نه رسېده ،هغوئ ودرېدل ، کله چې ورنژدې شوو کتل مو چې دقومندان غازي محمدخان ورور گل عباس زمونږ پسې راروان شوی وو چې مونږ سره یوځای پاکستان ته لاړ شي ، دپنځه ساعتو مزل مو په لس ساعتونو کې و واهه .
مزرې چینې ته دماښام له اذان نه وروسته ورسېدو او شپه مو دحاکم سید کریم خان ځای ته یوړه. سیدکریم خان دګوشته د خانانو مشر ؤ او دپلار مې ډېرنږدې دوست اوملګری ؤ چې ده مخکې هجرت کړی وو او دخپلې کورنۍ سره په مزرې چینه کې اوسېد .
په دغه وخت کې دحکمتیار اسلامي حزب یوګروپ مجاهدین دشهیدمعلم نادرخان په مشرۍ په مزرې چینه کې دفردوس خان په ځای کې اوسېدل . فردوس خان د داود خان په وخت کې مهاجر شوی ؤ ویل کېږي چې د داؤد خان په وخت کې دحکمتیار د اسلامي حزب زیاته اسلحه اومهمات مشرقي ته دفردوس خان په واسطه انتقالېدل چې دپاکستان حکومت هم ورته پوره امتیازات ورکړي ؤ او تقریباً لسګونو زره پاکستانۍ کلدارې یې ورته دمیاشتې مصرف ورکاوه ، فردوس خان دمجاهدینو دبعضې ګروپونوسره داختلاف په وجه په وروستي کلونوکې بېرته دکابل رژیم ته پناه یوړه او دهغه زوی مومند خان دملیشه وو مشر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په جلال اباد کې دخاد دقواؤ سره په یوه تصادم کې وروسته په **۱۳۷۱** کال کې ووژل شو،( دفردوس خان بل زوي مومند خان دافغانستان په ولسي جرګه کې دننګرهار ولایت منتخب استازی دی)
سهار مونږ دشهید معلم نادرخان اوفردوس خان لیدو ته ورغلو ، دمعلم نادر خان سره دکوټې او مهمند درې زیات شمېرمجاهدین وو. کله چې ګل عباس هغوئ ولیدل نو ګل عباس له مونږ نه بېرته ستون شو او دپېښور دتګ نه منصرف شو ، ځکه ګل عباس دپرچم د ډلې څخه وو او دغازي اباد په فارمونوکې یې ډېره موده وظیفه اجراکړې وه او دنادر خان مجاهدینو یو شمېرکسانو هغه پېژنده او دخلقیانوسره د اختلاف په وجه غره ته ختلی ؤ کله چې پرچمیان په قدرت راغلل نوګل عباس حرکت ته لاړو او دکونړ ولایت منشي مقرر کړای شو ، ګل عباس فکر وکړ که پېښورته لاړشي نوکیدای شي چې دحزب دکسانوله خوا ورته ضرر ورسېږي . مونږ هم ورسره موافقه وکړه اومونږ دپېښور په لوري حرکت وکړ اوګل عباس بېرته د ولي سیمې ته لاړ، چېرته چې دخپلې کورنۍ سره اوسېد .
غرمه مو د کوډاخېلو په سیمه کې دملك امین کره چې دغازي محصل خان زوی ؤ تېره کړه ، ملك امین چې په صورت وړوکی سړی ؤ تقریباً سل کاله عمر یې درلود او دټولو مومندو دخورامهمو سپین ږیرو څخه ؤ ، که څه هم ملك امین سپین ږیری ؤ خو پخپله به په ډېره کې ناست ؤ او دمېلمنوخدمت او قدر به یې کاوه. خو متاءسفانه چې دملك امین دکورنۍ اکثریت غړو دکابل دخلکي رژیم سره اړیکې درلودې او دهغوئ نه یې پیسې او وسلې اخیستلې . دملك امین زوی حاجي فضل منان هم دکابل په حکومت کې غټه چوکۍ درلوده چې په وروستي کلونوکې د پاکستان خواته واوښته چې بیا دمومندو ایجنسي په انتخاباتوکې د صوبه سرحد د صوبائي اسمبلۍ غړی وټاکل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ملك امین چې زمونږ د کورنیو مشران یې پېژندل نومونږ ته یې د کابل درژیم صفت پیل کړ ، مونږ یې دې ته په غیرمستقیمه توګه تشویقولو چې پېښور ته باید دخپل تګ نه منصرف شوو ، مونږ ته چې دخلکیانو اصلي څېرې معلومې وې نو د کابل دخلکي رژیم سره د ملك امین طرفداري او خواخوږي په مونږ ډېره بده ولږیده ځکه دنوموړي کورنۍ ډېره مجاهده کورنۍ وه چې د انګرېزانو په مقابل کې یې پلارمحصل خان غازي خورا مهم رول په غزاګانوکې درلود . هما غه ؤ چې هلته مو شپه ونه کړه او دګندهاب په لوري وخوځېدو ، دبهې دښته مو چې ووهله نو ماښام ګندهاب ته نارسیده دخاپښ کنډو سره نزدې یوه کلي ته چې دآهنګرانو دکلي په نامه یادېده ورسیدو ، پلارمې وویل چې نور په پښو مزل نه شو کولی او زیات ستړي شوي یوو که څوك په دغه کلي کې نه پېژنو فرق نه کوي ځکه دوی هم پښتانه دي او مونږ ته به شپه راکړي .زړه نازړه دغه کلي ته ورستانه شوو .

دماښام د اذان وخت نږدې ؤ ، دکلي یوشمېر کسان د دیوالونو چنو ته ناست وو مونږ ته یې په پراخه تندي ستړي مشي وویل ، د اودسونو لپاره یې سمدستي اوبه راوړې اودس او لمونځ مو وکړ .دلمانځه نه وروسته یې دکلي حجرې ته بوتلو . دغه حجره دټول کلي شریکه وه او ټولو کلیوالو په شریکه هلته ډوډۍ راوړه او زمونږه یې خورا زیاته میلمه پالنه وکړه ، دماسختن لمانځه نه وروسته دکلي یوتن سپین ږیري زما پلار ته وویل چې سباته په ګندهاب کې د ماسل خان ملك په ځای د حلیم زو دقوم غونډه ده چې د افغانستان دحالاتو په باب جوړه شوې ده .

پلارمې ترې پوښتنه وکړه چې چا جوړه کړې ده نو هغه سپین ږیري وویل چې مونږ ته پوره پته نشته خواوښې ته دسید کریم خان لور ناسته ده مصرف یې میر افضل خان کړی دی . میر افضل خان دګوشتې دخانانوله کورنۍ نه وو چې د اعلیحضرت ظاهرشاه دکورنۍ سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوي درلوده اوپه وروستيو کلونوکې پېښور کې په خپل مرګ وفات شو ، مير افضل خان دکورنيو چارو په وزارت کې پخوانی مامور ؤ چې د پلار مې هم ډېر نږدې دوست ؤ . هماغه ؤ چې سهار دکلي دخلکو سره يوځای مونږ هم دجرګې ځای ته ورغلو .

ښتګه چې مير افضل خان زما پلار وليد نو ډېر خوشحاله شو او زمونږ د راتګ پوښتنه يې وکړه. پلار مې ورته وويل چې پېښورته روان يوو او هجرت مو وکړ چې خپلو کورنيو ته ځايونه پيداکړو .

پلار مې مير افضل خان نه پوښتنه وکړه چې دا جرګه چا جوړه کړې ده ؟ هغه په ځواب کې وويل چې جرګه جنرال علومي جوړه کړې ده چې دمومندو قوم جهاد ته ملا وتړ ي. مير افضل خان او جنرال علومي هم سره خپلوي درلوده ، مونږ يې سمدستي خاص کوټې ته بوتلو هلته جنرال علومي او دپېچ درې شاه محمود صافی چې مخکې دجلال آباد دګمرك مدير ؤ ، ناست وو ،هغوئ زما پلار او ښارنوال محمد صالح معريفي کړل اوپه جرګه کې يې زما پلارته وخت ورکړ چې خبرې وکړي پلارمې چې دخبرو کولو خورا فصاحت يې درلود جرګې ته يې دکابل دکمونيست رژيم په ظلمونو، بې ديني او فجايعو باندې رڼا واچوله ، پلارمې جرګې ته وويل چې کله د انګرېزانوپه مقابل کې دمومندو قبايلوغزا کوله نو زمونږمشرانو تاسو سره يوځای لښکري کولې او د تاسې سره اوږه په اوږه جنګېدل . او س چې په کابل کې کفر را غلی نومونږ په تاسې دابدله لرو چې راپاځېږئ او له مونږ سره يوځای ملا وتړئ .

جرګې په پای کې تړولو تصميم ونيو چې دمومندو يو لوی لښکر به تيارېږي او دغزا لپاره به دکابل رژيم پرضد د افغانستان په لوري حرکت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ته صحیح پته وه نه لږېده چې د جرګې ترشاڅوك دي خو دا ښکاره وه دجرګې جوړونکې ډله د افغانستان د پخواني پادشاه محمد ظاهرشاه طرفداران وو.

مونږ دجرګې له پای ته رسېدو نه وروسته له ګندهاب څخه پس له څو ورځو مزل او ستړیا نه په موټرکې سپاره شوو او د شبقدر په لوري مو حرکت وکړ ، شپه مو مچنئ سره نږدې دورسك کمپ ته یوړه . زما خسر او یو شمېر نور خپلوان هلته اوسېدل ، ورسك کې دپاکستان حکومت ،دحکمتیار اسلامي حزب پورې مربوط مهاجرینو اومجاهدینوته ځای ورکړی وو. دورسك سیمه دکونړ سیند په غاړه پرته ده ،په دغه ځای کې دپاکستان یوه فوځي قطعه هم پرته وه چې دمجاهدینو او مهاجرینو کورونه دیوې ویالې په واسطه چې دورسك په عسکري قطعه کې دننه بهېدله جدا شوي وو..

د ورسك په کمپ کې پرتګ او راتګ ډېر سخت بندیز وو ، کمپ کې اوسېدونکې کسانو ته مخصوص کارتونه ورکړل شوي وو ، دمېلمنو او بیروني کسانو نومونه په یوکتاب کې دمکملې پېژندګلوي نه وروسته درجېدل ، وروسته به مؤظف نفر دمېلمه دخپلوانو او دوستانو کورته خبر ور وړه اوبیا به هغه ځای نه یوتن راته اوپس له هغې  به مېلمه ته دکمپ د ورننوتلو اجازه ورکول کېده ، دکمپ نه دوتلو په وخت کې به هم مؤظف نفر په کتاب کې ننښه کوله چې ګوندې څوك دبلې لارې کمپ ته نه وي داخل شوی . دجهادپه لومړي کلونوکې د ورسك کمپ دحکمتیار د اسلامي حزب دغړیو یو مهم او خاص ځای ؤ خو په ورستي کلونو کې چې نور کمپونه جوړ شول د اسلامي حزب مهم کسان هم دورسك نه نورو ځایو نو ته خواره واره شول  او دمجاهدینولپاره دورسك نمبر۲ غنډ په نامه یولوی کمپ دغره په غاړه کې جوړ شو چې هلته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهدينوته فوځي زده کړه ورکول کېده او هم به چې دافغانستان څخه مجاهدين ورتلل هماغه کمپ کې به اوسېدل .
ورسك کې دمهاجرينو د کورنيو ژوند خورامشکل وو ځکه په يو کورکې دوه درې کورنۍ او سېدلې ، نارينه به بيرون د ونو لاندې دشپې پرېوتل ، د پېښور دښار نه هم خورا لرې و نو دسودا اخستلو لپاره مجبور وو چې د پېښور ښار ته لاړ شي ، دمېلمنولپاره هم قيد و بست ډېر ؤ . هغه کسان چې په ورسك کې يې خپلوان درلودل له ويرې څخه هلته نه شول تللی چې خپل خپلوان يا دوستان وګوري ځکه چې اسلامي حزب به کوم کسان بنديانول هغه به يې هلته په ورسك کې ساتل . دکابل رژيم به د ورسك دکمپ پرضد ډېرسخت تبليغات کول چې ګوندې دحکمتيار اسلامي حزب خلك وژني ، نو په دې حساب زياتره هغه کسان چې دحزب غړي نه وو دورسك دکمپ نه به يې يو قسم وېره او ترهه کېدله .
تقريباً دوه اوونۍ مو په پېښورکې تېرې کړې ځارنوال محمد صالح او پلارمې داسلامي حزب مشر انجينر ګلبدين حکمتيار، دهغه مرستيال قاضي محمد امين وقاد او د ملي نجات دجبهې مشر حضرت صبغت الله مجددي سره وکتل ، د اسلامي حزب مشر انجينرحکمتيار زما پلارته د مومندرې دجبهې په قوماندان معلم نادرخان باندې مکتوب ورکړ ترڅو مونږ سره دخاص کونړ دولسوال دنيولو په پروګرام کې مرسته وکړي هماغه وو چې دپېښور نه مو ديوشمېر خپلوانوسره يوځاى بېرته دخاص کونړ په لورې حرکت وکړ . په لاره کې به مو چې چېرته دمه کوله زياتره کسان دګندهاب په جرګه کې دپلار دوينا او پېښورته زمونږ دتګ نه خبروو ،د مونږ سره دا سودا پيداشوله چې دکابل رژيم خو خامخا زمونږ دتګ نه خبردی او داسې نه چې زمونږ دکورنيو نه يې څوك بنديان کړي وي . په مزرې چينه کې مودمعلم نادرخان سره د دويم ځل لپاره وکتل او هغه ته مو د انجينر حکمتيار ليك ورکړ . معلم نادر خان وويل چې تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړشئ او زمونږ مجاهدین به دشپې له خوا خاص کونړ ته ځانونه در ورسوي ! ځکه که محاهدین د ورځې حرکت وکړي نو دکابل رژیم دمومندو په قبائلوکې جاسوسان لري چې مخابرې ورسره دي نو زمونږ د حرکت دلوري نه خبرېږي .
مونږ بلاخره د ۱۳۵۸ کال دثور دمیاشتې په اخرو شپو کې خاص کونړ ته ورسېدو دماښام دتیارې نه وروسته خپلو کورونوته داخل شولو . زمونږ کورونو کې خیریت ؤ خو زما دکاکا زوی سید فضل ربي میاخیل چې دمنګوال په منځني ښوونځي کې معلم ؤ وویل چې دخاص کونړ ولسوال پېښورته ستاسې په تګ باندې خبر دی او له مانه یې پوښتنه وکړه خو ما ورته وویل چې هغوئ پېښورته په دې غرض تللي دي چې زمونږ هغه خپلوان چې مخکې مهاجرشوي دي بیرته دځان سره راولي او خپل فامیلونه یې همدلته پرښودلي دي . ولسوال وویل که داسې وي نو ښه ده .
ددې لپاره چې دمنګوال سیمې ته دولسوال دراتګ زمینه مساعده کړو نوزما دخسر ، مولوي غلام حضرت دهقانان مو راوغوښتل او دحاصلاتو پوښتنه مو ترې وکړه هغوئ وویل چې ولسوال امرکړی چې حاصلات چاته ورنه کړئ . مونږ ورته وویل چې ولسوال ته احوال ورکړه چې مولوي غلام حضرت پخپله راغلی او خپل کور کې دی نوحاصلات یې ورکړو او کنه ؟ کومې کورنۍ به چې مهاجرې شوې نو خلکي ریژیم به دهغوئ کورونه چورکول او دهقانانو ته به یې ویلې چې حاصلات با ید حکومت ته وسپاري. ولسوال چې زمونږ دراتګ نه بېرته خاص کونړ ته خبرشو نو په دې فکر و چې واقعاً زمونږ خپلوان بیرته کونړ ته ستانه شوي دي نو تصمیم یې نیولی وو چې زمونږ ځای ته راشي . متاءسفانه په همدغه شپه زمونږ یوشمېر خپلوان چې زمونږ سره پېښور نه راغلی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې نه شول او دحکومت له وېرې بېرته غرونو ته وختل ، له بله پلوه دشهیدمعلم نادرخان دمجاهدینو هم څه پته ونه لګېده .
ولسوال عثمان غني په سبا تقریباً د دېرش کسانو سره په ناڅاپي توګه زمونږ کورته راغی . په دغه وخت کې زمونږ په کلاکې زما د تره زوی معلم عبدالودود ، دترور زوی مې خدای بښلی معلم عبدالصبور عزیزي ، ترونه چې خدای ښښلي وکیل عبدالقادر او سید حسام موجود ؤ ، کله چې ولسوال زمونږ دکور په لوري را روان ؤ زما دتره لمسي سید افاق زما پلارته خبر راوړ چې ولسوال د دېرو کسانوسره زمونږ دکور په لوري راروان دی .
دا ډېره سخته شیبه وه چې حتماً ولسوال زمونږ دنیولو خیال لري او مخکې له دې چې مونږ ژوندي ونیسي نوباید یوڅه مقاومت وکړو ځکه دنیولو په صورت کې به زمونږ سزا بې له مرګه بل څه نه وي ، دجګړې او مقاومت په حالت به څه کېږي په داسې حال کې چې زمونږ ټول ماشومان او ښځې په کلا کې دننه موجود ؤ د تېښتې لاره هم نه وه ، پلارمې سمدستي وویل چې زما تره وکیل سید عبدالقادر چې دېره کې پروت ؤ او مریض هم ؤ دننه راولئ او پلارمې پخپله زمونږ دکور یوې چتې (بالاخانې) ته دټوپك سره وخوت . په دغه وخت کې زما د ترور زوی معلم عبدالصبور په وارخطایي راغی او زما پلارته وویلې که ته په ولسوال باندې ډزې وکړ ې نو ټوله کورنۍ به تباه کړي ، نوباید چې څه عکس العمل ښکاره نه کړې! پلار مې ورته وویلې چې که ولسوال خامخا کلاته په زوره رانتوته اوزه یې نیولم نو خامخا به زه عکس العمل ښکاره کوم او تر اخرې سلګۍ پورې به مقاومت کوم او که کلا ته په زوره را دننه نه شو نو زه هم څه غرض پرې نه لرم ځکه زمونږ قوت کمزوری دی زمونږ سره فقط دوه تمانچې او یو پنځه ډزی قلاتی ټوپك ؤ یوه وړه پچیس چکوسلواکیایي تمانچه زما سره وه اوبله هسپانوي لاما تمانچه خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ ته دبېرته ستنیدو په وخت کې دګردي غوث لمسي میا زرین چې دکلاول په کلي کې اوسېده دخپلې غاړې تمانچه یې زما پلار ته ورکړه او ورته وې ویل چې ولسوال ستاسې دتګ نه پېښورته خبر دی او ډېر احتیاط باید وکړ ي . میازرین دلومړي ځل لپاره مونږ په څپري کې ولید، خو په غیاب کې یې مونږ پېژندلو چې البته دا دهغه ډېر اخلاص ؤ چې خپله تمانچه یې زما پلار ته ورکړه .

ولسوال عثمان غني چې زمونږ دیرې ته را ورسېد دمنګوال او شاو خوا کلیو یوشمېر سپین ږیري او تقریباً شل کسه مسلح خلقیان ورسره وو، په کټونوکې دکېناستلوڅخه وروسته یې سمدستي زماڅخه پوښتنه وکړه چې مدیر صیب (پلارمې)چیرته دی ؟ د دې لپاره چې دولسوال نیت معلوم کړم نو ماورته وویل چې هغه دکاویږ کلي ته لږ ساعت دمخه تللی دی که ضرورت وي نو څوك به ورپسې ولیږم؟ ولسوال دلږ شیبې چرت څخه وروسته وویل چې نه، که راغی نو ورته ووایه چې د حکومت (ولسوالي) پورې یوځل راشي چې زما ورسره کار دی . ولسوال تقریباً نیم ساعت معطل شو ، مونږ هم ورته په بېړه چای ورکړ .د یوې پیالې چای څښلو نه وروسته ولسوال دخپلو کسانو سره رخصت شو او دکونړ دسیند په لوري وخوځېد ، مونږ فکر وکړ چې ګوندې دڅارنوال محمد صالح دنیولو پسې لاړ، ځکه دهغه کور دسیند په غاړه وو. ولسوال هم وارخطا معلومېده اوپه کومه لاره چې راغلی و هغه یې بدله کړه او په بله لاره د ولسوالۍ مرکز ته لاړ .

ولسوال چې څنګه خپل ځای ته رسېدلی و نو زما د ترور زوی معلم عبدالوکیل او دهغه وراره مامور عبد الظاهر یې سمدستي دجرګې په توګه راولیږل او پلارته مې یې وویل چې ولسوال وایي چې ته ولې پاکستان ته ځې ؟ که حکومت له دندې ګوښه کړی یې زه به دې بېرته په خپله دنده وګومارم او که څه بله ستونزه وي هغه به هم زه حل کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنګوال کلی دخاص کونړ د ولسوالۍ لوېديځ پلوته دسرحدي غره په لمن کې پروت دی چې تقريباً په نيم ساعت کې يو تن کولای شي چې دحکومت دتسلط دسيمې څخه ووځي او د ولسوالۍ دمرکز پورې تقريباً دوه ساعته پياده مزل دی . پلارمې دوی ته وويل چې مونږ د اسلام په خاطر غواړو چې هجرت وکړو ، د وظيفې تقرر چندان اهميت نه لري او نه زه له دندې څخه ګوښه کړی شوی يم ، ترڅو چې دا خلکيان په قدرت کې وي تر هغه به هېڅکله د رژيم سره همکاري ونه کړم . دوی دشپې بېرته رخصت شول او مونږ دهجرت لپاره ځان تيارکړ . ددې لپاره چې ولسوال سباته چې دپنجشنبې ورځ وه مونږ مصروف وساتي ، ترڅو زمونږ او ښارنوال صالح محمد د نيولو لپاره ترتيبات ونيسي هماغه و چې دوه کسه خلقيان يې راولېږل چې يويې عزيز الرحمان چې مشهور په زلمي و چې دپلار مې دخوريي زوی و او بل احمد ګلهوړ ، دکوکی بانډې دميرزاخانجان زوی چې دلېسې په دوره کې زما ټولګيوال و. خلکيانو په هر کور کې خپل جاسوسان روزلي وو او زياد کسان دخپلو خپلوانوله لاسه جيلونو او يا پولي ګونونو(وژل کېدوځای) ته ولېږل شوو. خلکيانوته دا په غوږ ويل شوي ؤ چې کمونيستي انقلاب هغه وخت بري ته رسېدلی شي چې سړی دخپلوخپلوانو هېڅ پروا ونه لري او هرڅوك چې دکمونيستي انقلاب مخالف دی هغه بايد له منځه يوسي ،و لو که هغه دکمونيستانو پلار ، ورورا‌و يا خپل وي . زيات پلرونه دخپلو زامنو له خوا او ورونه دخپلو ورونو له خوامړه او يا بنديان شول ، هر خلکي غړي به چې داسې وکړل نو هغه ته به مادي امتيازات او يا کومه لوړه څوکۍ ورکول کېدله او په دې ډول به يې ګوند ته وفاداري ښودله، دوی ته مې پلار وويل چې زه به سباته تنرکلي  ته ورشم ته ورشم چيرته چې زمونږ دتروروزو کورو او ولسوال دې هم هلته راشي هماغلته به وګورو  ترڅو هغه په تمه پاتې  شي او په مونږ پسې نوره قوه راونه لېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم زمونږ دهجرت دحرکت وخت دشپې له خوا وو خو څنګه چې زلمی او احمد رخصت شو، دسهار اته بجې وې او دثور دمیاشتې **۲۹** نېټه وه پلارمې قرآن شریف را وا خیسته مخ په قبله و دریډ او وې ویل چې خدایه مونږ خاص ستا ددین په خاطر هجرت کوو ته دمونږ سره مرسته وکړې! د خدای ښېلي تره وکیل سیدعبدالقادر سره چې سخت مریض و او سترګې یې په او ښکوکې غرقې غرقې کېدلې د آخري ځل لپاره خدای په اماني وکړه او په یوه جوړه جاموکې مو دښځو او ماشومانو سره یوځای دغره په لوري حرکت وکړ .دومره فرصت نه وو چې دضروري شیانو دحمل اونقل لپاره مو څه وسایل برابر کړي وای .
مور مې چې مریضه وه او نه یې شو کولای چې د غره په لاره زمونږ سره یوځای مزل وکړي هغه مو د دوه وړوکو ورونو او وړو کې خور سره د کلي ګرام کلي ته دپلار دسانډو (باجه) خدای ښېلي ملك میر حبیب کورته ولیږله ترڅو دهغه ځای نه جلال آباد ته او بیا د طورخم په لاره پېښورته راشي ، مونږ سره زما کاکا سید حسام او دهغوئ کورنۍ هم یوځای هجرت وکړ .
څرنګه چې زمونږ دهجرت کولو پروګرام دجوزا دمیاشتې د شلمې نیټې په شاوخواکې وو تر څو مې ورور سلطان محمود چې د مزارشریف دکرهنې په لیسه کې یې سبق وایه هم راشي نومونږ باید د هغه دلیسې درخصت کېدو پورې صبر کړی وای خو شرایط داسې راغلل که مونږ یوڅو ساعته نور معطل شوي وای نو زمونږ نیول کېدل د رژیم له خوا حتمي و .
مونږ لومړي کسان وو چې دخاص کونړ د ولسوالۍ نه مو په رڼا ورځ دخپلو ماشومانو او تور سرو سره یو ځای هجرت وکړ ځکه تر دغه وخته هر څوك به دشپې له خوا په ډېره وېره دخلکیانو دامنیتي پوستو ترمنځ تېرېدل نو هڅه به یې کوله چې واړه ماشومان ونه ژاړي تر څو د امنیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستو مؤظف کسان خبرنه شي ، تر دغه وخته هجرت کول دومره مشکل وچې دنیول کیدو په صورت کې مرګ حتمي وو.
تر هجرت وروسته د څپرې ملك محمدایوب راته وویل چې کله دګور یك دکلي اخوند زادګانو دمدیر عبد الشکور بابکرخیل په مشري هجرت کاوه نو په لاره کې ترې یوماشوم پاتې شوی ؤ ځکه هر سړی پرخپل ځان و اونه پوهېدل چې څه به کېږي او راتلونکی به څنګه وي هرسړی په سوچونو کې ډوب روان و او د ځان پسې یې پښې راښکلې هغه وړوکی ماشوم یې پس له څو ساعتونو پلټنې څخه وروسته په لاره کې پیدا کړی و .
کله چې مونږ دکور نه حرکت وکړ نو پلار مې زما دترور زوی معلم عبدالصبور چې د زلمي تره وهغه ته وویل ، وویل چې ته خپل کورته ژر لاړ شه او کله چې ولسوال ستاسې کورته راغی نو ورته ووایه چې مونږ وختي هجرت کړی دی ځکه مونږ سره دا وېره وه ګوندې نه چې ولسوال مونږ پسې فوځ دغره په لوري راو نه لیږي ځکه په هغه صورت کې زمونږ سره دمقاومت لپاره هېڅ وسایل نه وو او هم واړه ماشومان چې په غره کې یې مزل نه شوکولای راسره وو .
په ډېر تکلیف سره موغرمه دبرچنچن کلي ته ورسوله ، غرمه مو د خان کاکا سره چې زما دخسر سره مخکې دهقان و تېره کړه . دبرچنچن کلي دهسکو غرونو په منځ کې ډوب پروت دی ،دکلي ولس تقریباً **۱۵** کوره دی او په قام باره خیل دي ، دبرچنچن خلك په اقتصادي لحاظ ډېر زیات غریب دي خو سره له غریبۍ ډېر زیات مېلمه پال دي، دجهاد په اوږدو کې برچنچن خلکو دمجاهدینو او مهاجرینو سره چې په دغه لار تېرېدل ډېرې زیاتې مرستې کړې دي ، د لغمان،تګاؤ او د کوز کونړ دسیمو دمهاجرینو او مجاهدینو لار په برچنچن او څپرې په کلیو وه ، دخلکو دعایداتو منبع مالداري او دمالونو انتقال دخاص کونړ او ګندهاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر منځ وو چې جوړې به یې ورته ویلې اوبعضې کسانویې دپاکستان په مختلفو ښارونو کې چوکې داري کوله ، ټول کلي کې یو تن چې ګلاب نومیږي د عبدالخېلو دقبایلو په ابتدائیه ښوونځي کې تر شپږم ټولګي پورې سبق ویلی و نور ټول کلي کې هېچا لیك او لوست نه شو کولای یو وړوکی جومات دکلي په منځ کې و خو ملا امام یې نه درلود .
په ټول کلي کې یو تن چې امیرجان نومېده یو اضافه کوټه دغره په یو کنج کې دکلي نه لرې جدا درلوده نو مونږ ترې و غوښتل که دغه کوټه مونږ ته د اوسېدو لپاره راکړي نو دابه زیاته ښېګڼه وي تر یو وخته پورې به پکې واوسېږو .
څرنګه چې دکلي ولس دکابل د رژیم دبمباریو نه وېرېدل او هم د کلي ټول ورځنۍ اړتیاوې دخاص کونړ د ولسوالي نه برابرو چې دغره خلك ورته سمه (هواره ځمکه ) وایي نو دا وېره ورسره وه که دوئ مونږ ته پناه راکړي ، نو دوی به د خاص کونړ د ولسوالۍ نه منع شي ځکه دکابل رژیم ټولو مهاجرینو ته اشرار ویل او اشرارو ته پناه ورکول یوه لویه ګناه وه.
هماغه و چې امیرجان چې مونږ ورته امیر جان ماما وایه مونږ ته یې خپله کوټه رانه کړه او مونږ مجبور شوو چې یوه بل لرې کلي ته چې کنډوالی نومیده او هلته زما د تره سیدحسام دکډې (ښځه)خپلوان وو لاړ شوو . د برچنچن او کنډوالی تر منځ یو ډېر سخت جګ غاښی دی چې د ګنو ځېریو تر منځ ورته لار تللې وه او پس له شپږ ساعتونو اوږده مزل نه دکنډوالی کلي ته ورسېدو او دخاتم ملك کورته چې زما د تره د کډې تروږزی و، ورغلو .
خاتم ملك ته مې پلار وویل چې مونږ دحکومت له لاسه را مهاجر شوي یوو او غواړو چې دلته دېره شوو. خاتم ملك چې په قام ماماخیل و، وویل چې مونږ په دواړو سترګو تاسې ته ځای درکوو او هرکور مو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ وي هغه به تاسې ته خالي کړو ، په کنډوالی کې هم يوځو په ګوتو شمېر کورونه چې ټول سره تربوران وو استوګنه درلوده او د دوی ژوند په مالداری ولاړ و ځرنګه چې مونږ دخاتم ملك سره د خپلولي اړيکې درلودې نو نورو دتره زامنو يې هم د دوی مخالفت نه شو کولای چې مونږ هلته دېره نه شو ځکه دپښتني دود او دستور په اساس پښتانه خپلوانو ته په سخته کې پناه ورکوي او مرسته هم ورسره کوي .
دکنډوالی کلی مونږ مخکې نه وليدلی او لارې نه ډېربچ يعنې په کنج کې پروت دی او د خلکو به پرې هېڅ تګ او راتګ نه و ، شپه مو چې تېره کړه پلارمې راته وويل چې دا کلی زمونږ د اوسېدو لپاره ښه نه دی ځکه چې مونږ خو د دې لپاره هجرت نه دی کړی چې په غره کې واوسېږو ، زمونږ هدف خو دا دی چې دخاص کونړ د وضيعيت نه بايد خبرشو او هم خلك بايد جهاد ته تيارکړو چې دحکومت پرضد قيام وکړي ،زمونږ لپاره د اوسېدو ښه ځای په لومړي قدم کې دبرچنچن کلي او په دويم قدم کې دځپري کلي دی چې دواړه په لاره کې پراته دي او دخلکو تګ او راتګ پرې ډېر دی .
د ځپرې دکلي اولس په قام بوټی خېل دي چې ماماخېل هم په برځپري کلي کې استوګن دي ،چاچې په قبائلو کې ژوندکړی نه وي نو دهغه خلکوپه دود او کولتور باندې سړی سهي نه پوهېږي ، قبيلوي ژوند په ګونديو (ډلو)ولاړ دی دکلي هره کورنۍ مجبوره ده چې په يوه ګوند کې واوسېږي اوګوندي زياتره په کلي او کور کې د دښمنيو او تربګنيو په اساس جوړېږي چې د دغه ګونديو سلسله د مومندو ديوه سرنه نيولي تر بل سره پورې موجوده ده او هره کورنۍ دبل کلي ديوې کورنۍ سره په ګوندي کې شراکت لري او حتیٰ چې ځوك غواړي چې په کوم کلي کې خپلولي وکړي نوبايد چې په خپله ګوندي يا ډله کې وکړي زياتره دګونديو اړيکي په همدې ډول خپلوليو باندې ولاړې دي ،که ځوك په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کلي کې دښمني لري نو دګوندي ډله دهغوسره هرنوع مادي او معنوي مرستې کوي او حتی سرې دمورچلو دساتلو لپاره ورته لېږي .
د دغه خپلویو سلسله دومره دقیقه او سنجول شوې ده چې په یوه کورکې د دوه ورونوترمنځ خپلوان هم معلوم دي د دوی ترمنځ او یا د دوی د زامنو ترمنځ چې په خپل منځ کې سره تربوران دي دښمني پېښېږي نو دهرچا خپلوان او طرفداران یعنې دګوندي ډله معلومه ده او حتی یو ورور نه شي کولای چې دهغه بل ورور دخپل سره نوې خپلوي وکړي .
څرنګه چې دمومندو په قبائلو کې حکومت او یا هم لیکلي قوانین نشته دي نو ټول قوانین د نرخ ،دود او دستور په شکل دهرچا تقریباً زده دي او چاته چې په بعضې پېښو کې څه مشکل وي نو د کلي دمشر یا بل هغه څوك چې په نرخ پوهېږي دهغه نه پوښتنه کوي او دا په دې خاطرکوي که داسې عمل چې د دوی دنرخ یا دود په خلاف وي باید ونه کړي که نه بیا دجرګې له خوا ملامتېږي ، همدا علت دی چې دمومندو په قبائلو کې نظم برقراردی او هر سړی په خپله لاره سم روان دی ، چاچې دقبیلوي نرخ یاقانون نه سرغړونه وکړه د قام له خوا هغه ته سزا ورکول کېږي ، زیاتره قوانین لکه د انګلستان دقوانینوپه شان په روایتي اصولو ولاړ دي .
د اصلي موضوع نه باید لرې لاړ نه شم دبوټي خېلو په قوم کې په دغه وخت کې دوه ګوندي موجودې دي چې دیوې خوا دګوندي مشر دکوز څپري ملك محمد ایوب خان دی او دبلې خوا دګوندي مشر دبرڅپري ملك خلیل و چې دواړه نژدې د تره زامن هم وو .
د دواړو کورنیو ترمنځ دښمني (پتنه) دخپلو خپلوانو دلنګې (طرفداري) په اساس پیدای شوې وه .
دبرچنچن اوسېدونکي په قوم باره خېل او دملك محمد ایوب خان په ګوندي کې و او بل کلی چې دانارو په نامه یادېږي دهغه اوسېدونکي دملك خلیل په ګوند کې و ،چې د دواړو کلیوتر منځ هم پتنه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکنډوالی دکلي اوسېدونکي دملك محمد ایوب خان په ګوند کې و او کله چې مونږ دخاتم ملك سره دبرچنچن په کلي کې د اوسېدو مسئله مطرح کړه هغه وویل چې د برچنچن اوسېدونکي دملك محمدایوب خان دګوند غړي او هم نږدې خپلوان دي او هم د هغه ورور حاجي عمر د وه کوټې دبرچنچن په کلي کې شته دي او زه فکر کوم چې هغوی به تاسې ته خپلې کوټې هم درکړي ، هماغمه و چې زه او پلارمې د ځپرې په لور وخوځېدو او خپله کورنۍ مو په کنډوالی کې پرېښوده ، دکنډوالی او د ځپری کلیو تر منځ یو ډېر سخت غاښی (کوتل )پروت دی او په ډېرتکلیف سره چې دجوزا دمیاشتې لومړۍ نېټه وه او د(برو) سخت تود باد لړیده د ماسپښين له پلوه کوز ځپر کلي ته ورسېدو او راسًا دملك محمد ایوب خان کورته لاړو ، دملك محمد ایوب خان ورور اروانباد حاجي عمر چې زما دپلار مخکینی دوست و او زمونږ دکورنۍ سره یې نژدې اړیکې درلودې چې دهمدغه نژدې اړیکو په اساس وروسته مونږ دملك محمد ایوب خان لسمۍ چې دملك محمد علي لور ده خپل ورور ته وغوښته او د دوی دکورنۍ سره زمونږ دخپلوي اړیکې جوړې شوې .

تصادفاً په همدغه وخت کې دبرچنچن امیرجان ماما هم په ځپري کې و. مخکې له دې چې مونږ دکور موضوع دملك محمد ایوب خان سره مطرح کړو هغه مونږ ته وویل چې دتاسې لپاره خپله کوټه خالي کړي او هرڅه چې پېښېږي هغه به کېږي او زه دتاسې پسې راغلی وم چې تاسې پیداکړم ، ځرنګه چې مامخکې وویل چې دمومندو قوم د ستانه دارو ډېر احترام کوي نو امیرجان ماما ته دا خبره ډېره بده درېدلې وه چې ولې یې مخکې مونږ ته ځای رانه کړ او په خپله خبره پیښمانه شوی و او په ډېر عذر یې وویل چې تاسې به حتمي زماپه ځای کې اوسېږئ ، امیرجان ماما وویل چې ده دکلي نورو اوسېدونکوسره هم مصلحت کړی دی او هغوی هم په دې راضي دي چې مونږ هلته واوسېږو ، ځرنګه چې دځپرې کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زمونږ دتګ اصلي موخه دځای پيداکول و هغه ترسره شوه، نو پلارمې د اميرجان ماما سره دبرچنچن په لوري وخوځېد او ما ته يې دنده راکړه چې واړه (فاميل) دکنډوالی دکلي نه برچنچن ته راولم .

داميرجان ماما کوټه چې دغره په څنډه کې پرته وه، وړه وه، چې يواځې ښځې او ماشومان پکې په ولاړه ځاېدل اومونږ په لاندې خوړ کې په جومات کې اوسېدو چې مېلمانه به هم هلته دمونږ سره دباران په صورت کې په جومات کې او سېدل .کله چې زه دکنډوالي کلی ته ورسېدم او خاتم ملك ته مودکوټې دپيداکوخبره وکړه نوهغه په دې اصرار وکړچې مونږ بايد حتمي يوڅوشپې هلته پاتې شو چې بالاخره يې مونږ ه يې يوه اونۍ هلته معطل کړو او زمونږ يې ډېره زياته مېلمه پالنه وکړه .

هماغه وه چې ما يواځې خپله کورنۍ برچنچن ته راوستله او دسيد حسام کاکافاميل هماغلته په کنډوالی کې پاتې شو . د اميرجان ماما کوټه هم زمونږ پخلنځای و ، هم تحويل خانه او هم دماشومانو لپاره د استراحت خونه ، دبرچنچن اوسېدونکو زمونږ د راتګ نه دمخه دشپې له خوا زمونږ دکور يوځه ضروري شيان چې دمنګوال په کلي کې زما دتره زوی سيد عبدالودود کره وو دشپې له خوا راوړی وو او دبرچنچن په کلي کې مو دجهاد دپيل کېدو په نيت دېره جوړه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

# شپږم څپرکی

## د مومندو لښکر :

د ۱۳۸۵ هـ ش کال دجوزا دمیاشتې تقریباً نیمایي وه چې د مومندو لښکر دمیچنې او ګندهاب دسیمو نه چې د پېښور شبقدر ته نږدې سیمې دي راخوځیدلی وو او د زیارت په غاښي کې یې یوه لویه غونډه کړې وه ، دزیارت غاښی چې دمزرې چینې او کوډاخېلو ترمنځ یوه وړه غونډۍ ده چې دمومندوقبائل همېشه خپلې مهمې غونډې هلته کوي .
دلښکر مشرانو فیصله کړې وه چې دقبائلو لښکربايد دوه برخې شي چې یوه برخه باید دننګرهارولایت کامې اوګوشتې ولسوالیو په لوري لاړه شي او بله برخه د خاص کونړ د ولسوالیو په لوري جهاد پیل کړي . دمومندو دقبائلو زیاته برخه چې ټول ترك زي ، حلیم زي،خویزي او هم دبیزو یوه زیاته برخه دګوشتې او کامې په لوري خوځیدلي وو چې د دوی مشري ، دکوډاخېلو سیال میراجان کوله ، که څه هم نوموړی دقوم له خواد دغه لښکر دمشر په توګه نه وټاکل شوی خو خورامهم رول یې درلود ، سیال میراجان چې مشهور لیکوال او ادیب هم و په افغانستان کې یې ډېرې ځمکې اوجایدادونه درلودل چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور د کودتاه نه وروسته یې افغانستان پرېښود او په خپل اصلي ټاټوبي کو ډاخېلوکې دېره شو .
سیال میراجان دملك امین دکوډاخېلوسره دځو لسیزو زړه دښمني درلوده چې په همدې اساس دامین کورنۍ دکابل دررژیم پلوي وه خو دلښکر مخه یې نه شوه نیولی ځکه دټول مومندقام سره مقابله ورته ستونزمنه وه ، دکامې اوګوشتې دلښکرو سره فردوس خان چې دګوشتې له خانانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و هم ملګری و. دپاکستان له خوا یوشمېر مجاهدینو ته چې د اسلامي حزب غړی وو ښې وسلې ورکړل شوې وې په مزري چینه کې د فردوس خان سره اوسیدل. حضرت صبغت الله مجددي هم دلښکرمشرانو ته یوه اندازه کارتوس او مهمات ورکړي وو او دپاکستان حکومت هم د دغه لښکر په تحریکولو کې فعاله ونډه درلوده چې زیاتره مشرانوسره یې پټې ژمنې کړې وې .

دلښکر په بله ډله کې چې دخاص کونړ په لوري یې حرکت کړی وو د عیسیٰ خېلو ، خوګاخېلو ،دشونکړې ساپي ، دمیا د درې حسن خیل او دسوری مومندو (شالی ، ولي او سرکنډ) برخه درلوده .

دخاص کونړ ولسوالۍ ته نږدې د داخلېدو نه مخکې مونږ دیوشمېر مجاهدینوسره خپل کورته ښکته شوو او دېره په دېره مو د خلکي رژیم پرضد تبلیغ پیل کړ او دخاص کونړ ولس ته مو دلښکر سره همکاري او ملاتړ ته بلنه ورکوله چې همداحرکت دخاص کونړ په ولسوالۍ کې دمسلحانه جهاد علني پیل و .کله چې مونږ ماسپښین دخاص کونړ دکنډرو کلي ته ورسېدو دمه یا د حسن خېلویوه وړه ډله دشیخ زیګر کورته راښکته شوې وه او له هغوئ مو دلښکر په اړه پوښتنه وکړه چې څه تصمیم یې نیولی وی ، هغوئ وویل چې لښکر ببګا ته د قاضي جوړ (ډنډ) سره چې دشالي او ولي ترمنځ پروت دی جرګه کوي او هلته تصمیم نیسي هماغه و چې مونږ هم دغره په طرف و خوځېدو ترڅو ماښام قاضي جوړ ته ځان ورسوو.

که څه هم دمومندو په هره کورنۍ او کلي کې مشران په مشخصه توګه نه دي ټاکل شوي خو د ګوندیو په اساس په هرکلي کې مشران معلوم دي او دهغوئ رایه دتصمیم نیولو په هکله معتبره ده ، که څه هم په اکثریت کلیو کې دکابل رژیم یوشمېر طرفداران درلودل خو دمومندو دقام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمومي حرکت پرضدیې چې د اسلام ،غزا او جهاد په نامه وه څه نه شو کولای .

په روایتي شکل د مومندو د وړو قومونو مشران د مومندو دلویو قومونویاخېلونو مشرانو پسې ځي چې په دغه لښکر کې دخوګاخېلو قوم لوی و نو د لښکر مشري هم تقریباً دخوګاخېلو دمشرانو په لاس کې وه ، د خوګاخېلو مشران حاجي عبدالخالق او فقیر حاجي وو ،څرنګه چې دواړه ډېرسپین ږیري وو نو د دوی پر ځای مشري د دوی زامنو شاه مومندملك او ملك قجیرکوله .

د شالي مشران غازي حاجي او فېروز حاجي وو دولې مشران ملك محمد ایوب خان ، ملك خلیل اوخټ ملك وو ، دعیسیٰ خېلو دقوم مشر ګل ملك نومېد ، همداشان دخاص کونړ د ولسوالۍ نه مشران زما پلار سیدمحمود حسرت دچندراؤ ، د اخون زادګانو نه څارنوال صالح محمد ، دمیاګانوله کلي نه ګل سید میا ، دکوز بوټي خېلو نه قومندان غازي محمد او دسنه خېلو نه ظاهرخان و .

دشخصي ګوندیو او دښمنیوپه اساس دغه لښکر هم دوه تقسیم شو چې دیوې ډلې مشري ملك شاه مونډ او دبلې مشري ملك قجیر کوله .

دقاضي جوړ په غونډه کې دلښکر مشرانوفیصله وکړه که چېرې د زړو دښمنیو په اساس چا په یوبل باندې برید(ډز) وکړ نوهغه کس ته به سخته سزا ورکول کېږي او دجهاد او غزا په خاطر باید ټولې زړې دښمنۍ شاته واچول شي ، که چا دلښکر فیصلې څخه خلاف سرغړونه وکړه نو کور به یې سېځل کېږي او لس لکه افغانۍ جریمه به ترې اخیستل کېږي .

لښکر دخاص کونړ دمشرانو څخه هم وغوښتل چې دوی دوه تقسیمه شي ځکه دوی دولسوالۍ اوسېدونکي دي اوباید لښکرته مشوره ورکړي ، هماغه و چې پلار مې او څارنوال محمد صالح دشاه مونډ ملك د ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره او قومندان غازي محمد او نور مشران دملك قجير د ډلې سره شول .په همدغه شپه دملك قجير ډله په دې فكر وه چې د خاص كونړ په ولسوالۍ باندې حمله بلې شپې ته معطله شي خو دشاه مونډ ملك ډلې غوښتل چې د خاص كونړ ولسوالۍ ته داخل شي او دخلكو سره بايد خبرې وكړي .

شاه مونډ ملك مې پلار ته مخ راواړوه چې مياصيب ستا څنګه خوښه ده نو پلارمې هم دخاص كونړ ته دكوزيدو طرفدار و نو فيصله په همدې وشوه چې كومه ډله غواړي چې داخل شي هغه دې داخل شي اوبله ډله دې سباشپې ته خاص كونړ ته راشي پلار مې شاه مونډ ملك ته وويل چې مونږ په دې شرط خاص كونړ ته ښكته كيږو چې سبا يعنې دورځې بېرته بايد غره ته ونه خېژو ځكه چې ولس د خلكي حكومت پرضد قيام ته اماده دی او حكومت هم نه شي كولای چې پر مونږ حمله وكړي .

شاه مونډملك دا خبره ومنله او دشپې په يوه بجه تقريباً د دوه سوه كسو په شاوخواكې دخاص كونړ ولسوالۍ ته داخل شو .

دلښكر يوګروپ دمنګوال په منځني ښوونځي چېرته چې د حكومت يوه پوسته وه حمله يوړه خو دمنګوال دكلي له خوا چې د حكومت نه د دفاع په خاطر ټوپكې اخيستې وې ډزې وكړې او جګړه پېښه شوه ، دښوونځی ساتونكو كلي ته و تښتېدل او لښكر د منګوال ښوونځی يوه برخه وسېځله ،لښكرهميشه بې سره روان وې او دچاقوماندې ته غوږ نه نيسي چې دلښكر ښكته كېدل ولسوالۍ ته هدف دا وو چې دخلكو سره خبرې وكړي نه داچې ښوونځي وسېځي خو يوڅو كسه چې د اسلامي حزب سره يې اړيكي درلودل د لښكر دغه ګروپ دوئ تشويق كړی ووچې په ښوونځي حمله يوسي او هغه وسېځي .لښكر هم دمنګوال دكلي دمقاومت نه وروسته بېرته دوعدې په خلاف دبرچنچن سره نږدې دروازګی سيمې ته غره ته وختل ، پلار مې چې په سيمه كې پاتې و نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازګی کې ورته لښکر منتظر و په دغه شپه زه دلښکر سره نه وم اوسهار دروازګي ته راغلم ، زما د راتګ پورې مې پلار نه و راغلی دټول لښکر او زماهم ورته سودا وه چې ګوندې حکومت نیولی نه وي .پلار مې په دې امید و چې لښکر به په سیمه کې پاتې کیږي خو لښکر بې له دې چې دیواو بل احوال نه خبر شي بیرته دغره په لوري خوځیدلي و . پلار مې چې ټوله شپه په ویښه تیره کړې وه په یو خوړ کې یې استراحت کړی و او سهار ناوخته دلسو بجو په شاوخوا کې دروازګي ته را ورسیدخو ډیر زیات په قهر او خفه وو .
د قومي لښکر اداره کول او منسجم کول څه اسانه کار نه دی ځکه چې د ډیرو خلکو نظریات په کې شامل دي او هیڅ پروګرام په سهي توګه عملي کیږدی نه شي خو سره له دې هم په دغه شپه دواړه خواته کوم ځاني تلفات ونه رسیدل . کله چې مو د لښکر بلې ډلې سره تماس ونیو نو فیصله په دې وشوه چې سبا شپې ته ټول لښکر دکلاول سره نږدې په ډاګ کې چې دخاص کونړ ولسوالي ته نږدې پروت دی راټول شي ،چې لازم تصمیم ونیسي سبا شپه لښکر چې تعداد یې تقریباً پنځه سوه کسوته رسید، دکلاول سره نږدې راټول شول او فیصله په دې وشوه چې لښکر باید بیا دوه ډلې شي او خاص کونړ ته به ښکته کیږي او بیرته به غره ته نه راخیژي ، یوه ډله دکونړ دکلي په لور وخو ځیده او بله ډله دمنګوال او کنډرو دکلي په لور چې دخاص کونړ لویدیځې برخه کې واقع و، وخوځیدلې .
په دغه شپه دکنډروکلي په کلي کې لښکر د ملیشه وو یو څه کورونه وسوځول او لښکر په خاص کونړ کې پاتې شو ، تقریباً **۹۵** کسان یواځې زمونږ په ځای کې د شاه مونډ ملك په شمول پاتې شول ، په سبا مو دمنګوال کلي ته چې اتمرخیل دي ځواب ولیږه چې تیره شپه تاسې ولې په لښکر ډزې وکړې، هغوئ په ځواب کې وویل چې مونږ فکرنه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لښكر راښكته شوى دى او يوائې څوكسه غلچكي دي چې غوښتل يې دمنګوال ښوونځى وسوځوي نو ځكه مونږ جګړه وكړه او كه دا مونه وى كړى نوبيا حكومت مونږ نه پرېښودلو ، عجيبه دا وه چې حكومت خپل موورال بايلودى وو او دلښكر مخه يې نه نيوله او يابه دا فكر ورسره و كه عكس العمل ښكاره كوي شايد چې زيات كسان ووژلاى شي ، په هر حال مونږ دمنګوال دكلي د مشرانوسره په خبرو اخته و چې د لښكر يوګروپ د لوټانو درين په سيمه كې د منور خان په كور كې چې په منوګي يې شهرت درلود، ورغلى و او غوښتل يې چې دهغه نه ټوپك واخلي ځكه چې هغه په مليشه كې و او هم دهغه زوى نور رحمٰن غرنى په كندهاركې صيب منصب و .
منور خان خپل مقاومت وښود او د ټوپك وركولونه يې ډډه وكړه او جګړه يې ددغه ګروپ سره پيل كړه، چې په لومړي سركې دخوګاخېلو دفقير حاجي لمسى شهيد شو او لښكر د منور خان كور محاصره كړ، حكومت هم دمنور خان دحمايت لپاره دخاص كونړ ولسوالۍ مليشه راولېږله او د دواړو خواو ترمنځ لاس په لاس جګړه ونښته ، دلښكر يو ګروپ چې عيسى خېل ورسره و دګل ملك قومندان غازي محمد او دهغه ورور ګل عباس په شمول دمليشه تر شا لاره ونيوله او مليشه د لښكر په منځ كې راګېرشو ، دسختې جګړې نه وروسته تقريباً دولس كسه مليشه ووژل شول اوتقريباً څلويښت ميله وسله دلښكر لاسته ورغله . د وژل شوو مليشه وو په ډله كې دمنګوال دكلي دين محمد نجاراومحمد جاله وان هم شامل و.
د دې پېښې نه وروسته دكابل رژيم دسوري تېره څوكۍ ولسوالۍ نه د اوبوس توپونو او زري پوش ټانګونوپه ذريعه دخاص كونړ دغره دغاړې سيمې دپنځه شپږ ساعتونولپاره په مسلسله توګه وويشتلې. توپونو ډېر بد اوازونه درلودل او رژيم هم غوښتل چې خپل پوره قوت وښايي او لښكر

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ووېروي دا لومړی ځل و چې مونږ د توپونوجګړه ولیده ، مابنام مونږ دچندراو کلي ته ځان ورسوه ، څارنوال محمد صالح اوقومندان غازي محمد هم هلته موجود و او وې ویل چې ټول لښکر بېرته غره ته ختلی دی او هېڅ تلفات نه شته دي .

د توپونو د ډزو په وخت کې ښځې او ماشومان ، سپین ږیري او ځوانان دغره دلمنو نه دخاص کونړ دسیند دغاړې په لوري منډې وهلې او خپل کورونه یې پرېښودل دغره د غاړې کلا ګانوته سخت زیان رسېدلی وو او یوشمېر څاروي وژل شوي ووخو ځاني تلفات یې نه درلودل .

مونږ د قومندان غازي محمد په کلا کې شپه تېره کړه او سهار وختي غره ته وختلو چې دلښکر پته ولږووو خو دلښکر هېڅ پته نه لږېده ټول خپلو کورونو ته ستانه شوي وو ، لښکر چې دکابل د رژیم دبې شمېره توپونو ډزې اورېدلې وې نو ټولې ډلې سره خورې شوې او هرچا خپلې پښې سپکې کړې وې ، مونږ غره کې خپلو کورونو ته ستانه شوو ، کله چې مونږ برچنچن ته ورسېدو او دلښکر دهغې بلې لویې برخې نه چې تعداد یې تقریباً لس زره کسانوته رسېده ځان خبر کړ. هغوئ لا پخوا ماتې خوړلې وه او خپلو کورونوته ستانه شوي وو . دګوشتې په سیمه کې دکابل رژیم په دغه لښکر بمباري کړې وه او هم یې یو تعداد کسان ترې ژوندي نیولي وو ، که فردوس خان او د حکمتیار د اسلامي حزب مجاهدینو په دغه ځای کې دکابل د رژیم د قواوو سره مقاومت نه وای کړی نو دلښکر زیاته برخه به وژل شوې او یا ژوندي نیول شوې وای ، سیال میراجان هم لښکر ته د خورېدو رایه ورکړې وه ، داسې لښکر په پخواني وختونو کې موثریت درلوده چې پرمخ تللې وسلې نه وې او په اوسني وخت کې چې دحکومت سره ډول ډول پرمخ تللې وسلې وې دلښکر لپاره ډېره مشکله وه چې په خپلو زړو ټوپکو مقاومت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعيتونو په بهير کې

---

وروسته دميراجان سيال مخاليفينو دا اوازې خپرې کړې چې ګوندې ميراجان سيال دکابل له رژيم نه پيسې اخيستي دي نو ځکه يې دلښکر دخوريدو اجازه ورکړې ده خو ما چې کله له سيال ميراجان نه په ورستيو کلونو کې په پيښور کې دلښکر دماتې په اړه پوښتنه وکړه ، نوموړي وويل چې د ننګرهار په فرقه کې ده د يوشمېر صاحب منصبانو سره چې اکثريت يې د افغان ملت ګوند غړي وو تماس درلود نو هغوئ ورته اطمنان ورکړی و چې څنګه لښکر دکامې ولسوالۍ ته داخل شو نو دوئ به د ننګرهار په يولسمه فرقه کې مسلحانه قيام وکړي او دلښکر سره به يوځای جلال آباد ونيسي خودکابل رژيم دصيب منصبانو په دغه قيام خبرشوی وو او هغوئ يې ونيول .

سيال اميرجان وويل څرنګه چې دلښکر شمېر ډېر زيات وو او ټولو يوائې ټوپکې درلودې نو دوی نه شول کولای چې دکابل رژيم د ټوپك او ټانګ سره جبهه يې جګړه وکړ ي نو که ښکته شوي وای نو په زرګونو کسان به بې ځايه وژل شوي وای او دابه زما په غاړه يو ډېر لوی تاريخي مسؤليت وي بې له دې چې کومه نتيجه په لاس راشي .

سيال اميرجان وويل چې خلك چې هر څه وايي فرق نه کوي خو زما مقصد داو چې لښکر بايد دکامې اوګوشتې ولسواليوځخه روغ رمټ وو ځي او په همدې اساس مې دلښکر دماتې مشوره ورکړه.

که څه هم دغو لښکرو دکابل درژيم سره کومه غټه جګړه ونه کړه او نه يې کومه سيمه ونيوله خو په مشرقي ولاياتو کې يې درژيم پرضد دجهاد پروسه ګړندۍ کړه او زياترو نورو قومونو ته يې دا وښودله چې دومندو لوی قام دکابل درژيم پرضد دی .

د دې خبرې يادونه ضروري بولم چې که څه هم دپاکستان حکومت د لښکر دحرکت په غير مستقيمه توګه ملاتړ کاوه خو لښکر دقوم په روايتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

جذبه جوړ شوی وو او ددغه لښکر په تشویقولوکې د یو تن ولسي شاعر رفیق جان رول خورا ارزښت درلود .

رفیق جان چې په قوم عیسی خیل و دثور دکودتاه نه وروسته یې دکابل درژیم پرضد شعرونه ویل او هغه به یې دساز(موزیك) سره په پېښور کې په کیسټونوکې کمپوز کول . د رفیق کیسټونه به په ډېره زیاته اندازه دعامو خلکو له خوا اخیستل کېدل .په دغه کیسټونوکې مومندو او هغه نورو قومونو ته چې نه یې غوښتل دکابل د رژیم پرضدقیام وکړي او یا چوپ (بې طرفه) ناست وو دپښتونولۍ پیغورونه ورکول او یوازې دساپو قوم ستاینه به یې کوله چې هغوی مخکې دپېچ په دره کې جهاد پیل کړی وو ، په شعرونوکې د مومندو قوم ته یې هم زیات پیغورونه ورکړي وو چې پلرونوبه یې دانګرېزانو په مقابل کې په میچنۍ او خاپښ کې غزاګانې کولې او د اسلام په نامه به جنګېدل اما دا چې اوس په کابل کې کفر راغلی تاسې غلی یاستئ .

خلاصه داچې د رفیق جان کېسټونه به دلښکر هرې ډلې سره وو او هغوئ به په دېرو او کورونو کې غږول او دقومونو احساسات به یې راپارول .

د رفیق جان یوشعر دنمونې په توګه رانقلوم ، دغه شعر په هغه وخت کې ده ویلی چې جهاد یوائې دکونړ ولایت دنورستان او دساپو په باډیل ،دیوه ګل، مزار،پېچ اوشونګړې دروکې پیل شوي و .

راځه یاره راځه وخت ستا دننګ دی چې ځو
په ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راپاځه ته خو یې هغه مومند
چې دواړه فرنګیان دي په ناقي کي کړه پابند
پخواني به جنګېدل اوس دې ولې ورك شو خوند
پاڅېږه دایمل دتورې شرنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
په فکرکې حیران یم باجوړو ته
د دوی مشران به پخوا ټول تله جګړو ته
ځلمو له هتکړې دي مټې نه نیسي بنګړو ته
راپاڅېږئ ځلمو ځای دغورځنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره  راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
راپاڅېږئ د دېر خلکوراپورته غوګین[1] کړي
چړاوی په سرونوکې تېره تېره سنګین کړي
لونګ په کې کارتوس شو غاړه کړئ به لونګین کړي
دپلار تورې دې بیا نیولی زنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستا دننګ دی چې ځو
د پلار په قدم ځکه قدم نه ږدي چې محتاط دي
پنځلس چې زامن یې داموندوو چې میرات دی
خپګان دی رانه  نه کوي کمزوری غوندې ذات دی
وهلې کوهستانیانو دشړی لنګ دی چې ځو
ساپو کې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
اوس کله به ښایسته ځلمی راپورته دبونېر شي
چې توره واخلي دکفارو نه چاپېرشي
چترال که راسره شو نوزمونږ لښکر به ډېر شي
کابل دمسلمان په وینورنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو

---

[1] – غوګین (۳۰۳ ) یعني سرپوښ ټوپك ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

راځه یاره راځه ستادننګ دی چې ځو
کابل بېرته اخلي په تېراکې افریدي دي
ټوپك به ځنګ ته واچوي ګلونه دریدي دي
لندن ته تښتیدلي انګریزان ترې فریادي دي
شینواري خوهر یوپه دین پتنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
شینواري پتنګان دي شو نمبر داورکزي
دټل ،پاړه چنار خلك به ټول درسره ځي
جنډې به په کابل کې دخلکیانو وسېځي
کپره د دښمن ورته بادرنګ دی چې ځو
ساپو کې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
کپره د دښمن به غوځوي وزیرمسید
هم داچې ترامید دی په دښمن  به وکړي برید
ماتم به دښمنانوباندې راولي مزید
یوګام ځمکه زمونږ تخت اورنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
یوکاڼی دوطن دسلو لالونونه زیات دي
قبضه چې رانه روس کړی ده زړه زماستي دی
ځنګل اوغرونه پریږده ډاګ یې دومره همتي دی
ښایسته یې سپیلنی لکه لونګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستا دننګ دی چې ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

ښایسته ښایسته قومونه زړه له ورکي تسلي اوس
همت ځان کې پیداکړئ دمحمود او ابدالي اوس
بېخ نه لري کچه بوټی دبنګ دی چې ځو
کابل کړئ دروس دغاصبانونه خالي اوس چې ځو
ساپوکې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستادننګ دی چې ځو
بېخ نه لري خوشې بې بنیاده غوندې بوټي دی
غوړونه دکوکري ،بریت دموږك خوله کې پشي دی
غاښونه دلیوه لري دخره یې ارغشی دی
په شکل کې د دیو نه هم بدرنګ دی چې ځو
ساپوکې په اسلام او قانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستا دننګ دی چې ځو
په ژوند کې به کوم، دکمونیست نه انکار
د دې وینا نه نه اوړم که خېژم په دار
نامه مې رفیق جان ده جوړوم ښکلي اشعار
دپاره د اسلام مې سرقلنګ دی چې ځو
په ساپوکې په اسلام اوقانون جنګ دی چې ځو
راځه یاره راځه وخت ستا دننګ دی چې ځو

## اووم څپرکی

### په خاص کونړ کې د جهاد دویمه مرحله :

دمومندو دلښکر دماتې یا خوړېدو نه وروسته دخاص کونړ نه یوشمېر زیاتې کورنۍ چې دلښکر سره یې مرسته کړې وه مهاجرې شوې او دغه مهاجرو او مجاهدینو په پېښور کې دکوم تنظیم یاډلې سره خاص روابط نه درلودل خو څرنګه چې زما پلار او څارنوال محمد صالح د ثور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياشت کې دنورو مشرانو په شمول دحکمتيار سره هم کتلي و نو حکمتيار د اسلامي حزب له خوا دکونړ ولايتي شورا دخاص کونړ په سيمه کې زما پلار د آمر په توګه او څارنوال محمد صالح يې دهغه دمرستيال په توګه منلي وو و خو د دوی سره د اسلامي حزب له خوا پرته له څو پوسترونو نور هيڅ ډول کمك نه و شوی او دوی د شخصي نفوذ او په خپل مصرف دسوري دمومندو (شالي ،ولي،سرکنړ) او خوګاخېلو دمشرانو سره تماس ونيو ترڅو دنورو قبائلونه پرته دحکومت پرضد قيام ته دوام ورکړي ځکه دې مومندو دخاص کونړ په ولسوالی کې ځمکې درلودې او هم يې زياتې ځمکې په ګروي اخيستې وې نو دکابل رژيم دشپږم نمبر فرمان په اساس چې دګروي پيسې زميندارو ته ببنلې وې دوی دډېرزيات زيانمن شوي وو نو دوئ دې ته حاضر وو چې دخپلو ګټو دساتلو په بنياد هم دحکومت په ضد مسلحانه قيام ژوندی وساتي او له هغو خلکو نه چې پيسې يې ور پورې وې ، خپلې پيسې تر لاسه کړي .
هماغه و چې د **۱۳۵۸** کال دسرطان په مياشت کې د سوري مومندو دخوګاخېلو په شمول د دويم ځل لپاره لښکر برابر کړ، د دغه لښکر شمېر چې پنځه سوه تنوته رسېد، مشري يې دخوګاخېلو د قوم نه شاه مونړ ملك او ملك قجير، دشالي نه فيروز حاجي ، غازي حاجي ،ملك محمد جان او حاجي شيرزاد، دسرکنړ دميټاخېلونه حاجي سيف الدين ، د ولي دبوټي خېلو نه ملك خليل ، ملك محمد ايوب خان او ختې ملك او دخاص کونړ نه قومندان غازي محمد ،څارنوال محمد صالح او پلار مې کوله ، دغه لښکر بالاخره د ډېرو جرګو او مصلحتونو نه وروسته دخاص کونړ ولسوالۍ ته ددويم ځل لپاره ښکته شو کلي ته کوز شوو اوپه لومړي قدم کې يې دکنډرو او بري غاړې په سيمه کې دهغو ملېشوو کورونه تالا او وسېزل چې د خاص کونړ په ولسوالۍ کې يې دندې درلودې ، که څه هم دغه ملېشوو ته له مخکې څخه خبر ورکړل شوی وو چې حکومتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

وظیفې پرېږدي دا ډېره سخته صحنه وه چې د چا کور سېزي ، مالونه يې تالاکوي اودشپې په تورتم کې يې ښځې او ماشومان نندارہ کوي ، خو ددې ترڅنګ به دورځې ملېشوو دهغو مهاجرینوکورونه هم سوزول چې د وطن څخه مهاجر شوي او یا تېښتې ته مجبورشوي وو.

مهاجرو به هم دغرو د سرونو نه دخپلو کورونو دسوزېدلو ننداره کوله او کله چې به جنګي الوتکې راغلې نو دوئ به خپل ماشومان ديوې څمڅې نه بلې څمڅې ته دپناه لپاره زغلول .

دغه لښکر ته هم بله چاره په غير دملیشه وو دکورونو دسوزولو څخه نه وه ځکه دوی سره شلخي (د دره آدم خېلوجوړ ټوپکې) تورې او تبرګي وو او په حکومتي مرکزونو نه شو ورتللی .

دسوري مومندو لښکر هم تقريباً دوه اوونۍ دوام وکړ او يوځل يې دخاص کونړ عسکري قشله (کنډك) باندې يرغل وکړ ، په دغه دوه اوونيو کې نه دمجاهدينو لښکرو ته او نه دحکومت خلکوته څه ځاني تلفات ورسېدل خو دخلقي رژیم امنیت یې په خاص کونړ کې خراب کړ .

د دې خبرې یادونه ضروري بولم چې په سلګونو دغه بې نظمه لښکر په عسکري قشلې حمله کول او یا په تش لاس ور تلل عجيبه وه چې د حکومت له خوا پردوی دمستحکمو مورچو نه دماشیندارو ،دهشکواو زيګاويك باټونه (ډزې) چلول کیدې خو سره له دې هم دهېچا پوزه سره نه شوه .

په کومه شپه چې لښکر د خاص کونړ په کنډك حمله وکړه زه هم دلښکر سره وم . د خاص کونړ په سیمه کې یوه لويه غونډۍ د ولسوالۍ په منځ کې پرته ده چې په سر کې يې عسکري چونۍ ډيره پخوا جوړه شوې ده . د غونډۍ په لویدیځه خوا د خاص کونړ کنډك په يوه لويه کلا کې ځای پر ځای و او په ختيځه خوا کې دخاص کونړ د ولسوالۍ مرکز دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغونډۍ په سر کې به یو ټولی عسکر همېشه ځای پر ځای و او دغه غونډۍ دخاص کونړ ،څوکۍ حتی سرکانو اونورګل په ولسوالیو هم حاکمه نقطه ده او دغه ځای به همېشه د درندو وسلو په ذریعه به یې دمجاهدینو ځایونه او تګ او راتګ لارې څارلې او یا به یې پرې انداختونه کول . په دغه شپه دلښکرو بعضې کسانو حتیٰ دکنډك دروازې ته هم ځانونه رسولي وو او هغه ته یې اور اچولی وو . مونږ هم کنډك ته تقریباً نږدې دپنځه سوه مترو په فاصله کې رسېدلی وو کله چې لښکر په شاتګ وکړ او ویې نه شو کړای چې کنډك ونیسي نو مونږ هم په پټیو کې دغره په لوري حرکت وکړ ،څنګه چې ملیشه او خلقیان په دې پوه شول چې لښکر ماتې وخوړه نو دوئ ته لارې معلومې وې او دغه ټولې لارې یې دماشیندارو د اور لاندې ونیولې تابه ویل چې د اسمان څخه ډېره سخته ګلۍ را اوري او د هرچا مخې ته به ګولۍ لږېدې . مونږ به هم په منډه ستړي شوو . قومندان غازي محمد ، پلارمې اوما دیو پټې د وړوکي دیوال ترشا دمه وکړه. په دغه وخت کې یوه مرمۍ راغله اوزما دپلار دپښو په منځ کې ولږېده څنګه چې دواړه څنګ په څنګ ناست وو یو بل ته موحیران حیران وکتل چې کوم یو ولږېده خودخدای (ج) فضل و،نه یواځې مونږه بلکې هېڅوك هم زخمي نه شول او ټول لښکر سم سلامت بېرته غره ته ستون شو .

د جهاد د وختونو دخاطرو یوه بله کیسه دا ده چې مونږ تردغه وخته د توپ داره ګن شیپ هلیکوپټرو چې مجاهدینوبه ورته برګۍ هلیکوپټرې ویلې ، بمباري نه وه لیدلې او په دې فکر وو که د غره دکوم کمر (تېږه) یا دیوال شاته پټ شوو نو په امن کې به یوو ، یوه ورځ حاجي سیف الدین دشالي د انځري په کلي کې و او مونږ په برچنچن کې وو نو مونږ ته یې ځواب راولېږه چې تاسې هم دلته راشئ چې مصلحت وکړو ، دغرمې د دولس بجو په شاوخواکې مونږ انځري کلي ته ورسېدو او حاجي سیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدين موپه يو کور کې پيداکړ نو دستړي مشي نه وروسته مې پلار ورته وويل چې حاجي صيب په دې ځای کې دې دوه ورځې تېرې کړي ، حکومت به خامخا دا ځای په نښه کړی وي او شايد چې بمباري وکړي نو ښه داده چې بل ځای ته لاړشې ، حاجي سيف الدين وويل چې دغرمې د ډوډۍ نه وروسته به بل ځای ته لاړشوو . هماغه و چې دکلي په منځ کې ولاړ وو ترڅو د انځري کلی مونږ دغرمې د ډوډۍ لپاره په کورونو تقسيم کړي. په مومندو کې دا رواج دی چې مېلمانه چې دچا شخصي نه وي نو هغه کلی يې په کورونو تقسيموي او دا يو ډېر ښه رواج دی چې په يوه کور بار(تکليف) نه راځي .
په دغه وخت کې دوه برګۍ هليکوپترې د تودګي دکلي له لوري په کنډو راښکاره شولې او د انځري په کلي باندې يې دوره ووهله هر چا دپناه ځايونو په لوري منډې پيل کړې او ټول خواره واره شو. پلار مې ، زما ورور نه سلطان محمود ، سردار محمود او ما هم دجومات په لوري منډه کړه ځکه مونږ په کلي کې نابلده وو، کتل مو چې دجومات دروازې ته هم غټ کلپ پروت دی ، نو دهغه ځای نه مو دکلي لاندې خوړ په لوري منډه واخيستله او په شګو کې مو پروت وکړ او ټوپکې مو دسينې لاندې په څادرونوکې تاوې کړې چې دټوپك پړك هليکوپترونه ونه ګوري .
دلږې شيبې نه وروسته هليکوپترونو لومړی د تودګي په کلي بمباري وکړه او بيا يې د انځري کلی وويشته . په دغه وخت کې ما مې پلار ته وويل چې ټول يوځای يوو ښه به وي .چې جداشوو نوما دهليکوپترونو دبيا راتګ پورې منډه واخيستله او لږ لرې دسپلمۍ [1](مړغونی) دبوټي لاندې نوتلم ،څرنګه چې وېره ډېره بده وي نو داسې فکر مې وکړ چې ګوندې ديوه قوي فولادي ديوال تر شا پټ شوی يم . برګې هليکوپترې بيا را

---

[1] – سپلمۍ په ډاګونوکې کېږي چې ډېرتريخ او بد بوی لري او حتی مالونه (څاروي)يې هم نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېدلې او د انځري کلی یې د دویم ځل لپاره بمباري کړ. د انځري کلی هم لوی کلی دی او دلښکر یوشمېر زیات کسان پکې او سېدل نو مونږ فکر کاوه چې خامخا به زیات شمېر کسان ژوبل یا مړه شوي وي ، خو ددغه بمباریو نه وروسته مو چې احوال واخیسته یوائې یوڅاروی زخمي شوی و خوکورونوته زیات تاوان رسېدلی و ، یو کس چې په کټ کې ناست و دکټ بازو یې په راکټ لرېدلی و خو دی بچ پاتې شوی و .
حاجي سیف الدین چې ډېرخوش تبه سړی و نو کله چې دبمباري نه وروسته راغی ، خندل یې. مونږ ترې پوښتنه وکړه چې حاجي صیب ولې خاندې؟ هغه وویل چې د وېرې ماهم یو څمڅې ته منډه کړه چې دننه ښځې وې او ماته یې ځای نه راکوه چې پردی سړی یې نو ماورته وویل چې دې بمبارۍ ته ګوره او ستاسې دې خبرې ته ،خو زه په زوره څمڅې ته ننوتم. ښځو ویل چې خدای دې حاجي سیف الدین په غم اخته کړي چې داځای یې راباندې اور کړ . نو ما ورته وویلې چې خورې ښیرا مه کوئ .سیف الدین زه یم نو خدای دې دخلکیانو کور وران کړي چې مونږ یې دلته راوستلو که نه مونږ دلته څه کول ، حاجي سیف الدین چې دصورته غټ سړی و، وویل چې د وېرې په وخت کې په څمڅه ننوتم خو چې بمباري خلاصه شوه دڅمڅې په خوله (دروازه) را وتلی نه شوم چې ډېره وړه وه او ښتی وم چې بالاخره په ډېرتکلیف را ووتم .
د دې بمبارۍ نه وروسته لښکر هم خپور شو او دعمومي قیام ښې هم ورکې شوې .د جهاد د دوام لپاره یوائېنی لار دعامو خلکو او هم درژیم تر منځ ګوریلایي جګړه وه او دمتعهدو کسانو ملاتړ و،بله لاره مجاهدینوته نه وه پاتې .مامې هم دخپل پلار سره مصلحت وکړ چې زه به پېښور ته لاړشم ځکه له یوې خوا زما په یوه غاښ ډېر سخت درد و او په غره کې د تداوي لپاره کوم ډاکتر نه و او هم له بلې خوابه جلال آبادته څوك ولېږم چې څنګه خپله مور چې دواړه ورونه مې امیرمحمود ( چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په **۱۹۸۷** کال کې په پیښور کې ورك شو او ترننه پورې یې مړی او ژوندی نه دی معلوم ) او فدامحمود او دیوې ماشومې خورسره مې دماماګانو کره وو، احوال واخلم او هم دخپل بل ورور سلطان محمود چې دمزار شریف دکرنې په لیسه کې زده کوونکی و،چېرته دی ،ځکه مونږ ته دهغه هېڅ پته نه وه .

دجهاد دخاطرونه یوه بله خاطره داده چې د ۱۹۸۰ م کال دجوزا میاشت په لومړیو شپو کې زه دامریکایي عکس اخیستونکی Steve Mccurry چې په هغه وخت کې یې دازاد عکس اخیستونکی Free lance Photographer په حیث کار کاوه ، خاص کونړ او ښیوه ولسوالۍ ته لاړو م . اوږده سفرنه وروسته دویمه شپه مو دمنګوال کلي ته ورسوله . دشپې له خوا چې دملامحمد رحمان په کورکې دکوټه په سر پراته و چې دملاصیب دکورنۍ غړو په منډو رامنډو لاس پورې کړ اودټوپك دډز په شان درز هم وشو. موږ چې ویده وو د خوبه را ویښ شولو او داسې فکر مو وکړ چې دروسانو قوه کلي ته راغلي اوپه کلي کې یې تالاشي پیل کړې ده Steve هم دخپلو کرمیچو مزي ټینګ کړل چې تیښتې ته ځانونه برابر کړو نوچې پوښتنه مو وکړه څه خبره ده نو ملامحمد رحمان وویل چې ددوي یوي غوا ډیرشفتل خوړلي او هغه وچاودید له نوهغه یې ډیرژر حلا له کړه چې مرداره نشي . په سبایې موږ دحاجي سیف الدین ځای ته چې دسرکند دانارو په کلي کي اوسیده لاړو اوهلته هم Steve ډیرزیات عکسونه واخستل . Steve Mccurry وروسته ډیرزیات شهرت پیداکړواو د National Geographic دمشهورې مجله عکس بردارشو. دSteves په یو عکس چې دلوي مهاجرې انجلۍ نه یې په کمپ کي اخستي و خورا شهرت وموند چې تقریباً په لویدیځه نړۍ کې دافغانستان د مهاجرینو خورا مشهور سمبول و اوپه زرګونو عکسونه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چاپ شوي دي چې دافغانستان په نامه کتاب چې معاصر تاریخ دی دهغه پرمخ هم دغه عکس چاپ شوي دی .

د دغو جریاناتو لیکل اوس یو افسانوي شکل لري خو په هغه وخت کې دا ډېرې سختې شیبې وې . نه یواځې دمرګ او ژوند مسئله وه بلکې دخلکیانوله خوا دفامیلونو نیول او زورول ترهر څه سخت و.

هماغه و چې د **۱۳۵۸** هـ ش کال د روژې دمبارکې میاشتې دپیل نه یوه ورځ دمخه ما دبرچنچن نه دپېښور په لوري حرکت وکړ . شپه مې دمورګې سیمې ته چې په خوګاخېلو کې موقعیت لري، چېرته چې څارنوال محمد صالح اوسېد، ورسوله . سهاروختې د پېش نمې (سهارې) نه وروسته مې دپېښور په لوري حرکت وکړ او مابنام پېښور ته ورسېدم . په پېښور کې مې تقریباً دوه اوونۍ تېرې کړې نه وې چې پلار مې لیك را ولېږه چې مور مې دجلال آباد نه کونړ او دهغه ځای نه برچنچن ته را رسېدلې او ته بېرته راشه .په دې وخت کې بل خبر هم راغی چې پلار مې په خاص کونړ کې دملیشوو له خوا محاصره شوی دی . څرنګه چې مخابراتي وسایل نه وو، نو زما اندېښنه پیدا شوه او بېرته مې دبرچنچن په لوري حرکت وکړ . په ګند هاب کې دبرچنچن دکلي نه یوه جوپه [1] ډله راغلې وه او دهغوسره یوځای شوم او دیو اوږده شل ساعته مزل نه وروسته دشپې په یوه بجه دبرچنچن کلي ته ورسېدم .

څرنګه چې دبرچنچن مېنې (کورونه) دکلاګانوپه شکل نه وو ، یواځې خلکو جداجدا خونې جوړې کړې وې نو راساً خپل کورته ورغلم .مور مې

[1] –جوپه : دغرونوکلي چې د دوکانونو نه لرې پراته دي نودبرچنچن کلي خپل ضروري شیان دګندهاب نه وړل نو دکلي څوکسه به سره یوځای کېدل دحمل اونقل څاروي لکه خره یا قچرې به یې ګندهاب ته راوستلې او ضروري مالونه به یې اخیستل او هغه به یې کلي ته انتقالول، نو دی ته دوی جوپه ویله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ویده وه او خدای ښئلی ورور مې سردارمحمود ویښ ناست و. سمدستې يې مورته چغه کړه چې مورجانې میرزا لالا راغی، وروته ماته په کورکې میرزالالاوايي . مور مې په ډېرهیبت سر را اوچت کړ او په زوره يې آه وکړ. په دغه شپه مې ورور سلطان محمود اوپلارخاص کونړ ته تللي وو . دکابل رژیم غوښتل چې زمونږ کورونه وسېزي نو دوئ غوښتل که د امکان په صورت کې ممکن دفاع وکړي . مور مې داسې فکر کړی و چې ګوندې زما ورور سلطان محمود زخمي شوی خوچې ماورته تسل ورکړ چې زه شاه محمودیم نو پس له تقریباً درې میاشتو جدايي او مشکلاتو خپلې مورته مې غاړه وړکړه او غيږ کې يې کلك ونيولم او راته يې وويل چې ښه دی زويه چې ژوندی مو ولیدې. مونږ هم دمرګ نه خلاص شوي یوو ، دغه شپه چې ما مې مور ولیده نو واقعاً چې د مور او اولاد ترمنځ واقعي مينه څومره ژوره وي چې د دنيا دهر څه نه زيات ارزښت لري او خاصتاً دمور اوپلار شفقت او مينه دخپلو اولادنوسره .

مورمې راته خپل د درېومیاشتوکیسې سري سري غوندې وکړې او ويده شوه . سباته مې مور خپله ټوله کیسه د درېو میاشتو په اوږدو کې چې په دې څه تېر شوي و،داسې وکړه : ((کله چې تاسې غره ته ختلئ نو دتاسې نه مخکې مې د خور کور( دکلي ګرام دملك میرحبیب کورته ) ته حرکت وکړ او بیا دهغه ځای نه جلال اباد ته لاړم. هلته مې د ورونوسره دېره شوم او سلطان محمود جان ته سترګې په لاره وم چې څو ورځې وروسته هغه هم دمزارشریف نه راغی . څوځلې موکس پیداکړ چې دتور خم له لارې پېښور ته لاړ شوو خو د جلال اباد دوالي نه امر اخیستل ډېر سخت و . سلطان به په کور کې پټ دماماګانو کره ناست و اوچېرته به تللی نه شو .

څو ورځې وروسته زه مریضه شومه او د پوهنتون شفاخانه کې بستر شوم او غازي ۱ (غازي محمود زما کشر ورور) پیدا شوی و او ډاکترانو ویلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وینې ته ضرورت دی نو سلطان راغی که وینې ته ضرورت وي نوماته یې راکړئ . بیرون د امیر (امیرمحمود چې زماکشرورور و او دلسوکلونو په عمر و چې وروسته په **۱۹۸۷** م کال د اکتوبرپه **۲۴** مه نېټه په پېښور کې زما دماما زوی اجمل خټك سره ورك شول چې تراوسه پورې یې مړی اوژوندی نه دی معلوم ) سره ووته چې ماته یې میوه اخیسته نوپه دې وخت کې د دین محمد زوی [1]لیدلی و او پولیسوته یې ویلي و چې دی ونیسي . پلار یې اشرار دی او زما پلار یې وژلی دی . دا دروژې دمیاشتې پنځمه وه ، د دین محمد زوی ورته ویلي و چې پلار دې اشرار دی او ته روژې خورې .سلطان محمود ورته ویلي و چې مور مې په شفاخانه کې ځانته ده او مریضه ده نو ما پرېږدئ خو سره له دې هم هغه قومنداني ته بوته او هلته یې په توقیف کې بندي کړی و. څرنګه چې مازدیګر و نو پولیسو ته یې ویلي و چې دی خوشې نه کړئ او سباته به ور سره ګورو .

مور مې زیاته کړه چې امیر په ژړاراغی او راته یې وویل چې مورجانې سلطان لالا یې ونیو . دسلطان نیولو خپله مریضې رانه هیره کړه چې تاسې هم نه وئ چې څه وکړئ ، دا ډېر سخت ساعت وو ،امیر مې دماماګانو کره ولیږه چې هغوئ دسلطان دنیولو نه خبر کړي .

نعیم جان (محمدنعیم چې زما کشرماما دی دکودتاه نه دمخه د اسمار دلیسې مدیرو او فعلاً په کونړکې دخارنوال په توګه کار کوي .) دامیر سره یو ځای امنیې قومنداني ته تللي دي او هلته یې مؤظفو عسکروته څه

[1]-غازي محمود دامریکې د Gearge Masan پوهنتون دکمپیوټر ساینس نه په ۲۰۰۶ میلادي کال فارغ شو .
۲-دین محمد دمنګوال دکلي وو او نجاري یې کوله چې د جوزا په میاشت کې دمومندو دلومړي لښکر په وخت په یوه جګړه کې وژل شوی وو چې تفصیل یې مخکې راغی نو ددی زوی کبیر خل قي و،نوپه دې اساس یې زما په ورور دا دعوا کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې ورکړ ې وې او ورته یې ویلي دي چې که قومندان تاسې وغوښتئ نو ورته ووایه چې دی یې دروژه خوړلو په پلمه نیولی او بندي کړی دی ځکه بل کوم رسمي سند موجودنه و . مؤظف پولیسو ورسره دامنلې ده نو ماما مې زما وررور امیر ته ویلي و چې دقومندان په خونه به ننوځې او وبه ژاړې چې زما مور په شفاخانه کې ده او وررور مې دلته تاسې بندي کړی. نوهغه به خامخاپوښتنه وکړي ، هماغسې یې کړي وو نو د قومنداني مؤظف پولیس او زما وررور سلطان محمود یې راغوښتي وو او ورته یې ویلي و چې په څه کې یې راوستی یې؟ ده ورته ویلي و چې په روژه خوړلو، نو پولیسو یې هم تایید کړې و ، نو د امنیې قومندان ورته ویلي و چې دا څه خبره ده. روژه خومونږ ټول خورو خوشي یې کړئ ، مور مې وویل چې دسلطان محمود دخوشې کېدو سره زه یې هم دشفاخانې (روغتون) نه بې د ډاکتر دمشورې کورته بوتلم او سلطان محمود ته یې وویل چې دکونړ په لاره خاص کونړ ته او بیا غره ته ځان ورسوه چې بیا دې ونه نیسي. سلطان هماغسې دبرکاشکوټ په لار منګوال اود هغه ځای څخه یې برچنچن ته ځان رسولی و او زما پلار ته یې داټوله کیسه کړې وه .

مور مې وویل چې د روژې په اتمه چې غازي دشپړو شپو و. د کونړ د چغه سرای په لاره یوازې په قطار کې موټرې تلې ځکه مجاهدینو اکثریت وخت لاره بندوله ، داودشاه خان (زما دترور زوی) راسره شو او وې ویل چې دازما مور ده او په قطار کې مازدیګر څوکی ته راغلو ، د زېړي بابا [1] سره مجاهدینو په قطار ډزې وکړ ې او پوره جګړه وشوله. ټوله ورځ مو په لاره تېره کړه او څوکۍ ته راغلو .

[1] – زېړی بابا زیارت دښېوې او نور ګل په منځ کې پروت دی چې مجاهدینو به همېشه دلته د حکومت په قطار حملې کولې ، دغه سیمه اوس د زیړي بابا په نامه یادیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه ځای نه په کېښتۍ کې خاص کونړ ته پورې وتلواو کلي ګرام ته د داود شاه خان کره راغلو او شپه مې هلته تېره کړه. په سبار مو غرمه په تنرکلي کې او ماښام مو د امان الله خان (دمورمې کاکا) کره تېره کړه او سهار وختي منګوال ته خپل کورته راغلم .
دمور دراتګ نه دمخه سلطان محمود مې د مور د راتګ خبره پلارته کړې وه نو پلار مې دخارنوال محمد صالح ، سلطان محمود ، محمد طیب چې دخارنوال محمد صالح ورور و ، زما کاکا سید حسام ، دبرخپرې ګل زاده او دبرچنچن امیرجان ماما سره زمونږ کورته ښکته شوي وو اوهلته پټ ناست وو، تر څو زما مور را ورسېږي او دهغې سره یوځای برچنچن ته وخېژي .
تصادفاً په همدغه ورځ زمونږ یوتن ګاونډی چې میراجان نومېده، زما په خیال اته زامن یې درلودل چې ټول خلکیان او ملیشه وو او زمونږ پرې پنځلس زره افغانۍ پور وې . زمونږ دکور تر څنګ تېرېده چې زما دکاکا لمسي سید افاق زما پلار ته خبر راوړ چې میراجان بېرون راغلی دی نو پلار مې بې له دې چې زیات فکر وکړ ي بېرون له کوره وتلی و . کله چې میراجان زما پلار لیدلی و ، سمدستي یې منډه اخیستې وه نو پلار مې هم ورپسې منډه اخیستې او زمونږ د یوبل ګاونډي شیرعلي په ډېره کې یې نیولی دی ، میراجان زمونږ په سیمه کې ډېرتکړه سړی و او زمونږ دکورنۍ سره یې ډېرې ښې اړیکې درلودې خو څرنګه چې زامن یې خلکیان او ملېشه وو نو دهغوئ دتاثیر لاندې و. میراجان سمدستي زما دپلار دټوپك پټۍ ته لاس اچولی دی نو په پښتو کې دا ډېره بده ده چې څوك دچا نه ټوپك په زوره واخلي. پلار چې مې هر څومره ورته ویلي چې د ټوپك پټۍ پرېږده که نه ولم دې خو هغه د ټوپك پټۍ نه ده پرېښودلې نو په دې وخت کې زما تره سید حسام ، زما ورور خدای بښلی سردار محمود چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې پنځلس کلن و او محمد طیب ور رسېدلي دي . میراجان یې ډېر سخت وهلی و چې بیا یې په کټ کې کورته وړی و .
په دغه وخت کې دمیراجان زامنو ته چا خبر وروړی چې سید محمود مدیر ستا پلار مړ کړی ، دمازدیګر تقریباً څلور بجې وې چې دمیراجان زامن چې دحکومت ټوپکې ورسره وې ، زمونږ په کلا او دېره باندې ډزې پیل کړې او جګړه شروع شوه ، دمیراجان زامنو حکومت ته هم څوک ورلیږلي و چې مدیر صیب (زما پلار چې په مدیر صیب یې شهرت درلود ) مو د زیاتو نورو اشرارو سره په خپله کلا کې محاصره کړی دی . دمور بې چاره مې لا دلارې ستوماني نه وه وتلې چې په جګړه کې رانښکېل شوه . پلار مې راته وویل چې دمحاصرې حالت ډېر سخت حالت و او تقریباً درې سوه کسه ملیشه او خلکیان زمونږ دکورنه ګرد چاپېره په کلا ګانو کې ځای پر ځای شوي وو او زمونږ په کلا یې ډزې کولې ، پلار مې ویل چې مونږ فکر کاوه چې یا به مرو اویا به مو ژوندي نیسي په دواړو حالاتو کې دمرګ سره مخامخ یو نوباید مقاومت وکړو ،مونږ به هم یو یو ډز کاوه ځکه چې د دوئ سره کافي کارتوس او مهمات نه وو او دوی دجګړې په نیت خپل کورته ښکته شوي نه وو ، پلارمې کیسه کوله چې دماښام د اذان سره دکونړ دسیند نه هغه غاړه دسوري تیرې نه هم ټانګونو انداختونه پیل کړل او دخاص کونړ دغرونو غاړې یې ویشتلې ، دسرکنډ خلك په دې فکروو چې دشالي او ولي سیمونه مجاهدینو په حکومت حمله کړې ده او د شالي او ولي خلك په دې فکر وو چې ګوندې دسرکند خلکوپه پوسته حمله کړې ده او جګړه ده .
پلار مې ویلې چې دا ډېر سخت وخت و چې له یوې خوا محاصره او له بل خوا ماشومان ( مور او واړه ورونه مې ) هم په کورکې راسره ایسار دي ، که مونږ دشپې له خوا وځو او تښتو نو په ماشومانو څه وکړو ځکه د هغوئ پرېښودل هم د ټولو نه سخته خبره وه بلاخره فیصله مې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مور او زما واړه ورونه او خورمې زما دکاکا اروابناد وکیل عبد القادر کورته ولیږي چې زمونږ سره نږدې او سېده خو زمونږ دواړو دکلا ترمنځ دیوال وو او دوی دشپې په یولس بجو دکورنه ووتل ، څرنګه چې ملیشه وو او خلکیانو زمونږ دغره طرف لارې ټولې نیولې وې نو دکونړ سیند په لور خوځېدلي وو او دهغه ځای نه حکومتی په لوري چې زمونږ دکور نه یې تقریباً دوه ساعته دپښو لار درلوده حرکت کړی وو چې بیا دبلې لارې نه غره ته ختلی وو ، پلار مې ویل کله چې مونږ دشپې دغره یوې سیمې ته چې دحکومت دتسلط نه بهر شولو ورسېدو ،ملیشه وو همداسې ډزې زمونږ په کلا کولې ، څرنګه چې زمونږ کور دڅو خواونه محاصره وو نو هغوئ ډزې په خپلو منځو کې تبادله کېدې او داسې فکر یې کاوه چې ګوندې مونږ په کلا کې یو او مقاومت کوو ، سهار چې ډزې په کرار شوې وې نو خلکیانو ته داپته لږېدلې وه چې څوك په کلاکې نه شه دي او کله چې کلا یې لټولې وه نو هېڅوك په کلا کې نه وو.

مور مې خپلې کیسې ته دوام ورکړ او وې ویل چې کله جګړه ونښته نو د هر ډز سره غازي به دانګ(ټوپ) وهه او ټوله شپه مو هېڅ خوب ونه کړ ، پلار دې دشپې ووتل او سودا مو ورته وه چې څوك یې په لاره کې ونه نیسې. سلطان او سردار هم ورسره وو . سهار چې خبر شوو چې نیول شوي نه دي زړه مو په کرار شوو. مونږ ټوله ورځ دکاکا لالا (زما کاکا) په کور کې پټ ناست وو ، د ماسخوتن دلمانځه نه وروسته دکورنه ووتلو او د برچنچن په لور مو حرکت وکړ او کوچی ( زما دتره زوی عطازی چې مونږ ورته کوچی وایه په یو لاس او پښه معیوب دی ) راسره شو ، غازي ، زما خور چې یولس کلنه وه په ټوکری کې مو واچوله . امیر او فدا چې زما دخور نه واړه وو هم راسره شوو. کوچي ته هم دبرچنچن لاره سهي نه وه معلومه، په ناو کې روان وو،چې لږ لږ بارن هم شروع شو. لږه شیبه وروسته باران زیات شو او دچنچن په ناو کې ډېر سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیلاب راغی او حیران وو چې څه وکړو د ګېدړو اوازونه وو او دمارانو وېره هم وه کالي (جامې ) مو ټول لانده شول او غازي سلګۍ وهلې. ما ویل چې اوس به یې سا وخېژي ، د غره یوکمر ته تر سبا پورې د سیلاب نه بچ کیناستو تر څو چې لمر راوخته اوسیلاب هم مخ په کمېدو شو .
په دغه وخت کې یو سړی دبرچنچن په لوري روان و ، داسړی دبرچنچن دکلي اوسېدونکی خشك نومیده نو مونږ ترې دلارې پوښتنه وکړه . هغه کوچی وپېژنده او سمدستي یې خپل څادر راکړ چې غازي مو پکې تاو کړ او هغه یې دځان سره په غېږ کې واخیسته او وې ویل چې ما پسې راځي . میاصیب (زماپلار) زمونږ په کلي کې دی . ټول ډېر ستړي وو او په خوارو مو غرمه برچنچن ته ورسوله (دبرچنچن او منګوال تر منځ دوه ساعته په غره کې لار ده خو دوی دا لار ټوله شپه او نیمايي ورځ مزل کړی وو) مور مې خپلې کیسې ته دوام ورکړ او وې ویل چې پلار دې ډېر خلك را ټول کړي وو او غوښتل یې چې دشپې له خوا زمونږ پسې راشي مور مې وویل چې د یو مرګ وېره کله چې جلا ل ابادته تلو تېره شوه چې تاسې غره ته مهاجر شوئ ، بل مرګ راباندې په جلال اباد کې په روغتون کې تېر شواو دمرګ بله ویره را باندې هلته تیره شوه چې دموټرو په کتار مجاهدینو ډزې وکړې ، ټوله ورځ موپه زیړي بابا کې تېره کړه ، یو مرګ راباندې په کلاکې دجګړې په وخت هم تېر شو او دا چې دکلا نه برچنچن ته راتلو بل مرګ راباندې دسیلاب دلاسه تېر شو او دټولو نه سخته داوه چې تورتم وو هېڅ مونه لیدل خو ښه وه چې خدا ی په خیر راورسولم او تاسې مې ولیدلئ او دخپلو او لادونو سره یو ځای شوم،دخدای پاك ډېر شکر دی. پلار مې وویل چې خشك لږ مخکې راغی او زیری یې راوړ چې واړه دې په خیر راغلل نو دا دخوشحالۍ هغه ساعت وو چې تېر شو او دخدای شکر مو ادا کړ ، ځکه مونږ دا منلې وه په شپه به منګوال ته ښکته کېږو او واړه به راولو خو خدای پاك ډېر اسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه ،او خوشحالي يې راکړه او يو لوی خيرات مو وکړ . پلار ته مې اسانه شوه خو په مور مې دمرګ پوره سختي تېرې شوې . د دې کيسې تفصيل ماځکه وليکه چې د افغانستان په ټولو کورنيو کې که هغه په افغانستان کې پاتې شوي او يا يې هجرت کړی د رنګارنګ مشکلاتو سره مخامخ شوي او داسې کورنۍ شته دي چې دهغوئ کيسې به تر دې نه هم څو چنده زړه دردونکي وي .

ما مخکې يادونه کړې وه چې کله زه دپېښور څخه دبرچنچن کلي ته ورسېدم نو پلار مې يوشمېر مجاهدينو سره خاص کونړ ته ښکته شوی وو تر څو زمونږ د کلا د سېزلو مخه ونيسي حکومت به دورځې دهغو مجاهدينو او مهاجرينو کلا ګانې سېزلې کوم چې مهاجر شوي وو ، په دې لړ کې دمعلم نور خان ، څارنوال محمد صالح او ملك محمد جان کلا ګانې سېزل شوې وې . کله چې زمونږ او دقومندان غازي محمد دکلاګانو نوبت را رسېده، نو پلار مې ديو شمېر مجاهدينو سره د قومندان غازي محمد او څارنوال محمد صالح په شمول خاص کونړ ته ښکته شوي وو او رژيم ونه شوکولای چې نورې کلا ګانې وسيزي ځکه چې زمونږ کلاګانې غره ته نژدې وې او هم دحکومت (ولسوالۍ) تر مرکز پورې پوره فاصله در لوده .

د دغه ورځې په سبا زما پلار بېرته برچنچن ته راوخوت او خپل ورور مې سلطان محمود تقريباً له څلور مياشتوروسته دډېرو تودو او سړو نه وليده او داڅلورومياشتې دومره اوږدې وې لکه تا به ويل چې څلور کاله تېر شوي دي . د افغانستان په تېرو اته ويشت کلونو کې دومره پېښې په افغانستان کې تېرې شوې چې که چا ټولې پېښې ثبت کړې وای نو زه فکر کوم چې د افغانستان د څو تېرو شوو پېړيو له پيښو نه هم زياتې وې ،څرنګه چې ما دلته دمعلم نور او ملك محمد جان دکورونو دسېزلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

یادونه وکړه نو غواړم چې په پېښور کې د معلم نورخان د ورکېدو کیسو ته هم دتاریخي پېښنو په لړ کې د بېلګې په توګه یادونه وکړم .

معلم نورخان دشکر ملك زوی ،په قوم زوپیالي خېل مومند و، چې په شالي او خاص کونړ کې یې ځمکې درلودې او د ننګرهار دار المعلمین نه فارغ شوی و، کله چې زه دخاص کونړ په لیسه کې زده کونکی وم نو دی په یولسم ټولګي کې زمونږ د انګلیسي ژبې ښوونکی و، دکودتاه نه وروسته دلوګر ولایت په ازره کې ولسوال شو،که څه هم دی د(خلك) دګوند غړی و ،خو دقومي اړیکو په اساس یې دخپل قوم سره دتماس په نتیجه کې په ۱۳۵۸ کې مهاجر شو او دحکومت نه یې څومیله اسلحه هم را وتښتوله ، د مومندو زیادتره کورنۍ که د افغانستان په دننه یاسرحد کې هم اوسیږي خو په پېښور او دپاکستان په نورو ښارونوکې خپل خپلوان لري او زیاد تره کار و باري یعني غریب پېشه خلك دي او په افغانستان کې دخپلو کورنیو سره مر سته کوي .

معلم نورخان هم دخپلو نورو عزیزانو او خپلوان په شان دپېښور، دیکه توت دروازې دننه سیمه کې د کرانه(بقالي) یو دوکان جوړکړی او هم یې یوه رکشه اخستې وه چې څوروپیۍ ورته وګټې او خپل اولادونه پرې وساتي ، د ده دخپلوانو او وررونو په قول یوه ورځ ورته څوك چې ده پېژنده راغلی و او دی یې په کوم چل دې ته تیار کړ چې ورسره لاړ شي نو کله چې دوئ حرکت کاوه نو د ده خپله رکشه چې دنور خان خورئی (دخور زوی)چلوله ناست دی،راغلی او ددېدغه رکشه کې سپاره شوي دي خو دغه نفر ته دا پته نه وه چې دغه رکشا د ده خپله ده او ډرېور یې خوریی دی او د ین بهار په سیمه کې چیرته چې د اسلامي جمعیت دتنظیم کومه حویلۍ ده ور ننوتي دي ، دی او د ده خورین ورته بېرون منتظر ولاړ دی ، ډېر ساعت تېرشوی چې بلاخره هماغه نفر چې دمعلم نورخان سره دننه حویلۍ ته ننوتلی دی بیرته راوتلی ، نو دنورخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوریي ترې پوښتنه کړې چې ماما مې څه شو راووځي که نه ، دغه نفر چې پوه شوی چې دا رکشه والاورته انتظار کاږي ،دی بېرته په وارخطايي ننوتلی دی، نو په دې وخت کې د نورخان خوریی پوه شوی چې څه خبره ده او هر ځومره یې چې انتظار کړی نورخان نه دی راوتلی او سمدستي بېرته کورته راغلی ، خپل خپلوان یې خبرکړي دي چې نورخان دغې حویلۍ ته ننوتلی او نیمایي ورځ یې تېره کړه بېرته نه دی راوتلی دنور خان خپلوان چې د اسلامي جمعیت دغې حوېلۍ ته راغلي هغوئ ورته ویلي چې نورخان دلته نه شه دی او بلاخره پولیسوته یې خبر ورکړی هغوئ هم چې راغلي او حویلۍ یې تالاشي کړې ده نورخان یې نه دی پیدا کړی ، نور خان دهماغې ورځې نه تر نن ورځې پورې لادرکه دی، بیا د نور خان خپلوانو او دوستانو د خاص کونړ دسپین ږیرو په شمول د اسلامي جمعیت مشر استاد برهان الدین رباني ته ورغلل او دنور خان دهجرت او دلادرکۍ ټوله کیسه یې ورته وکړه ،چې دی ډېرښه سړی دی او تاسې یې باید پرېږدئ ، په دغه وخت کې حفیظ الله امین په قدرت کې وو . استاد رباني دخاص کونړ سپین ږیرو او مشرانو ته ویلي وو که مونږ حفیظ الله امین هم نیولی وي، نو درته خوشې کوو یې ، خو دا کار زمونږ تنظیم نه کوي او دا دحکمتیار داسلامي حزب د ډلې کاردی. نو تاسې هغه ته ورشئ ، څرنګه چې دکونړ په دغه ډله کې زما پلار مشرو نو ده ورته ویلي و که مونږ حکمتیار ته ورشو نه هغه به مونږ نه پوښتنه وکړي چې نور خان چېرته ورك شوی دی نو مونږ مجبور یو چې ستا دتنظیم حویلۍ ورته وښایو نه هغه به وایي چې تاسې عجیبه دعویٰ کوي چې دی دجمعیت په حویلۍ کې لادرکه شوی او تاسې یې له ماڅخه غواړئ .

د کونړ سپین ږیرو او دنورخان خپل خپلوان اوومندو مشرانوچې هر ځومره فشار په اسلامي جمعیت باندې راوړ، نور خان یې خوشې نه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

او مړی او ژوندی یې ترنن پورې ورك شو ، په پېښور او پاکستان کې د داسې بې ګناه کسانو دوژلو او ورکېدلو کیسې ډېرې دي چې په هغه کې دپاکستان حکومت دI,S,I شبکه او دمجاهدینو تنظیمونو لاس درلوده .
دلته غواړم چې په پېښور کې د خپل ورور امیر محمود ، دماما زوی اجمل خټك او دتروروزي ډاکتر روح الله عمر، د ورکېدو یادونه هم وکړم .د ۱۹۸۷ م کال د اګست په ۲۳ نېټه زه د افغانانو د نه (۹ ) کسیز پلاوي سره د امریکا دحکومت په بلنه امریکاته لاړم .چې څنګه د امریکا په مطبوعاتوکې د افغانستان دجهاد په ګټه فعالیت وکړای شو .
په دغه پلاوي کې د آزادو مطبوعاتو اودمجاهدینودتنظیمونو دسیاسي اوفرهنګي دفترونو غړي شامل وو ، په دغه وخت کې زه په پېښور کې د امریکا غږ راډیو محلي خبریال او د بلجیم د کمېټې مرستیال وم ، په دغه پلاوي کې دملي نجات جبهې سیاسي مسؤل حامدکرزی ، دملي اسلامي محاذ د فرهنګي چارو مسؤل سردار محمد روشن ، د اسلامي انقلاب حرکت تنظیم دسیاسي چارو مسؤول انجینرکریم ، دخالص د اسلامي حزب دفرهنګي چارو د دفتر نه محمد یعقوب شرافت ، د افغان اطلاعاتو مرکز نه (چې پوهاند بهاوالدین مجروح یې مشر وو) زرغون اوسید مسعود مجروح د افغانستان د اطلاعاتو او اسنادو د دفتر مشر سید فضل اکبر او د افغان نشراتي مرکز مسوول حاجي سید داؤد شامل وو .
دیوې میاشتې رسمي سفر نه وروسته زه دوه هفتې نور هم په امرکا کې د ځینې خپلوانو او دوستانو دلیدو په مقصد پاتې شوم او دهغه ځای نه بلجیم ته درسمي سفرپه خاطر د دوه اوونیو لپاره لاړم ، د اکتوبر دمیاشتې په ۲۴ مه نېټه زه اسلام اباد ته د بلجیم نه راتلم چې په همدغه ورځ زماپلار، زما ورور امیر محمود دمنډا کمپ ته چیرته چې زما ماما محمد نعیم اوسېده ، لیږلی وو او ورته ویلي یې وو چې زه د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه راځم او دبلجيم د کومېټې موټرې زما مخې ته راځي نو که اسلام اباد ته جکر وهې نو يو ځای به لاړ شو ، هم به چکرشي او هم به زما مخې (سترې مشي )ته راشي .

ماما او پلار مې زما د دفتر ديو شمېر نورو ملګرو سره اسلام اباد ته راغلل اوماښام خپل کورته چې پېښور سره نږدې د کچه ګړۍ په کيمپ کې وو ورسېدو ، د اميرمحمود پوښتنه مې چې وکړه چې، چېرې دی پلار مې وې ويل چې منږا ته مې ليږلی ، کېدای شي چې هلته دشپې پاتې شوی وي ،

ماما مې وويل چې نه ،هغه دهغه د زوی اجمل خټك سره يوځای پېښور ښار ته راغلی دی اوکېدای شي چې زما دبل ماما وکيل عبد الجليل ملنګ کره يې شپه کړې وي ، په همدې تشويش کې سباهم پيدا نه شول او د ټولو دوستانو اوخپلوانو کره مو ورته لټه پيل کړه خو د دواړو هېڅ درك ونه لږېده ، ديونفر دورکې مسئله ډېره سخته وي او هر څوك په خپل فکر او نظر يوڅه مشوره راکوي ، چاويل چې کراچۍ ته به تللي وي ، چاويل چې کابل ته به تللي وي ، چاويل چې ايران ته به تللي وي خو ډول ډول خبرې کېدې او مونږ هم هر چېرته خپلوانو او دوستانو ته احوال ورکوه او پوره سرګردانه شوو ، خو د دوئ هېڅ درك ونه لږېده او تر نن تاريخه پورې دواړه ورك دي .

د دوئ د لادرکۍ نه دوه اوونۍ وروسته، ماما مې يوه پرزه خط په کورکې پيدا کړی و، چې يوه ورځ دمخه ، د دوئ دورکېدو د پېښور سپېشل برانچ (Special Braanch ) يوتن پوليس د دوئ پسې راغی وو خو دوئ په کور کې نه وو او د اجمل خټك په نامه يې يو پرزه پرې ايښې وه چې ته يې سپيشل برايچ ته غوښتی يې ، نو ماما مې پلار ته وويل چې داسې ښکاري چې دوئ سپيشل برايچ نيولي دي ، پلار مې راته وويل چې مونږ دواړه به سپيشل برايچ ته لاړ شو او د دوي پوښتنه به وکړو ، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

خپل دفتر ته وخوځېدم او دوئ سپېشل برانچ ته لاړل ، کله چې مې ماما او پلار دپېښور دهوايي ډګر سره نږدې د سپېشل برانچ دفتر مشر ته ورغلي دي هغه امر کړی چې دوئ هم بنديان کړي .
د دوی جیبونه یې چې تالاشي کړ ي دي نو دپلار په جیب کې مې زما د دفتر کارت چې په یوه خوا یې د بلجیم دکمپنۍ ادرس او دنده وه او په بله خوا یې د امریکاغږ رادیو دنده او درك (پته ) وه نو پوښتنه یې ترې کړې چې دا څه پېژني؟ پلار مې ورته ویلي چې دا مې زوی دی. څرنګه چې زه سپېشل برانچ دفتر ته د دوي له تګ څخه خبروم نو د شپې چې کورته را نغلل زه پوه شوم چې دوئ یې هم بندیان کړي دي نوما په دې وخت کې د غازي عجیب خان افریدي دلور له طرفه لمسی چې رحمت شاه خان دلاور نومیږي ټلیفون وکړ چې پلار او ماما مې د شپې له خوا نه دي راغلي او سپېشل برانچ نیولي دي ، ځکه دهغه دزوم شاکر اوښی جایداد شاه دپېښور دسیمې SSP یعنې دپولیسو مشر و نو که هغه ته و وایي چې دوی راخلاص کړي او هم مو شاکر چې هغه هم دپولیسو تهاڼه دارو ، وظیفه ورکړه چې هلته په سپېشل برانچ کې یې په غیر مستقیمه توګه پوښتنه وکړي ، سپېشل برانچ دپاکستان د پولیسو داستخباراتو څانګه ده چې ISIسره نږدې اړیکې لري .
کله چې شاکر دخپل یوبل ملګري په ذریعه لټه اوتپوس و کړ نو احوال یې راکړ چې دوئ هلته بندیان دي او چې پوره زور یافشار نه وي نو څوك یې نه شي خلاصولی.
څرنګه چې مونږ سره بل داسې زور نه و نو سپېشل برانچ ته مې ټیلفون وکړ چې زماپلار او کاکا تاسې بندیان کړي د دې علت څه دی ؟ هغوی منکر شول چې دوئ دلته نشته دي نو ما ورته وویل چې زه د امریکاغږ رادیو خبریال یم او دوئ دلته بندیان دي ماته پته ده او که نه زه پریس کنفرانس و رکوم .هماغه ووچې تقریباً دوه ساعته وروسته یې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیلیفون وکړ چې دوئ دلته دي او تاسې ورته څه کمپلې اوتوشکې (دوشکې) راوړئ ، هماغه وو چې ما دوه توشکې او کمپلې دخپل د دفتر ډریور میرولي ته چې دچپرهار وو، ورکړې او دوئ ته یې ورووړې ،زه پخپله لاړ نه شومه ځکه دماسره ویره وه که زه ورشم کیدای شي چې ما هم ونیسي .

په سبا ماته دسپیشل برانچ نه ټیلیفون وشوچې ته راشه او د دوی ضمانت وکړه مونږ به دوئ خوشې کړو ، ماورته وویل چې هغه زما پلار دی نوزه یې څرنګه ضمانت وکړم اونه هغه کوم جرم کړی دی چې مونږ درشوو او ضمانت یې وکړو ، ماسره بیا هم دا وېره وه که دضمانت په بهانه ورشم کېدای شي چې ماو نیسي ، بالاخره دوئ بیا ټلیفون وکړچې دخپل دفتر نه یو څوك راولېږه چې د دوی ضمانت وکړي نومونږ به یې خوشې کړو ، هماغه ووچې ما دخپل دفتر نه دچپرهار میرولي اودکامې غلام ګل چې زماسره یې کار کاوه ولېږل چې د دوی ضمانت وکړي او راخوشې شي .

پلار او ماما مې د دوی دراتګ نه دمخه په دفترکې دسپیشل برانچ مؤظف مامور دځان سره کېنولی و او چای یې ورته را غوښتی و او هسې یوه بهانه یې غوښتله چې دوی خوشې کړي . میرولي او غلام ګل د دوئ ضمانت کړی وو او دوی پس له دوه شپو او ورځو له بندي خانې څخه راخوشې شول .

پلار مې وویل چې ستا دټیلفون څخه وروسته دسپیشل برانچ مشربیا وغوښتول او راته وې ویل چې مونږ تاسې نه نیولئ خو داچې تاسې په مونږ دعوه وکړه نو مونږ ځکه دلته کینولئ ،بیایې رانه پو ښتنه وکړه چې دې هلکانو څه کار کاوه او کله مهاجر شوي یاستئ ؟ او داسې نور. ما ورته وویل چې زما زوی چې مهاجر کېدلو په دویم صنف کې و او دلته اوس په ښوونځی کې سبق وایي.مونږ نه خلقیان یوو او نه پرچمیان یوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

نو بیا هغه وویل چې تاسې هم کوشش وکړئ او مونږ به هم کوشش کوو چې پیدایې کړو ،خو نه د دوئ کوشش معلوم شو او نه زمونږ هلو ځلو څه نتیجه ورکړه .وروسته چې زمونږ په کوم هلك باندې چې زلمی نومیده او دخاص کونړ دطلایي باندې د احمد علي زوی وواو د ISI اوسپېشل برانچ سره یې نږدې اړیکې درلودې اشتباه وه چې زما دورور او ماما دزوی په نیولو کې یې لاس درلوده هغه هم په اغلب ګمان دمجاهدینو دسلفیانو دتنظیم دیو تن غړي پټنګ له خوا چې مخکې یې دحکمتیار د اسلامي حزب سره اړیکې درلودې ،بې درکه شو .پټنګ دسرکاڼود ولسوالۍ دپشد دکلي اوسېدونکی وو لاس درلود ، چې ددې واقعې نه وروسته زما د ترور زوی ډاکتر روح الله عمر چې هغه هم دپشد دکلي اوسېدونکی و دخپلې معاینه خانې نه چې یونیورستي ټاون کې وه او دشپې له خوا خپل کورته تلو، بې درکه شوچې د هغه هم دمړي او ژوندي هېڅ پته ونه لګېده.

پټنګ په ښکاره ډول دپشد د کلي دیو شمېر نورو کسانو په وژلو کې هم لاس درلود، چې له هغې ډلې څخه عاشق الله چې د OMAR په دفتر کې یې کار کاوه، دپېښور په شاه ډنډ کې یې وویشت چې وروسته دعاشق الله ورور ذبیح الله شرر هم د سرکاڼو او پشد ترمنځ دتصادفي برخورد له امله چې د دواړو موټرې سره مخامخ شوې پټنګ دیو شمېر نورو کسانو سره و وژل شو چې وروسته دپټنګ ورور عبد الرحیم ،ذبیح الله شرر چې ډېر ښه لیکوال وو په شمشتو کې وویشته او مړ شو .

د پورته کیسو په شان په سلګونو او حتی په زرګونو واقعات په پېښور کې تېر شوي چې اکثریت یې زړه دردونکي دي او دپاکستان حکومت داسې اشخاصو او یا تنظیمونو ته دا موقع ورکړې وه چې بې ګناه انسانان په هغه او دغه بهانو ونیسي او له منځه یې یوسي . په همدې ډول په افغانستان کې خلقیانو او پرچمیانوهم په زرګونو کسان د اخواني ،شعله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ،افغان ملتي یا مرتجع په نامه نیول او له منځه یې وړل، همداسې واقعات په پېښور کې هم دخلقي یا کمونیست په نامه او یا دهغوسره د رابطې د درلودلو په بهانه نیول او له منځه یې وړل،چې په واقیعت کې ددې ټولو وژنو منبع شخصي دښمني ،تضادونه او یامنافع وي . د افغانستان دښمنانو ددې تضادنو نه د خپلو ګټو په خاطر ډېره ښه استفاده وکړه او زمونږ دملت ترمنځ یې شنې او سرې کربښې ووېستلې او زمونږ ملك یې وران کړ. په ورستیو کلونو کې مو ولیدل چې څه ډول دا ائتلافونه او اتحادونه وشول چې نه سرې کربښې چا پېژندلې او نه شنې.

## اتم څپر کی

## د برچنچن څخه پېښور ته هجرت :

د سوری مومندو د دویم لښکر دخوربدوڅخه وروسته په غره کې زمونږ اقتصادي وضعه بېخي خرابه شوه او یواځې دومره پیسې مو درلودې چې تر پېښور پورې خپل فامیل ورسوو او هم په ځانګړي ډول بې له کوم کومکه جهاد ته دوام ممکن نه و، نو خامخا مو باید په پېښور کې دکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

تنظیم یا ډلې سره ار تباط درلودی ترڅو مو د جهاد لپاره مرستې تر لاسه کړې وای . هماغه و چې قوموندان غازي محمد ، څارنوال محمد صالح او پلار مې په ګډه مصلحت وکړ چې خپلې کورنۍ باید د غره نه پېښور ته یوسوو او هم به هلته دتنظیمونو مشران دنږدې نه وګورو او د راتلونکو فعالیتونه لپاره به ورسره سلامشوره وکړو .
مخکې له دې چې مونږ پېښور ته لاړشوو دحکمتیار اسلامي حزب دکونړ ولایتي دفتر ځانګه ملا غلام حسن چې په ملا صحاف یې شهرت درلود زما د پلار سره د یومجاهد په توګه یې په جهاد کې برخه اخیسته پنځوس ګټې (یوګټه کارتوس لس دانې ) کارتوس ورکړي وو .د اسلامي حزب دا لومړنی کمك و چې دخاص کونړ د ولسوالۍ دمجاهدینو سره یې کړی و . مخکې ما یادونه کړې وه چې ملا صحاف دخاص کونړ د ولسوالۍ دبرچنچن دکلي اوسېدونکی او ښه مجاهد و خو دخاص کونړ د ولسوالۍ په سطحه یې نفوذ نه درلوده او نه ددې جوګه و چې د مجاهدینو مشري دې وکړي . څرنګه چې زما پلار تقریباً درې لسیزې د افغانستان په حکومت کې او خا صتاً اخري دوه لسیزې یې دکورنیو چارو په وزارت کې کار کړی و نوپه اداري چارو کې یې کافي تجربه درلوده او هم دخاص کونړ او د غره مومندو ورته د احترام په سترګه کتل نو چې یو تنظیم یا ډله چې څوك د کومې سیمې لپاره مشر تعینوي نو باید دهغه سابقه او نفوذ په نظرکې ونیسي ، تر دغه وخته دحکمتیار اسلامې حزب دکونړ په ولایت کې مطلق اکثریت درلود .البته وروسته چې پته ولږېده پورته معیارونه په یوه تنظیم یاډله کې هم په نظر کې نه نیول کیدل او یواځې هغه څوك تنظیمونو ته قابل قبول وو چې دهغوی په دربارونو کې سهار او بېګاه موجود و ،یایې دتنظیمونو دکمېټو د رئیسانو سره ساز وباز یاشخصي پېژندګلوي درلوده او یا یې دهغوئ قومانده بې له کومه دلیله منله چې همدغه سلسله تر اوسه هم په افغانستان کې روانه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې شپوکې مونږ ته خبر راغلی چې زما مشر تره سیدمحمد عثمان څه مو ده دمخه وفات شوی او جنازه یې په ثمرخېلو کې دمیاعلي صیب د زیارت خواته خاوروته سپارل شوی ده .

مونږ ټول ډېر خپه وو خو د پلار لپاره مې دا ډېره غمجنه پیښه وه چې د خپل مشر ورور د مرګ نه خبر شو او دهغه په جنازه کې یې برخه نه درلوده نو دا فیصله یې وکړه چې ژر باید پېښور ته لاړ شو .

د ۱۳۵۸ هـ ش کال دسنبلې په شپږ ویشتمه نېټه مو دبرچنچن نه د ټولې کورنۍ سره پېښورته حرکت وکړ.

مخکې له دې چې سهار حرکت وکړو دشپې مو دکابل رادیو نه واورېدل چې دکابل دخلقي رژیم مشر نورمحمد تره کی مریض دی او سید داؤد تړون زخمي دی ، مونږ فکر وکړ چې خامخا په کابل څه پیښه شوې ده ،په هغه وخت کې ټیلفوني یانور مخابراتي وسائل نه و، او د زیاترو واقعاتو نه به خلك وروسته خبرېدل .

خو سره له دې مو پېښورته دتګ پرګرام معطل نه کړ او فکر مو و کړ که څه مثبت تحول راغلی وي نو دپېښور نه به دطور خم په لاره په اسانۍ سره خپل وطن (افغانستان) ته راشو.

ما سهار وختي دجوپه والوسره یو ځای حرکت وکړ او نوره کورنۍ وروسته په کراره را روان وو، ځکه ښځو او ماشومانونه شوکولای چې مونږ پسې را ورسېږي ، کله چې د بهی په ډاګ کې (دمزرې چینې او خاپښ کنډو ترمنځ پروت و )چې ټول مزل په شګوکې دی او خال خال کوم شین دبېرې یا غز ونې چېرته ښکاري .په لښکر کلي کې چې خلکو رادیوګانې اورېدلې وې نو مونږ ته یې وویل چې حفیظ الله امین په کابل کې پادشاه شو .دومندو قبائل د حکومت مشرتابه ته دپادشاه خطاب کوي ، نو مادوئ ته وویل چې دکابل د رژیم په تګ لاره کې هېڅ تغیر نه دی راغلی، دخلك ګوند یو مشر لرې شوی او بل یې په ځای ناست دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره د اته لس ۱۸ ساعتونو پر له پسې مزل نه دشپې په دولس بجو ګنداو (ګندهاب) ته ورسېدو ، دا زما لپاره ډېر اوږد مزل و او دومره ستړی شوی وم چې خپلې پښې مې نه شوی ټولولی او تر ډېره وخته پورې مې پښو درد کاوه ، جوپه وال په اوږدو مزلونو عادت دي دهغوئ سره یوځای سفرکول اسانه کار نه دی. ما په ګنداو کې دخپلې کورنۍ د راتګ پورې انتظار وکړ اوهغوی په دریمه شپه را ورسېدل ،ښځې او ماشومان دومره ستړي شوي وو چې هېڅ اندازه نه لري دبهي په ډاګ کې مې ورور سلطان محمود، مور سره ټوقې کړې وې چې مورې دا غازي به همدلته پرېږدو نور یې ځان سره نه شو وړلی.

دګنداو نه پېښور ته په بس کې لاړو او د بالاحصار سره نږدې دګنداو په اډه کې دبس نه ښکته شولو داچې مونږ سره پیسې نه وې چې کوم هوټل ته لاړ شو نو په غره کې یوچا مونږته د پېښور په زرګر اباد کې سیمه کې دیو تن پته راکړې وه چې هغه هلته دوه کوټې لري او ترڅوچې تاسې دایمي ځای پیداکوی هلته به اوسېږئ .

هماغه وو چې په دوه ګاډیو (ټانګو) کې ټول سپاره شولو اودټانګو وا لا ته مو وویل چې زرګر اباد ته لاړ شه ، دپېښور دښار دکوڅو او نومونوسره هم نااشنایو او په ښار کې هېڅ بلدنه یو ، ټنډه کوهي دروازې ته چې ورسېدو نو پلارمې دکامې ولسوالۍ جندول خان معلم ولیده چې په پښو روان دی نو غږ یې پرې وکړ او دیوبل په لیدو ډېر زیات خوشحاله شول ، جندول خان مې دپلار د ښوونځی دوختو هم صنفی او ډېر نږدې ملګری وو، جندول خان مې دپلار نه پوښتنه وکړه چې چیرته روان یاستئ نو پلارمې ورته وویل چې زرګر اباد کې چا پته راکړې چې دوه کوټې لري او هلته نور څه درك نه لرو .

جندول خان وویل چې د تګ ضرورت نه شته دی تر څو چې بل ځای پیداکوئ ما سره به اوسېږئ. جندول خان هم دخپل خسر په کورکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېده ، مونږ هم داساعت له خدایه غوښته چې څوك راته ست وکړي او دجندول خان سره چې دهغه کور دپېښور دوزیر باغ سره نږدې و لاړو ، تقریباً دوه اوونۍ مو دجندول خان په کور کې تېرې کړې ا وزمونږ یې ډېره زیاته میلمه پالنه وکړه چې هېڅکله به زمونږ دیاده ونه وځي بلاخره دپیښور په بیري باغ کې مو دوه خونې(کوټې ) په کرایه باندې پیداکړې او په څلور سوه روپیو مو په کرایه ونیولې ، په دغه وخت کې په پیښور کې دکرایي کورونه هم ډېر کم پیداکېدل ځکه دمهاجرولپاره کمپونه نه وو جوړشوي ، دمیزان دمیاشتې په پنځمه نېټه پلار مې او زه د اسلامي حزب مشر انجنیر ګلب الدین حکمتیار لیدوته ورغلو تر څو هغه د خاص کونړ د واقعاتو نه خبرکړو او هم په خاص کونړ کې د اسلامي حزب دنوي آمر ملا صحاف په هکله ورسره وغږېږو حکمتیار چې دخپل کتو لپاره یې همیشه منظم پروګرام درلوده او همیشه به دخپل پروګرام اووعدې په وخت موجود وو چې دا دنورو مشرانو سره د ده ځانګړی توپیروو د دې خبرې ثبوت ماته هغه وخت وشو چې کله زه ۱۹۸۵م نه تر۱۹۹۰م کال پورې په پېښور کې د امریکاغږ رادیو خبریال وم او دمجاهدینو دمشرانوسره مې دمرکو دکولو او لیدنې اړیکې زیاتې وې .

د حکمتیار ظاهري برخورد همیشه ډېر صمیمي و او دکتونکو سره به یې دغیږې سترې مشي کوله او دخدای په اماني په وخت به یې دخونې د دروازې پورې بدرګه ورسره کوله.

پلار مې حکمتیار ته په خپلو خبرو کې وویل چې انجینر صیب مونږ جهاد دخدای لپاره کوو خو څرنګه چې مونږ ستا په ډله کې وو نو تاسې باید لا اقل زمونږ دښو اوبدو څخه خبر شئ . ډوډۍ خپله خورو او خان صیب تاسې ته وایو او په دې هم تاسې خوشحاله نه یاستئ ،حکمتیار دپلار خبرې مې قطعه کړې او وې ویل چې خبره څه ده ؟پلار مې ورته وویل چې دکونړ ولایتي دفتر ملاصحاف دخاص کونړ دولسوالۍ دجهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



آمر په توګه رالیږلی دی ،تر اوسه پورې چې مونږ هلته کوم جهاد او یا د حکومت پرضد فعالیت کړی هغه مو په خپلو شخصي امکاناتو کړی او دیوه تنظیم یا ډلې نه مو هیڅ مرسته نه ده تر لاسه کړې البته دغسې تعینات دجهاد په ګټه نه وي ، پلارمې ورته وویل چې کله حضرت عمر(رض)په فارس کې خالد بن ولید (رض) دجګړې په وخت کې دخپلې دندې نه ګوښه کړ او په عوض یې عبدالله بن عبیده (رض)فقیر صحابي ولیږه نو حضرت خالد دهغه امر ومنه خو کله چې فتحه وشوه او حضرت خالد بېرته راستون شو نو دحضرت عمر (رض) نه دخپل برطرف کېدو دلیل پوښتنه وکړه نو حضرت عمر (رض) ورته وویل چې کفارو داسې اوازه خپره کړې ده چې خالد (رض)په اسلام کې نه وي نو فتحه نه کیږي نو ما ځکه ته تبدیل کړي ترڅوکفاروته وښایو چې داسلام هر سړی خالد دی . نو دا د دې معنی نه لري چې انجینر صیب که ته او زه نه یو نو اسلام به له منځه ځي او یا جهاد به نه کیږي خو د اشخاصو په تقررکې بایدپوره فکر و کړئ .حکمتیار چې ملاصحاف هم پیژنده نو هغه هم حیران شو او وې ویل چې زه دهغه په تقرر هیڅ خبر نه یم ، نو پلارمې ورته وویل چې دا لا ستابل مسؤلیت دی چې دیوې سیمې جهادي آمر مقررېږي او تاسې پرې خبر نه یاستئ .
څرنګه چې حکمتیار ډېرښه لیکوال یا په اصطلاح میرزاو او ښه لیك یې درلوده نو خپله شخصي کتابچه یې چې په سر کې د ده نوم په انګلیسي او درې ژبه لیکل شوی وو ،را واخیستله او دخاص کونړ مجاهدینوته یې په لاندې ډول حکم په خپل قلم ولیکه (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)ددې لیك اصل کاپي دکتاب په البم کې راغلې ده .

برادر محترم جبهه خاص کونړ : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
چون برادر ما مدیر صاحب طی مکتوب رسمي به حیث امر منطقه انتخاب گردیده وبا توجه به آن تحت امارت ایشان در منطقه عملاً کار اغازشده است وطبق اطلاعات ما فعالیت حزب درمنطقه کاملاً موفق میباشد بناءً مایك بار دیگر امارت ایشان راتائید مینمائیم .
امیدوارم که برادران متعهد حزب تحت امارت مدیر صاحب بکار شان ادامه دهند.
مؤفقیت تان را ازبارگاه الهي متمني ام .
با احترام
حکمتیار
۱۳۵۸\۷\۵
که څه هم حکمتیار پلارته مې مکتوب ورکړ خو دکونړ ولایتي مرستیال مولوي میرزا چې دپیچ درې و د ملا صحاف ملاتړ کاوه ځکه میرزامولوي او ملاصحاف دواړه پنج پیران وو او نه یې غوښتل چې پلار مې په خاص کونړ کې دجهاد مشري ولري ځکه پلارمې له یوې خوا د افغانستان پخوانی مامور وو چې دوی اکثریت دپخواني پادشاه ظاهر شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفداران ګڼل کېدل او هم له بله خوا زمونږ کورنۍ روحاني کورنۍ وه او دپنج پیرانو د دوی سره چندان جوړه نه وه .پنج پیر اصلاً دپېښور د صوابۍ سیمې سره نیږدې یوکلی دی چې هلته مولانا محمدطاهر یوه مدرسه جوړه کړې وه او هغه ملایان یا دیني عالمان چې به دغه مدرسې نه فارغېدل او یا به دمولانا محمد طاهر دعقیدې پیروان وو نو دوی ته به یې په کونړ یامشرقي ولایاتوکې پنج پیران ویل ، په لومړي وختونوکې په کونړ کې د دې عقیدې پیرو او مشر مولوي حسین دپیچ درې چې وروسته په شیخ جمیل الرحمٰن یې شهرت پیداکړ .مولوي جمیل الرحمٰن چې دحکمتیار د اسلامي حزب دکونړ ولایت مشروو د اجرائیه شورا غړی وو ،وروسته د اسلامي حزب نه جدا شو او دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة په نامه یې ځانګړې ډله جوړه کړه چې دوی به ځانونوته سلفیان یا اهلحدیث ویل خو د خلکو په منځ کې یې دوهابیانوپه نامه شهرت درلوده مولوي جمیل الرحمٰن دجهاد دکلونو په پیل کې په کونړکې خورامهم رول درلود او د ۱۹۹۱ م کال په اخرو کې دباجوړ ښار په سیمه کې په خپل کور کې دیوه عرب له خوا وویشتل شو او مړ شو . دمولوي جمیل الرحمٰن وراره حاجي نقیب الله په قول دغه عرب دحکمتیار د اسلامي حزب دفرهنګي کمټې سره دعربې ژبې دمجلې په دفتر کې کار کاوه ، دغه عرب دتیښتې په وخت کې دمولوي جمیل الرحمٰن دبل وراره حاجي روح الله له خوا ونیول شو او هماغلته ووژل شو .

بل دلیل چې پلار مې نه شوکولای چې د اسلامي حزب سره اړیکې ولري هغه داوو چې د دغه حزب اکثریت غړي دکابل پوهنتون اویا دښوونځیو زده کوونکي یا په اصطلاح ځوان نسل وو چې د ادارو په راءس کې یې ځای درلوده نو قومي مشرانو ،پخواني مامورینو اویامخوروکسانو په دغه ډله کې خپل ځانونه بیګانه ګڼل او دوی ته داسخته وه چې حزبي قوانین

(c) ketabton.com: The Digital Library



،نظم او یا انضباط ومني او هم به د حزبیانو له خوا د دوی سره ښه وضع نه کېدله .

دحکمتیار دلیدونه وروسته پلارمې او قومندان غازي محمد تصمیم ونیوه چې دکومې بلې ډلې سره باید اړیکې ټینګې کړي ، په دغه وخت کې د اسمار غنډ چې دفرقه تشکیل یې درلوده د قومندان عبدالرؤف صافي په مشري دکابل دخلقي رژیم پرضد قیام کړی و او دکونړ والي چې نظام بې خدا به یې ورته وایه وژلی او دفرقې ټولې وسلې او مهمات یې اسلامي حزب ته تسلیم کړي وو. نظام بې خدا په ۱۳۵۸ هـ ش کال دثور په میاشت کې دکونړ ولایت دمرکز اسعداباد (چغه سرای)سره نږدې دکرالي دکلي ، تقریباً دشپږسوه کسانو چې واړه ماشومان هم پکې شامل وونظام بې خداپه دغه ډله ایزه وژنه کې لاس درلوده چې ټول یې دبیلدوزر په واسطه نیم ژوبله دخاورو لاندې ښخ کړل . د دغه مړو دوه لوې ډوپې (دخاورولاندې مړي) دکرالی پل شمال ختیځ پلو ته اوس هم شته کله چې په ۱۹۸۸ م کال کې دکونړ ولایت دکابل رژیم له خوا تخلیه شو مجاهدینو د د غه شهیدانو د ډوپیونه چار چاپېره دیوال تاوکړ .

کله چې قومندان عبدالرؤف خان داسمار غنډ اسلامي حزب مجاهدینو ته تسلیم کړ او ټولې وسلې او مهمات یې د اسلامي حزب مرکز شیګل ته انتقال کړل نو په دغه وخت کې د اسلامي حزب دکونړ ولایت مشر مولوي حسین او دده ترمنځ اختلاف پیداشو ، قومندان عبد الرؤف خان وروسته کلونوکې ماته وویل چې داختلاف اصلي لامل دقواؤ په قومنده کې وو ځکه چې دوی غوښتل چې دکونړ ولایت مرکز چغه سرای ونیسي او دهغه ځای نه دجلال اباد په لوري حرکت وکړ ي خو قومندان عبدالرؤف خان د اسلامي حزب په دې خبره خوښ نه وو ، په همدغه وخت کې د اسلامي جمعیت تنظیم او دملي نجات جبهه د اسمار دغنډ دیوشمېر صیب منصبانو سره په پټه تماسونه ټینګ کړي وو او یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکر دقومندان عبدالرؤف په مشري دبچي سیمې ته له سیند راپورې وتلی و او دبچی د اکبرخان په ځای کې وو چې هغه د اسلامي جمعیت دتنظیم سره اړیکې درلودې ، قومندان عبدالباقي دترنګزو د پاچاګل صیب لمسی وو ادهغه کورنۍ دملي نجات دجبهې سره اړیکې درلودې .
داسمار دغنډ دقیام نه وروسته استادبرهان الدین رباني او حضرت صبغت الله مجددي پخپله دمروری سیمې ته تللي و او دقومندان عبدالرؤف خان سره یې کتلي وو نو په دغه وخت کې داسې اوازه شوه چې استاد رباني عبدالرؤف خان ته پیسې ورکړې ترڅو دی دهغه دتنظیم سره یوځای شي خو قومندان عبدالرؤف خان دغه خبره رد کړه او وې ویل چې شخصاًپه ما ،څوك یوه روپۍ هم نه شي ثابتولای.
په هر حال دحضرت صبغت الله مجددي او استاد رباني تګ د اسمار سیمې ته دحکمتیار داسلامي حزب او داسمار د صیب منصبانو ترمنځ بد ګوماني پیداکړه او دشپې له خوایې د اسمار دغنډ ټول عسکر او صیب منصبان بې وسلې کړل او قومندان عبدالرؤف  خان په داسې حال کې چې د اسلامي حزب له خوا پرې ډزې کیدې دجالې په ذریعه دبچی سیمې ته راپورې وتی و او د اسلامي جمعیت دتنظیم سره یې خپل پیوستون اعلان کړ . دبچی سیمه چې دمروری سره نږدې پرته ده په دغه وخت کې د دې سیمې قومي مشر چې اکبر خان نومیده داسلامي جمعیت دتنظیم قومندان و.
داسلامي جمعیت تنظیم مشر استاد برهان الدین رباني د دغه موقع نه دخپل تنظیم په ګټه ډېره زیاته استفاده وکړه او داسې تبلیغ یې خپور کړ چې داسلامي حزب د اسمار غنډ تالا او بې ګناه عسکر چې مجاهدینوته تسلیم شوي وو ،ووژل. تردغه وخته دکونړ په ولایت کې اسلامي حزب ترټولوډلو زیات نفوذ درلوده خو د اسلامي جمعیت دزیات تبلغاتي فعالیت په اساس او هم کله چې د ۱۳۵۸ کال دجدي په میاشت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسانو دکونړ په ولایت باندې لویه حمله وکړه نو تقریباً پنځه اتیازره کسه د ۱۳۵۹ هـ ش کال د جوزا دمیاشتې پورې دکونړ نه باجوړ او دیرته مهاجر شول او نورو ډلوته دا موقع په لاس ورغله چې دکونړ په داخل او هم دمهاجرو په منځ کې فعالیت وکړي .

د۱۳۵۹ هـ ش کال په پیل کې ما د افغانستان لپاره د اسلامي اتحاد دمهاجرینوپه دفتر کې کار کاوه او دباجوړ دکمپونونه مونږ دغه احصائیه راټوله کړې وه ترڅو دهغوئ سره مرسته وکړی شي .

متاء سفانه چې د اسمار دغنډ څوارلس کسه صیب منصبان چې دپېښور د بوتنۍ پله سره نږدې داسلامي جمعیت په نظامي کمېټه کې اوسېدل په همدغه وخت کې دیوې چاودنې له امله دننه په دفترکې مړه شول . په پېښور کې د داسې پېښو په هکله دپاکستان دحکومت له خوا هېڅ څېړنه نه کېدله چې عاملین یې پیداکړي خو ویل کیدل چې په دغه پېښه کې دکابل حکومت لاس درلود.

دا چې له اصلي موضوع څخه لرې لاړ نه شو نو را به شو دې ته چې دحکمتیار دلیدونه وروسته راووتلو قومندان غازي محمد ، پلارمې او زه یو ځای روان وو چې دکونړ دنورګل دعلاقه داری قاضي میرزمان چې دپلارمې نږدې ملګری و په مخه راغی او دستړي مشي نه وروسته یې مونږ دغرمې ډوډی ته دعوت کړو او وې ویل چې زما دفتر نږدې دی او هلته به ډوډی وخورو . داسلامي جمعیت او د اسلامي حزب مرکزي دفترونه دپېښور دفقیر آباد په سیمه کې ډېر نږدې نیږدې پراته و و . قاضي میرزمان د اسلامي جمعیت سره د دعوت او تنظیم په کمېټه کې کار کاوه . کله چې مونږ دهغه دفتر ته ورغلو نو د دعوت او تنظیم مشر عباس خان چې په استاد مشفق یې شهرت درلود هم موجود وو، استاد مشفق د لغمان ولایت دمرکز دمریم کوړې دکلي او د روښان په لیسه کې زما د دري ژبې استاد وو او د هغه پلار استاد تاج محمد خان زما دپلار هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنفی و ، استاد تاج محمد خان هم دکابل درژیم له خوا دشورکودتاه په لومړیو شپوکې بندي شوله هماغه ځایه ورك اوبیا وو ژل شو .استادمشفق هم زمونږ په لیدوډېرخوشحاله شواو سمدستي یې مونږ دې ته دعوت کړو چې د اسلامي جمعیت سره باید خپل پیوستون اعلان کړو ، څرنګه چې پلار مې او قومندان غازي محمد نه غوښتل چې داسلامي حزب سره همکاري وکړي نو د دوی سره یې هو وکړه او دغرمې ډودۍ دخوړلو نه وروسته یې د استاد رباني دفتر ته چې په یوه تنګه کوڅه کې په یوه وړوکې حویلۍ کې چې په پېښور کې ورته کوارټر وایه یوړو
څرنګه چې د استاد رباني د دفتر کوټه ډېره وړوکې وه نو دوی ننوتل او زه په حویلۍ کې ورته تم شوم ، دلږې شیبې نه وروسته چې دوی را وتل استاد رباني سمدستي پلار مې دخاص کونړ دجبهې د آمر په توګه او قومندان غازي محمد یې دهغه دقومندان په توګه تعین کړي وو او دجمعیت اسلامي دتنظیم له خوا یې دمیزان په دولسمه نېټه مکتوب ورکړ استاد مشفق زماڅخه هم وغوښتل چې زه باید دهغه سره کار وکړم خو بیا هغه پیمان اتحاد اسلامي دار الانشاء ته معرفي کړم او د دغه دفتر په سیاسي کمیټه کې مقرر کړی شوم . پیمان اتحاد اسلامي د ۱۳۵۸ هـ ش کال په نیمایي کې د خالص اسلامي حزب ،دملي نجات جبهه ،دحرکت انقلاب اسلامي او اسلامي جمعیت دتنظیمونو ترمنځ ګډ ائتلاف وو چې استاد رباني دسیاسي کمیټې مشر،مولوي خالص دمالي کمېټې مشر ،حضرت صبغت الله مجددي دنظامي کمېټې مشر او مولوي محمدنبي محمدي د عدلي کمېټې مشر و او د دغه ائتلاف منشي استاد محمد جان احمدزی وو .
استاد محمد جان چې دلوګر ولایت اوسېدونکی او دکابل پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی استاد و، نوموړی د اسلامي جمعیت دتنظیم د اجرائیه شورا غړی وو او د ډېر مودې لپاره دمالي کمېټې مشرهم وو ، استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

احمد زی د ۱۹۹۲ م کال دروژې په میاشت کې دپېښور دهجرت (پبو) په کمپ کې په داسې حال کې دنامعلومو کسانوله خوا ووژل شو چې دسهار لمانځه لپاره دخپل کورنه جومات ته روان وو .
څرنګه چې مخکې ما یادونه کړې وه چې د اسمار دپېښې نه وروسته د اسلامي جمعیت تنظیم د اسلامي حزب پرضد زیات تبلیغات وکړه او پوره ګټه یې ترې اوچته کړه نو په دې لړ کې اسلامي جمعیت زمونږ دپیوستون نه هم یو څه ګټه واخسته او د فقیر اباد په یوه حویلۍ کې یې یوه لویه غونډه جوړه کړه دکونړ ولایت دناړې دعلاقه دارۍ نه قاضي عبدالستار هم په دغه ورځ دخپلو مجاهدینو سره داسلامي جمعیت دتنظیم سره یوځای شو او د دغې غونډې انانسر استاد احمدزی و ،نوموړې غونډې ته استاد رباني ، ډاکتر کمال چې مصری عالم و ، یاسر چې وروسته د اسلامي جمعیت د ډلې د دعوت اوتنظیم رئیس شو ، قاضي ستار او پلار مې خبرې وکړې او غونډه د استاد قیام الدین کشاف په دوعائیه وینا سره پای ته ورسېده .
دلته غواړم چې دپلار مې یو څوخبرې چې په دغه غونډه کې کړی اوثبت شوي دلته رانقل کړم . پلار مې وویل چې دیو تنظیم نه څوك بل تنظیم ته ځي دهغه دلیل به داوي چې هلته ورته دخدمت کولو موقع څوك نه ورکوي او یایې کوم خیانت کړی دی . مونږ د اسلامي حزب نه هیڅ نه دي اخیستي خوزمونږ سره دکونړ ولایتي دفتر اختلاف درلوده اوغوښتل یې چې زمونږ سرنوشت دنا اهله او بې کفایته کسانو پورې وتړي ، ده وویل چې د اوښ نه چاپوښتنه وکړه چې څه حال لرې؟ اوښ ورته وویل چې ښه حال لرم . نوبیا یې تر بې پوښتنه وکړه چې په داسې حال کې چې درانه بارونه وړې او خوراك د ې اغزي دی، خو ددې سره هم ته خوشحاله یې ، نو کوم وخت کې خپه یې ؟ اوښ ورته وویل چې زه هغه وخت ډېر خپه یم چې زماسروشت یعنې پېزوان دخره پورې وتړي او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

په دغه غټه جسه اوتنه دخره پسي روان یم . پلارمې دالفت صاحب داشعر ووایه چې:

دیوسف په څیرو جاموکې څه ګناه ده
چې په ښه جامو کې ګناه کړې زلیخاده .
راشئ څیري کړو داسپینې جامې رنګینې
چې په کې وګورو څیرې ډیرې رنګینې

ده وویل چې زمونږ ملت کې هیڅ نقص نشته دی خودا ستاسې مشرانو وظیفه ده چې کار اهل کار ته وسپارئ ترڅو جهاد په ښه توګه پرمخ ولاړ شي .

دپلار دخبرو مې تقریباً اوه ویشت کاله تیرېږي چې په همدغه شکل اوس هم مونږ اخته یو ، نه کار اهل کار ته سپارل کیږي او نه په وطن او ملك باندې زړه سوی شته دی .

د ۱۳۶۰ کال په ژمي کې چې دجدي دمیاشتي ډیره تخته یخني وه یوه ورځ  د کلي په شاوخواکي روسانو زیاتې هیلکوپټرې کینولې او کمانده يي عسکر يي تري پیاده کړل اوڅوك به چې په مخه ورته راتله هغه به يي واژه چې په لړ کړې يي دالاندې کسا ن شهیدان کړل ۱ — اول حاجي ۲ — بهاول ۳ — محمداجان ۴ — سید افضل دترځوی ۵ — فضل الرحمن ۶ — محمد عارف دبونجلی ځوی ۷ — عبدالستار دبونجلی ځوي ۸ — شاه ولي دبونجلي ځوي ۹ — خالوکاکا ۱۰ — سیدامین دګل امین ځوی ۱۱ — اعظم خان ۱۲ — محمد خان عرب چې دننګرهاردعربانونه و ددوه کسوکلنیرانوسره يي شهیدان کړل. ۱۳ — دمیرزاخان لور يي شهیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

کړه ۱۴ — امین دخواري ځوی ۱۵ — دسرکند دکلي دطالب ځوی ۱۶ — دحاجیانو دبانډه سیفوردحاجي یارګل ځوی ۱۷ — دکوزچنچن دکلي داریف (محمدعارف ) اوځوی یې ۱۸ — دسادل ځوی چې په ژبه بیړاوو ۱۹ — دوه کسه ملایان چې د لندګل دپټن دکلي وو ۲۰ — دکاویړدکلي میرزا دسید فقیر ځوی ۲۱ — حاجي سراج ګل دحاجیانودبانډه ۲۲ — محمدرازق دحاجیانودبانډه ۲۳ — دکاویړدکلی ستارد پاینده ګل ملاځوی. محمد امین د منګوال چې په دغه وخت کې په کلي کې وو راته به کابل کې قصه کوله چې کله دروسانو دهلیکوپټرونه موولیدل نو دکلي ټولو نارینه وو دغره خواته منډې کړل بعضي کسان چې عسکري یې کړې وه اویا ډیرسپین ږیري وو پاتې شول . دمنګوال دبونجلي دوه زامن تازه راغلي و نوروسانو نیولي و نودي ورپسي خپل بل ځوی ورلیږلي و اوپیسي یي ورته ورکړي وي که روسان ددي زامن خوشې کړل خوروسانو ددي درې واړه زامن په یوه قلعه کې ووژل . ټولو خلکو شپه په غره کې تیره کړه اوځوك نه وو چې مړي ښخ کړي . زما دتره لمسي سید عبدالوافي چې هم په کنړکې وراته قصه کوله چې کله دروسانو دتلونه وروسته کلي ته راغلم نو دبهاول په مړي سپي لګیاوو نوبیاماهغه سپي په ټوپك وویشته . ددې پیښې نه وروسته دخاص کنړ دولسوالۍ نیمایي برخه دکامې تر پله پورې دټولو کلونه خلك په ډله ایزه توګه پاکستان ته مهاجرشول دمنګوال دلارې مهاجرینو اومجاهدینو ته ډیره اسانتیا وه ځکه له دغې لارې لغمان ته په درې ورځو کې رسیدلی شول اما دچترال له لارې لغمان ته په پنځلس ورځو کې مجاهدین رسیدل خو ددې عامه وژنې نه وروسته دا لار هم دمجاهدینو پر مخ وتړل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

## په پېښور کې د تنظیمونو جوړېدل :

زه دلته ضروري بولم چې دپېښور د ډلو په تشکیل باندې یوڅه رڼاواچوم ،که څه هم د دغه ډلو د جوړېدودقیقې نیټې ما ونه شوکړای چې تر لاسه کړم خوکال او میاشتونیټې دقیقې اوصحیح دي ، دغه معلومات ما په پېښور کې د زیادتره هغه کسانونه راټول کړي دي څوك چې په دې غونډوکې ووچې په دې لړکې ما او امریکایي پروفیسر ډیویداډوارد د ۱۹۸۲-۱۹۸۴ م کلونوتر منځ د حضرت صبغت الله مجددي ،پیرسیداحمد ګیلاني ،مولوي جمیل الرحمٰن ،استاد رباني ،انجینر ګلب الدین حکمتیار مولانا قیام الدین کشاف، قاضي محمدامین وقاد ،مولوي محمدنبي ،مولوي سیداکبر او یوشمېرنورو مشرانوسره مرکې کړي دي .

کله چې د ۱۹۶۴ م )کال کې اساسي قانون جوړ شو نو د احزابو فعالیت ته په کې اجازه ورکړل شوه که څه هم داحزابو قانون دپادشاه له خوا توشیح نه شو خو سیاسي احزابو خپل فعالیت ته دوام ورکړ .

په دغه وخت کې مختلفې ښې ، چپې نیشنالیستي او اسلامي ډلې جوړې شوې ، څرنګه چې زماهدف یواځې دپېښور د ډلو جوړېدل دي نو یواځې د اسلامي ډلوپه جوړېدو اواشعاباتو باندې غواړم چې رڼا واچوم ، کله چې د ۱۳۴۸ هـ ش کال کې دجوانان مسلمان ډله دکابل په پوهنتون کې جوړه شوه نو دنورو ډلو له خوا دوی ته اخوانیان ویل کېدل او ددوئ اړیکې یې دمصر اخوان المسلمین دګوند سره ښو دلې ، جوانان مسلمان هم دکابل په پوهنتون کې دنورو ډلو په شان راڅرګند شو او فعالیت یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه ، د دغې ډلې په رهبري کې د ابتداء نه اختلاف نظر موجود وو چې یوه ډله چې زیاتره دپوهنتون استادان وو د دغې ډلې مشر او باني استاد غلام محمد نیازی ، ګڼي چې په دې ډله کې استاد برهان الدین رباني ،عبدالرسول سیاف ، استاد محمد موسی توانا، او داسې نور دکابل پوهنتون استاذان او زیاتره پخته سنه کسان شامل وو ، امابله ډله د دې ګوند یا ډلې مشر عبدالرحیم نیازی چې هغه هم دشرعیاتو د پوهنځي شاګرد وګڼي ، چې په دې ډله کې مولوي حبیب الرحمٰن ،سیف الدین ،ګلب الدین حکمتیار ،انجینیر حبیب الرحمن ،قاضي محمد امین وقاد او یو شمېر نور دپوهنتون شاګردان چې د پوهنتون په غونډو او مظاهرو کې یې فعاله ونډه درلوده شامل وو.

کله چې د داؤد خان دکودتاه نه وروسته او په خاصه توګه د پلان دوزیر علي احمد خرم د وژل کېدو نه وروسته دجوانان مسلمان یوشمېر غړي دحکومت له خوا وینول شول او یو شمېر نور غړي یې پاکستان ته مهاجر شول ، په پاکستان کې د دغه ډلې رهبري د استاد برهان الدین رباني ، مولوي حبیب الرحمٰن او انجینر ګلب الدین حکمتیار په غاړه وه ، په دغه وخت کې دپاکستان صدر اعظم ذو الفقاربهټو دوئ ته پناه ورکړه اوهم یې ددې ګوندغړو ته چې احمدشاه مسعود هم پکې شامل وو فوځي زده کړه ورکړه او دوی یې دې ته چمتوکړل چې د داؤدخان درژیم پرضد مسلحانه فعالیت وکړي.

د جوانان مسلمان د رهبري د ډلې نه استادبرهان الدین رباني په دې عقیده و چې په هېوادکې د داؤد خان درژیم پرضد مسلحانه مبارزې یاقیام ته ولس چمتو نه دی نو ښه به دا وي چې فرهنګي او سیاسي مبارزې ته دوام ورکړو خو مولوي حبیب الرحمٰن او انجینر ګلب الدین حکمتیار په دې عقیده ووچې مسلحانه مبارزه باید پیل شي او ولس عمومي قیام ته آماده دی ، په همدې علت استاد رباني دجوانان مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډلې سره په پېښور کې اختلاف راغی او دڅومحدودو کسانوسره یې د اسلامي جمعیت دتنظیم په نامه جدا ډله جوړه کړه ځکه په دغه وخت کې په پېښور کې د دغې ډلې اکثریت غړي ځوانان وو ، هماغه وو چې دجوانان مسلمان ځوانې ډلې دپاکستان د ISI یا استخباراتي شبکې په کمك اوهمکاري د ۱۳۵۳ هـ ش کال په اوړي کې د داؤدخان د رژیم پر ضد دکونړ ولایت دشیګل په سیمه کې ،لغمان پنجشېر او سره رودکې مسلحانه قیام وکړ خو ناکام شواو ولس ورسره هیڅ نوع هم غبر ي ونه ښوده .په لغمان کې مولوي حبیب الرحمٰن ، په شیګل کې کشمېرخان ، په پنجشېرکې احمدشاه مسعود او سره رود کې آدم خان ددې مسلحانه قیام مشري کوله ، ویل کېده، چې انجینر ګلب الدین حکمتیار باید پکتیا کې دغه قیام رهبري کړی وای خوهغه په خپله هلته څه فعالیت ونه کړ او د ده دمخالفینو له خواداسې ویل کېدل چې ده نور تشویقول چې د افغانستان داخل ته لاړ شي ځکه دی په دې متیقن و چې دوئ څه نه شي کولای اوخامخا به نیول کیږي اودجوانان مسلمان رهبري به ده ته پاتې شي.

په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې زه دلغمان ولایت دروښان په لیسه کې دیولسم ټولګي زده کوونکی وم او زما پلار دلغمان په ولایت کې د احصائیه مدیر و په دې وخت کې دلغمان ولایت والي عبدالقادرقاضي و ، کله چې دمولوي حبیب الرحمٰن ګروپ چې تعداد یې اوه ویشت کسه وو د دغې حملې په نتیجه کې دلغمان ولایت دپولیسو سرمامور او دوه کسه عسکریې ووژل او حمله کوونکود والي په کور او بانك باندې حمله وکړه ، والي دخپل کورنه تښتېدلی و او دبانك مؤظف عسکرو د دوئ سره مقاومت کړی وو او دوی ونه شوکړای چې بانك ونیسي او یادبانك نه پیسې وکاږي ، څرنګه چې د دوئ دغې حملې سره ولس دې ته اماده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چې قیام وکړي نو دوئ ونه شوکړای چې زیات مقاومت وکړي ، دسهار درڼا د راختو نه دمخه ټول خواره واره شول .
و الي سهار بېرته ولایت ته راغی اوهم دننګرهار والي عزیزالله واصفي او دیولسمې فرقې قومندان جنرال یونس خان دیوې قطعې سره د لغمان ولایت ته راغلل ، دلغمان والي دسیمې مشران راوغوښتل او ورته وې ویل چې دغه حمله کوونکي دلغمان د کلي او کور نفر دي او تاسې خامخا باید دوئ حکومت ته په لاس ورکړئ اوکه نه تاسې مشران ټول بندیان ووم . د ولس مشرانو والي ته دهمکارۍ وعده ورکړه او ټول د دغه نفرو دنیولو پسې خواره شول یو کس چې دوالي دکورنه بادي ټوپك او یوټیپ ریکارډر غلاکړی و نو سترګی شوی و او دلغمان ولایت مرکز سره نږدې دجوګي پله لاندې دیوې لوې ګټې(تیږې) تر شا په داسې حال کې ویده وچې ټوپك او ټیپ ریکارډر یې سرته ایښي وو . دپلټنې په لړکې چا د دغه نفر راپور پولیسوته ورکړې وه او دغه نفر یې نیولی وو ، کله یې چې ددغه هلك نه تحقیق پیل شو نوهغه ورته دخپلې ډلې ټول کسان په ګوته کړل او پولیسو په غیر د دوه کسوڅخه چې یودمولوی حبیب الرحمٰن خان ورور و او یو بل تن ملګری ورسره وو نور ټول ونیول پخپله مولوي حبیب الرحمٰن په داسې حال کې ونیول شوچې دی هم سترګی شوی وواو دلغمان ولایت دچهاردهي کلي ته تللی و او دیوې دېرې نه یې کټ اخیستی و او دګنوپه پټي کې یې اچولی و او یوماشوم ته یې ویلي وچې ماته چای راوړه . هغه ماشوم خپل پلارته چې ملك حبیب نومیده ویلي و چې یوکس دیرې ته راغی کټ یې واخیسته او دګنو په پټي کې یې واچاوه او ماته یې وویل چې چای راوړه ، ملك حبیب چې دی لیدلی و نو سمدستي پرې پوه شوی و چې دی هم دشپې په حمله کې لاس لري او خپلونفرو ته یې ویلي وو چې دی ونیسي اوولایت ته یې بوزئ ، تر دې وخته ملك حبیب دی (مولوي حبیب الرحمٰن ) نه پېژنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

اوکله يې چې ولايت (مرکز) ته راوستی ونو نورو کسانومولوي حبيب الرحمٰن پيژندلی و نو په دې ډول يې د دغې ډلې پنځه ويشت کسه دمولوي حبيب الرحمٰن په شمول ونيول . مولوي حبيب الرحمٰن وروسته دخلق رژيم له خواپه زندان کې ووژل شو.

د مولوي حبيب الرحمٰن تره عبدالرحمٰن علينګای په کابل دار المعلمين کې زما دپلار همصنفی و اوهم نوموړی دخاص کونړ ليسه په ابتدائيه ښوونځي کې معلم اوزما دپلار نږدې ملګری و ، د اوړي دګرمۍ له امله مونږ خپله کورنۍ کابل ته ليږلې وه ځکه چې دلغمان ولايت مرکز ډېرګرم دی ، زه او پلار مې دشپې له خوا دقرغيو ولسوالۍ ته تلو ځکه زما دکاکازوی سيد عبدالقهار نيازمن په دې وخت کې دقرغيوولسوال و د دغې پيښې دوه شپې د مخه زه او پلارمې دعلينګاري ليدو ته بصرام کلي ته ورغلو دمازديګر له خوا علينګاری راغی او دستړي مشي نه وروسته يې زما پلار ته وويل چې زه چېرته ځم اوبېرته راځم او دعلينګاري دتره زوی ملك نصر الله زمونږ ډېره ښه ميلمه پالنه وکړه خوعلينګاری بېرته رانغی او پلار مې هم ډېرزيات خپه شو ځکه پښتنوکې ميلمانه څوك ځانته نه پرېږدي خو وروسته مونږ ته پته ولږېده چې په همدې شپه مولوي حبيب الرحمٰن دعلينګاري سره دلغمان په مرکزکې دحملې پلان جوړوه _ علينګاری هم دثور دکودتاه نه وروسته دخلقيانو له خوا بندي او ووژل شو.

پلار مې کيسه کوله چې دلغمان د پيښې نه وروسته سهار چې زه ولايت ته لاړم عسکرو نه پرېښودم چې خپل دفتر ته لاړشم خو دپيژندګلوی نه وروسته يې راته اجازه راکړه او کله چې ولايت ته داخل شوم نو مولوي حبيب الرحمٰن مې په داسې حال کې وليد چې لاسونه يې پرې تړلې وو ، دلغمان دامنيې قومندان هم په همدغه شپه تښتېدلی و ،خو سهار چې را غی نومولوي حبيب الرحمٰن ته يې دخائن خطاب وکړ او نور څه سپك

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

الفاظ استعمال کړل او غوښتل یې چې مولوي حبیب الرحمٰن ووهي خو په دغه وخت کې دننګرهار دفرقې قومندان جنرال یونس خان د امنیې قومندان ته په قهر شو او ورته ویې ویل
چې دشپې چیرته وې ؟ کله چې دوئ په ولایت باندې حمله کوله ته تښتېدلی وې اوس چې دې دوئ لاس تړلي ولیدل تکړه شوې پلار مې ویل دمولوي حبیب الرحمٰن مورال کې هېڅ تغیر نه ښکاره کېده او سمدستي یې د امنیې قومندان ته وو یل چې خائنین خو تاسې یاستئ چې دخائن حکومت سره کار کوئ.
دفرقې قومندان دمولوي حبیب الرحمٰن نه پوښتنه وکړه چې ستاهدف څه دی ؟ مولوي حبیب الرحمٰن ورته وویل چې زمونږ هدف د داؤد خان درژیم له منځه وړل دي ځکه دا حکومت یو غیر اسلامي حکومت دی .
د دغه لږ سوال او ځواب نه وروسته یې مولوي حبیب الرحمٰن په یوه موټرکې واچوه چې ټو لې دروازې یې تورې وې او کابل ته یې ولیږه .
په دغه نیول شوو کسانو کې یو تن زما هم صنفی چې محمد الله دحاجي عبدالرزاق زوی هم شامل وو،محمدالله دلغمان مرکز دشیخانوکلا اوسېدونکی و .
دثور دکودتاه نه وروسته استادرباني هم د سعودي عربستان نه پیښور ته ستون شو. او دجوانان مسلمان د ډلې مشري چې ګلب الدین حکمتیار ته پاتې وه دوئ دخبرو اترو نه وروسته دې توافق ته رسېدلي وو چې د اسلامي حزب په نامه شریك تنظیم جوړ کړ ي ، هماغه و چې دعلماوو په غونډه کې دوئ خپل اتحاد سره اعلان کړ اومولوي سید اکبر چې دلوګر اوسېدونکی ودحاضرو مشرانو او علماوو له خوا دمشر په توګه وټاکل شو ، څرنګه چې استاد رباني او انجینر ګلب الدین حکمتیار دواړه دمولوي سید اکبر په انتخاب خوشحاله نه وو.ځکه چې هغه دجوانان مسلمان د ډلې غړی نه وونو دوئ قاضي محمد امین وقاد داسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

حزب مشر وټاکه دغه اتحاد هم ډیر وخت دوام ونه کړ دواړو جلا جلا تنظیمونه یو د (اسلامي حزب ) او بل د (اسلامي جهاد ) په نومونو جوړ کړل مولوي سید اکبر دولسي جرګې پخوانی غړی وو،دجرګې او په شوراکې چې د ګوندونو پرضد یې فعاله ونډه درلوده.
د دغه جدایي نه وروسته حکمتیار کوئټه ته تللی و او دمولوي محمد نبي محمدي سره چې تازه کوئټې ته مهاجر شوی و اوپه یوه مدرسه کې یې تدریس کاوه لیدلی و او هغه یې دې ته دعوت کړی و چې پېښور ته راشي او دمجاهدینو ترمنځ به اتحاد راولې . او هم به د اتحاد مشري په غاړه واخلي .
په ۱۹۸۳ م کال کې مولوي محمدنبي محمدي professor David Edwards اوماته په یوه مرکه کې وویل چې زه کوئټې نه پېښور ته دعلماوو دیوې ډلې سره په دې منظور راغلی وم چې د اسلامي جمعیت او اسلامي حزب ترمنځ اتحاد راولم او دمشري خبره زما هېڅ په خیال کې نه وه خو دوئ راته دلته (پېښور) کې د مشري مسؤولیت په غاړه واچوله اودوئ دحرکت انقلاب اسلامي په نامه اتحاد وکړ مولوي محمدنبي محمدي چې پېژندل شوی دیني عالم وو د نوي اتحاد چې حرکت انقلاب اسلامي نوم یې پرې ایښی ودمشر په توګه وټاکل شو ، مولوي محمدنبي محمدي هم دولسي جرګې د دیارلسمې دورې غړی و او په شورا کې یې دببرك کارمل او نورو خلقیانو پر ضد علني موقف درلوده .
دابايد یاده کړم چې په دغه وخت کې د اسلامي حزب د اتحاد دانشعاب نه وروسته قاضي محمد امین وقاد داسلامي حزب مشر په توګه او حکمتیار دسکرتر جنرال په توګه ټاکل شوی و او استاد رباني دخپلې ډلې یعني اسلامي جمعیت مشر پاتې شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي انقلاب دحرکت د اتحاد نه وروسته دپېښور دګلبهار په سیمه کې په محمدي جومات کې یوه غونډه جوړه شوه چې تعداد به یې زروکسانو ته رسیده ،اوټولو د استاد رباني اوحکمتیار په شمول دمولوي محمدنبي محمدي سره بیعت په داسې حال کې وکړ چې هر یو به راته او دمحمدي لاس به یې نیوه او شرعي بیعت به یې ورسره کاوه . اسلامي حزب خپل مرکزي دفترچې دګلبهار په سیمه کې په یوه وړه حویلۍ کې و مولوي محمدنبي محمدي ته وسپاره خو دځو په تېرېدو سره یوه ډله هم دې ته حاضر نه وه چې خپل ټول نظامي اسرار او یامادي امکانات نوي امارت ته وسپاري .

په همدې شپوکې دقندهار خلکود معلم محمد امین په مشري د کابل درژیم په مقابل کې ناکامه قیام وکړ چې دمعلم محمدامین په شمول ډېر کسان ونیول شول او هم یوزیات شمېر مشران او سپین ږیري دپاکستان دکوئټه ښارته مهاجر شول ، د دغه نوي مهاجر ینو دجملې نه یوه ډله پیښور ته ورغله او دمولوي محمد نبي محمدي نه یې پوښتنه وکړه چې دوی ولې هغوئ ته غلطه قومانده دقیام لپاره ورکړې وه په داسې حال کې چې د افغانستان په نوروسیموکې هېڅ پیښې نه شول .

مولوي محمدنبي محمدي چې هسې تش په نامه داتحاد امیر ټاکل شوی و، د هېڅ نه خبرنه و او اسلامي حزب او اسلامي جمعیت دهغه سره هېڅ نوع همکاري نه کوله نو ددغه قیام قو مانده اسلامي حزب ورکړې وه .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال په اخر کې حضرت صبغت الله مجددي هم د ډنمارك نه پیښور ته راغی او استاد رباني ورسره په پټه لیدلی و او دواړو موافقه کړې وه چې دملي نجات دجبهې په نامه به نوی اتحاد اعلانوي او په دغه اتحاد کې به اسلامي جمعیت او جمعیت العلماءمحمدي ډله چې پخوا په دغه نامه حضرت صاحب په کابل کې تنظیم درلوده شامل وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد رباني هدف داؤ چې ددغه نوي اتحاد مشري به دی اخلي او دحضرت صبغت الله مجددي صیب سره به انتخابات وکړي ځکه چې حضرت صبغت الله تازه راغلی دی او ډېر کسان نه لري نو حتمي به انتخابات دی ګټي ، خو په هغه غونډه کې چې دوئ جوړه کړې وه ، د اسلامي جمعیت دتنظیم اکثریت کسانو هم حضرت صبغت الله مجددي ته رایه ورکړې وه او حضرت صبغت الله مجددي دملي نجات دجبهې په نامه دنوي اتحاد دمشر په توګه وټاکل شو او د دغه نوي اتحاد خبر د رادیوله خوا هم اعلان شو او حضرت صبغت الله مجددي صیب په رسمي توګه دکابل درژیم پر ضد جهاد اعلان کړ.

کله چې انجینر ګلب الدین حکمتیار د دغه نوي اتحاد نه خبر شو نو استاد رباني ته یې وویل چې څنګه دا امکان لري چې اسلامي جمعیت ډله هم په ملي نجات جبهې کې او هم د اسلامي انقلاب دحرکت په اتحادونوکې برخه ولري نویاباید دحرکت سره اوسي اویا باید په جبهه کې و اوسېږي ،څرنګه چې استاد رباني د جبهه په جوړولو کې دمشرتابه ارزو ترسره نه شوله نو د دواړو اتحادونوسره یې دزړه له کومې همکاري نه درلوده ، هماغه وو چې څو ورځې وروسته حکمتیار په ګل بهار کې دمولوي محمدنبي دفتر محاصره کړ او مولوي محمدنبي یې څو ساعته هلته یرغمل نیولی و چې بیا د پاکستان پولیسو مداخله وکړه او مولوي محمدنبي یې د دفتر نه و وېسته ، د دې نه وروسته اسلامي حزب دحکمتیار په مشري او اسلامي جمعیت د استاد رباني په مشري د جبهه ملي او اسلامي انقلاب دحرکت نه، په ځانګړي ډول خپل فعالیتونه بیرته پیل کړل ، د دې پېښې نه وروسته د حرکت انقلاب اسلامي یوزیات شمېر غړي چې دمولوي محمد نبي سره یې بیعت کړی وو دهغه سره وفادار پاتې شول اوهغه یې دې ته تشویق کړ چې د اسلامي انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحرکت دتنظیم په نامه ځانګړې فعالیت ته ادامه ورکړي ، د دغه ډلې دجملې نه یومولوي نصر الله منصور و .
دوی دپاکستان دجمعیت العلماء د ډلې دمشر مولانامفتي محمود سره چې په هغه وخت کې یې دضیاء الحق دحکومت سره نږدې اړیکې درلودې وکتل او هغه ته یې ویلي وو چې مونږ د حنفي مذهب دیني علماء یو او تاسې باید مونږ تقویه کړئ ځکه په هغه دوه نورو ډلوکې اخوانیان دي چې دپاکستان د اسلامي جمعیت د ډلې سره نږدې اړیکې لري ، د پاکستان جمعیت العلماء د اسلامي جمعیت د ډلې سره چې مولانا ابولاعلیٰ مودودي یې مشري کوله ډېر سخت رقابت درلوده او هماغه و چې مفتي محمود دمولوي محمد نبي سره دمرستې وعده وکړه او ددې اتحاد په نتیجه کې په پېښور کې څلورو افغاني ډلو فعالیت پیل کړ چې عبارت دي له :
اسلامي حزب ،اسلامي جمعیت،حرکت انقلاب اسلامي،ملي نجات جبهه .
د ۱۳۵۷ کال په اخرو کې پیرسید احمد ګیلاني هم پېښور ته مهاجر شو او دافغانستان دملي اسلامي محاذ په نامه یې ځانګړې ډله جوړه کړه.
دلته د دې خبرې یادونه ضروري بولم چې کله اسلامي حزب دحرکت انقلاب اسلامي د ډلې سره اتحاد وکړ مولوي محمد یونس خالص دحرکت سره یوځای نه شو او د فغانستان داخل ته لاړ، دننګرهار د توره بوړې نه یې عملي جهاد پیل کړ او ځان یې د اسلامي حزب د امیر په توګه اعلان کړ یعنې د ۱۳۵۷ هـ ش کال تر اخره پورې په پېښور کې د اسلامي ډلو شمېر شپږو تنظیمونوته ورسېده، یعنې دهر اتحاد نه وروسته به یوه بله ډله زیږېدله،همداشان دپاکستان اسلامي ډلو لکه جمعیت العلماء اسلام غیر اخواني ډلې او دپاکستان اسلامي جمعیت اخواني ډلې تقویه کولې او داطبعي ده چې دپاکستان ISI هم د دغه ډلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشکیل کې خورا لوی رول درلوده ځکه زیاتره مهمې غونډې به د دوی ترمنځ دپېښور په با لاحصار کې کېدلې ،د دې لپاره چې دپاکستان حکومت دمهاجرینود راتګ ته زمینه مساعده کړي او هم دجهاد سنګرونه تاوده وساتي نو دوه اخواني ډلې یعني حزب اسلامي اوجمعیت اسلامي ،دوه روحاني ډلې ،دملي نجات جبهه او دملي اسلامي محاذ ډله او دوه د روایتي ملایانوډلې ، دخالص اسلامي حزب اوحرکت انقلاب اسلامي ډله د دې لپاره تقویه کړې چې د افغانستان مختلفو افرادو ته دجلب او جذب زمینه مساعده کړي ،څرنګه چې دپاکستان مشر جنرال ضیاء الحق په منځني ختیځ کې دپاکستانیو قواوو مشر پاتې شوی و نو هغه غوښتل چې دفلسطینانو په شان مختلفې ډلې حمایه کړي تر څو د روسانو په مقابل کې جهاد تود وساتي که یوه ډله جنګ نه کوي نوبله ډله باید جنګ وکړي که نه دا دپاکستان حکومت ته په هغه وخت کې ډېره اسانه وه چې دمجاهدینوترمنځ اتحاد راولي او دیوه بیرغ لاندې جهاد ته دوام ورکړي داچې دوئ څولسیزې وروسته څه پرګرامونه وو او وروسته یې تطبیق کړل هغه جداګانه بحث دی خو په هر حالت کې باید د افغانانو یوه ډله دفشار په توګه دځان سره وساتي ترڅو خپل سیمه ایز اهداف په افغانستان کې پلي کړي .

دجوانان مسلمان ۱۳۵۳ هـ ش کال دناکامه قیام نه وروسته حکمتیار ددې لپاره چې خپل یوشمېر نور رقیبان په ډله کې سرکوبه کړی نو دایې بهانه ونیوله چې د دوی قیام ځکه ناکام شو چې د دوی ترمنځ چا د افغانستان حکومت ته جاسوسي کړې ده ،په دې پلمه یې دکونړ دپېچ درې جان محمدونیوه او احمد شاه مسعود خپل ځان ګوښه کړ، او د اسلامي جمعیت د مشر سره یې اړیکې ټینګې کړې جان محمد تر نن ورځې پورې لادرکه شو او احمدشاه مسعود دثور دکودتاه نه وروسته دکونړ په لاره پنجشېر ته لاړ ، او تر ډېرو کلونو پورې پېښور ته را نغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعيتونو په بهير کې

---

يوائې دقومندانانو دسرتاسري شورا دجوړېدوپه وخت کې پېښور ته راغی ځکه دهغه سره داويره وه چې داسلامي حزب له خوا چې دپاکستان د ISI پوره حمايت ورسره شته کېداى شي ترور شي .

د ۱۳۵۷ هـ ش کال په اخره او د۱۳۵۸ هـ ش کال په پيل کې دجهاد سلسله دکونړ په ولايت کې مخ په پراخېد وه او دهرات عمومي قيام ۱۳۵۷ هـ ش کال دحوت په مياشت کې ترسره شوی و او هم د افغانستان په نورو سيموکې لکه پکتيا ،پکتيکا جهاد مخ په پراخېدو وو پاکستان ته د افغانانو دمهاجرت سلسله هم مخ په پراخېدو وه او تقريباً څلورسوه زره مهاجرين تر دغه وخته پاکستان ته تللي وو که څه هم د اسلامي حزب تنظيم د ټولو تنظيمونو نه زيات فعال و خو دمولانا مفتي محمود دنفوذ په اثر د ټو لو کمکونو په سلوکې شپېته کومك د ۱۳۵۹ هـ ش کال پورې حرکت انقلاب اسلامي د ډلې سره کېده چې وروسته دا تناسب سرچپه شو او دمختلفو منابعو له قوله د ټو لوکومکونو په سلو کې شپېته د حکمتيار د اسلامي حزب سره کېده او په دويم کتار کې ډيرې مرستې دجميعت اسلامي تنظيم ته ورکول کيدې .

څرنګه چې اسلامي جمعيت تنظيم د اسلامي حزب په پرتله لږ نفوذ او کم امکانات درلودل نو هميشه يې دا هلې ځلې کولې چې دنورو ګروپونو سره يوځاى شي تر څو د اسلامي حزب سره سيالي وکړی شي نو په همدې منظور يې د۱۳۵۸ هـ ش کال دپسرلي په اخره کې دپيمان اتحاد اسلامي په نامه د اسلامي انقلاب د حرکت ، دخالص د اسلامي حزب او دملي نجات د جبهې سره ائتلاف وکړ، کله چې ما مخکې يادونه کړې په دغه نوي ائتلاف کې مولوي خالص دمالي چارو ، حضرت صبغت الله مجددي دنظامي چارو ،مولوي محمد نبي محمدي دعدلي او قضائي چارو او استاد رباني دسياسي چارو مسؤل و، ماهم د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ائتلاف دسیاسي چارو په کمېټه کې د استاد برهان الدین رباني سره کار کاوه .

د دغه نوي ائتلاف دفعالیت ساحه هم دومره پراخه نه وه او یوائځې د اسلامي حزب په مقابل کې دفشار دګروپ په توګه یې خپل موجودیت ساتلی و زیاتره هغه کسانو په دې پیمان کې کار کاوه چې دتنظیمونوسره یې قوي اړیکې نه درلودې او دهغوئ پرضد به یې ښکاره نیوکې کولې او صرف دلته یې مصروف ساتلی وو ، زمونږ هم څه کارنه و اوصرف سهار د نه ،لسو بجو په شاوخوا کې به دفترته چې دکوزتاکال په یوه حویلۍ کې و تللو او دغرمې ډوډۍ او ماسپښین لمانځه نه وروسته به خورېدوزما لپاره پوره دلچسپه وه ځکه چې دماسپښین له خوا به مونږ یوشمېر کسانو دمولانا قیام الدین کشاف نه دقرانکریم ترجمه کوله او دهغې نه وروسته به په صدرکې ټایپستي کورس او دهغه ځای نه به اډوارد کالج ته د انګلیسي ژبې کورسونو لپاره تللم ، دپیمان اتحاد اسلامي دفتر مونږ ته دورځې ۱۶ کلدارې درکشې دکرایې په نامه راکولې چې دجمعې درخصتي ورځ به ترې وېستله نو تقریباً دمیاشتې څلورسوه کلدارې کېدلې چې دا په هغه وخت کې زیاتې پیسې وې خو دیوه کور ګذاره پرې نه کېدله .

دپیمان اتحاد اسلامي نه د مولوي خالص اسلامي حزب زرجدا شو کله چې د ۱۳۵۸ هـ ش کال دجدي په شپږمه روسانو په افغنستان یرغل وکړ ، بیا دتنظیمونو تر منځ دوحدت او اتحاد لپاره جلسې جوړې شوې چې بلاخره ټول په دې نظر شول چې د افغنستان لپاره د اسلامي اتحاد په نامه سره راټول شي او دروسانو په مقابل کې جهاد ته دوام ورکړي ، البته دروسانو دمداخلې په منظور دیو سیاسي ځواب لپاره دا اتحاد په هغه وخت کې ضروري ګڼل کیده چې پاکستان او امریکا هم د دې طرفداران و، دا چې څوک د دې نوي اتحاد مشر شي دټو لو تنظیمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران ورته کاندید وو ، په دغه وخت استاد عبدالرسول سیاف چې وروسته یې خپل نوم په عبدالرب رسول سیاف بدل کړ ، تازه پېښور ته راغلی و او داسلامي جمعیت دتنظیم سره یې اړیکې درلودې که څه هم ځان یې داسې وښایي چې ګوندې بې طرفه دی خود جوانان مسلمان سره استاد سیاف دسابقه داري په بنیاد دی دنوي اتحاد دمشر په توګه وټاکل شو دحکمتیار اسلامي حزب په لومړي سر کې د دې اتحاد سره موافق و، خوپه اخري شپو کې د اتحاد نه ووته او دغه اتحاد یواځې دپنځو ډلو(ملي نجات جبهه،اسلامي جمعیت ،ملي اسلامي محاذاوحرکت انقلاب اسلامي ) ترمنځ پاتې شو او دا فیصله وشوله چې پیمان اتحاد اسلامي باید په دې نوي اتحاد کې مدغم شي. هماغه و چې دپیمان اتحاد اسلامي کارکوونکي اتحادته معرفي شو چې زه دمهاجرینو په کمېټه کې مقرر کړی شوم .خو د درې میاشتو وظیفې نه وروسته مې خپله وظیفه پرېښوده او دا راته ثابته شوله چې دغه تنظیمي ډلې نه شي کولای چې د افغانستان مشکل حل کړي ځکه دوی هر یو دقدرت نیولو لپاره رنګارنګ دسیسې جوړولې او د دوئ ټولو زیات فعالیت دیوبل پرضد وو .

د اسلامي اتحاد دجوړېدونه مخکې یوشمېر دیني علماو چې مشرېې دلوګر ولایت ملارئیس کوله په پېښور کې یې غونډې پیل کړې،ملارئیس چې ۳۵ کاله عمر یې درلوده او دیني سبقونه یې آخرته رسولي و ډېر باجرئته انسان و، یوه ورځ چې دمجاهدینو مشرانو په پیمان اتحاد اسلامي کې غونډه درلوده دخپلې ډلې سره راغی او غوښتل یې چې د دوئ سره وګوري خودغونډې نه وروسته دتنظیمونو مشرانو چې هغه ښه وپېژنده او دملارئیس خبر یې نشوې زغملای غوښتل یې چې له دفتر نه وو ځي خو ملارئیس خپلو نفرو ته وویل چې دوئ باید له دفتر څخه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وځي او خامخا باید زه له دوئ سره وغږیږم .خوبلاخره دتنظیمونو مشران مجبور شول چې دملارئیس خبروته غوږ کیږدي .

ملارئیس دوئ ته وویل چې : تاسې په افغانستان کې د اسلامي حکومت دجوړېدو ادعاکوئ په داسې حال کې چې دقرآن پاك یوایت چې ((واعتصموبحبل الله )) مو په هر ځای کې ځوړند کړی او په خپل ځان یې نه شئ تطبیقولی او عمل نه پرې کوئ نو دقران پاك شپږ زره، شپږ سوه اوشپږ شپېته ایات به څنګه په افغانستان کې تطبیق کړئ ؟ دملارئیس د خبرو نه وروسته مولوي محمدنبي چې دملارئیس استاد هم و په ډېره نرمه لهجه ورته وویل چې : مونږ اتحاد کړی او همدا نن غونډه په همدې خاطر وه .

ملارئیس وروسته د لوګر په ولایت کې دیوې جګړې په ترخ کې شهید شو.

د افغانستان لپاره د اسلامي اتحاد هم تر ډېرې مودې پورې دوام ونه کړ او د ۱۳۵۹ ش کال په اوړي کې استاد سیاف د اتحاد په ټولو مادي او نظامي امکاناتو باندې خپټه واچوله او په همدغه نوم باندې یې ځانګړې ډله وساتله او نورو تنظیمونو خپل ځانګړي فعالیتونه پیل کړل ، ددې اتحاد په کولو سره یوه بله ډله هم اضافه شوله . څرنګه چې داتحاد په نامه دروسانویرغل نه وروسته ډېرې پیسې د اسلامي هېوادونو او خاصتاً د عربي هېوادونو نه راغلې وې نواستاد سیاف ډېرې پیسې درلودې او په دې توګه یې دنورو تنظیمونو ډېرمشران په پیسوواخیستل او انجینر احمدشاه احمدزی چې داسلامي جمعیت مرستیال و هم دجمعیت نه جداشو او داستادسیاف دمرستیال په توګه تعین شو او حتیٰ سیاف دزیادترو هغو تنظیمونو دشورا غړوته چې د ده سره یوځای شوي و یو کرولاموټر او یو لك کلدارې دامتیاز په توګه ورکړې چې په هغه وخت کې دا ډېرې پیسې وې او په موټر کې سورېدل هم فېشن ګڼل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

## خاص کونړ ته د روسانو له راتګ نه وروسته د جهاد لپاره تګ:

د ۱۳۵۸ کال دجدي په شپږمه نېټه چې روسانو په افغانستان یرغل وکړ نو په پېښور کې د اکثریت مجاهدینو او مهاجرینو ترمنځ دجهاد ولوله نوره هم توده شوه او د هر چاچې وسه کېدله نو دا احساس ورسره و چې باید خپلو سیموته ستانه شي تر څو دروس اشغالګرو قواو په مقابل کې وجنګېږي چې په دې لړ کې دخاص کونړ مجاهدین هم سره راټول شول او دجدي دمیاشتي په دویمه اوونۍ کې یې زما د پلارتر مشرۍ لاندې خاص کونړ ته حرکت وکړ. قوماندان غازي محمد چې د پلار مې نږدې ملګری و دهغه د قوماندان په صفت دمخکې نه د اسلامي جمعیت دتنظیم له خوا تعین شوی و. زه او زما دوه ورونه سلطان محمود او شهید سردار محمود هم دمونږ سره و خو متاءسفانه چې کله مونږ ګنداو ته ورسېدو نو پلارمې خبر شو چې زما بل تره وکیل سید عبد القادر هم وفات شوی او جنازه یې څو ورځې دمخه خاوروته سپارل شوې ده ، پلارمې سردارمحمود چې وړوکی هم و دهغه دخوښې په خلاف یې بیرته پېښورته ولېږه چې له یوې خوابه دکور نګراني وکړي اوله بل پلوه به خپلو سبقونو ته دوام ورکړي او دا وعده یې ورسره وکړه که ژوندی پاتې و نوبل ځل به یې دجهاد لپاره دځان سره یوسي، سردار محمود په دغه وخت کې دهجرت والجهاد دمدرسې دشپږم ټولګي زده کونکی و .
کله چې مونږ د مومندو بر څپري سیمې ته ورسېدواود بوټي خېلو دقوم مشرانو ملك محمد ایوب ،ختې ملك اوملك خلیل (ټول اوس په حق رسېدلي دي ) سره خبرې وکړي ټول دې ته حاضر و چې دروسانو په مقابل کې جهاد وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه ووچې لومړی مونږ د محدودو کسانو سره خپل کلي منګوال ته دشپې له خوا چې د چهار شنبې دورځې ماښام و ور ښکته شولو تر څو دخاص کونړ دمشرانواوبعضې نورو کسانو چې مونږ سره یې ارتباط درلوده خبرې وکړو تر دغه وخته دکابل رژیم دخاص کونړ په ولسوالئ پوره کنترول درلوده ، د پلارمې خوښه داوه چې شپه به دمنګوال په کلي کې تېره کړې خو قومندان غازي محمد او قومندان ظاهر خان په دې نظر و چې شپه به په سنه خېلوکې تېره کړو ، قومندان ظاهر خان مې دپلار سره په دې وخت کې دیوګروپ مشر و .
د دوی نظر داوو چې دمنګوال په کلي کې اوسېدل په امنیتي لحاظ ښه نه دی ځکه په کلي کې یو شمېر ملیشه اودحکومت طرفداران موجودوو نوکیدای شي چې که دوئ خبر شي نو حکومت ته زمونږ دراتګ خبرورکړي .
هماغه وو چې قومندان غازي محمد اوظاهر خان دخپلو ارتباطاتو په اساس دخاص کونړ نورو کلیوته لاړل او پلار مې دیوڅو کسوسره په منګوال کې پاتې شو . دمونږ سره میازرین چې ( دګردي غوث لمسی وو او دتودګي په کلي کې اوسېده ) او هم دوه کسه ګجر چې دځپري په کلي کې اوسیدل د مونږسره پاتې شول .مخکې له دې چې کلي ته داخل شو زما دتره زوی معلم سیدعبدالودود چې په کلي کې اوسیده راوغوښته او دمنګوال سره نږدې په ډاګ کې کیناستو ترڅو دمنګوال دکلي دوضعیت نه ځان خبرکړو اوهم هغه کسانو سره چې زمونږ ارتباط ورسره ووبه خبرې وکړو ، د ټولو په مشوره دمنګوال دکلي یوتن اوسېدونکی شیخ باز کورته چې دکلي په منځ کې ولاړ و .
شیخ باز چې ډېرتکړه او زړور مجاهد و په خپل کور کې مونږ ته ځای راکړ او دکلي یو شمېر نور کسان چې دحکومت پرضد وو خبرکړل او زمونږ تعداد تقریباً دیرش کسوته ورسېده ، شیخ باز پلار ته مې وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیرصیب زه دحکومت نه هېڅ ویره نه لرم که تاسې کوم بل پلان نه لرئ نو شپه همدلته پاتې شئ او سبا ته به د کلي ټول ولس په رڼا ورځ وګورو او پوښتنه به ترې وکړو چې دحکومت پرضد قیام کې دمونږ سره ملګري کېږي او که نه ؟

پلار مې ورته وویل چې ستاسې کورنۍ په کلي کې دي، او تاسې چې نه ویرېږي نو زمونږه کورنۍ خومهاجرشوي ده نومونږ هم نه ویرېږو اودتاسې سره دلته اوسېږو ، دپلار مې هدف داؤ که مونږ په منګوال کې یوه شپه او ورځ تېره کړو نو حکومت خامخا دمنګوال په خلکوبې اعتماده کېږي او دخاص کونړ په ولسوالۍ کې عمومي قیام ته زمینه مساعدېږي ځکه دحکومت په اند اشرارو ته ځای یاډوډۍ ورکول جرم و ، مجاهدینو او مهاجرینو ته به حکومت داشرارو خطاب کاوه .

سهار یعني دپنجشنبې په ورځ مو دکلي په منځ کې غټه دېره جوړه کړه او دکلي خلکو سره مو وکتل او د حکومت طرفدارن هم نه پو هېدل چې څه وکړي ځکه مونږ هم اوازه خپره کړه چې هېڅوک حکومت یا ولسوالۍ ته نه شي تللی ځکه مجاهدین په لارو کې ناست دي او د خاص کونړ ولسوالۍ ټوله محاصره ده ، د دې اوازې دخپرېدو سره دحکومت طرفداران او ملیشه په خپلو کورنو کې کېناستل او هېڅوک دکورنو څخه نه راوتل ،که نه زمونږ ټول تعداد دشل یاپنځه ویشت کسانو څخه نه زیاتېده خو تبلیغاتي جنګ د حکومت د طرفدارانو مورال ډېرضعیفه کړ ، ترغرمې پورې مودمنګوال په کلي کې کارتونه ووېشل څرنګه چې په همدې ورځ دچمیاري په کلي کې دسردارخان دزوی حسن خان واده وو نو مونږ ټول په ډله واده ته لاړو او دخاص کونړ د ولسوالۍ یو شمېر سپین ږیري هم واده ته راغلي وو . د چمیاري کلي ته دتګ په وخت کې مونږ سره باز شیخ ،ملارحمٰن ،حاجې ګلبت خان او فتوخان هم ملګري وو څنګه چې دواده ځای ته ورسېدو نو پلار مې په لوډسپیکر کې اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ چې د ډوډۍ نه وروسته باید سپین ږیري او مشران معطله شي چې زه ورسره خبرې لرم . دغه شیبه یوه عجیبه غوندې صحنه وه چې له یوطرفه ولس زمونږ په لیدو وروسته له ډېرې مودې خوشحاله شو او حتی دکلي ښځې دکوټو سرونو نه ننداره کوله، او له بله پلوه بعضې خلك وهم واخیستل چې څنګه مونږ په رڼاورځ د واده ځای ته لاړو. دچمیاري دکلي یوتن ملك چې محمد کریم نومیده مونږ سمدستي دکلا په منځ کې په یوه کوټه(خونه)کې کېنولو او زمونږ یې ډېر زیات تود هرکلی وکړ او زما پلار ته یې وویل چې ښه ده، مدیر صیب چې ته راغلې که نه مونږ درپسې درتللو ځکه ولس ټول دې ته تیار دی چې دحکومت سره همکاري پربږدي او په جهاد پیل وکړي ځکه اوس خوروسان هم راغلل او په جهاد کې هېڅ شك او شبه نه شته ، ملك محمد کریم چې له وجوده وړوکی سړی دی خو پوره دهمت خاوند دی .

د واده د ډوډۍ خوړلو نه وروسته مونږ دخاص کونړ دسپین ږیرو سره چې دلته موجود وو خبرې وکړې او ټولو ظاهراً دحکومت پر ضد جهاد اوقیام ته اماده ګي وښودله دخبرو نه وروسته دچمیاري دکلي دفیضك ملك(ملك فیض محمدخان ) زوی چې عبدالغفار نومیده مونږ دچای څښلو لپاره دعوت کړو او دجهاد شین بیرغ یې دخپل کور په مخ کې ودراوه او خپلو ملګرو او خپلوانو ته یې وویل چې باید کارتونه واخلئ او جهاد ته اماده شئ . عبدالغفار که څه هم دعمر په لحاظ کشر و خو سره له دې یې هم دچمیاري په کلي کې یوه تکړه ډله ځوانان ملګري درلودل ، د عبدالغفار کور دکونړ سیند په غاړه دسوري تیږي سره مخامخ په یوه پانډ باندې موقعیت درلوده او دسیند نه هغه غاړې دسوري تیره کې دحکومت ټانګونه ولاړ و نومونږ ورته وویل چې بیرغ ښکته کړه ځکه هغه خوا دحکومت ټانګونه او قواوې دې که دابیرغ ووینې نو ستا کلا به په توپونو وولي خو عبدالغفار او ورونویې چې پاك احساسات درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اودې ته حاضر و چې د اسلام په خاطر هر ډول مالي او ځاني قرباني ورکړي ، بیرغ یې ښکته نه کړ او وې ویل : ((که د اسلام په نامه زموږ کلا په توپونو ولړیږي دازموږ لپاره افتخار دی .))
په دې کې هیڅ دشك ځای نشته چې دجهاد په لومړي کلونوکې چې بهرنۍ مرستې کمې اویا بیخي نه وې او دتنظیمونوترمنځ اختلافات او رقابتونه په کومو سیمو کې نه وو ، ولس ډېر پاك احساسات درلودل او د مجاهدینوسره یې هر ډول مادي او ځاني کمکونه کول خو متاءسفانه چې کله دبیلابیلو تنظیمونو سلسله  دهېواد سیموته ورسېدله نو د ولس د پاکو احساساتو نه یې سؤ استفاده وکړه او زیات ولس دهمدغه تنظیمونو او قومندانانو دظلم او حتیٰ غیر انساني حرکاتو په وجه وځپل شول ، مهاجر شول اویا مجبورشول چې بېرته دخلق رژیم سره همکاري وکړي .
د چمیاري په کلي کې د ولس دلیدنې څخه وروسته موږ شپه دمنګوال کلي ته یوړه او پلار مې هلته دځان سره پټ دا تصمیم نیولی و چې سبا یعني دجمعې دورځې لمونځ به دکونړ په کلي کې کوي . دکونړ کلی چې دکونړ ولایت او دخاص کونړ نوم دهمدغه کلي نه اخیستل شوی دخاص کونړ د ولسوالۍ په مرکزي حصه کې واقع دی چې دولسوالۍدمرکز نه تقریباً شل دقیقې دپښومزل په اندازه لرې پروت دی .
پلار مې دچمیاري دکلي یوشمېر هلکانو ته وویل چې دشپې له پلوه به دمنګوال کلي ته راشي کله چې راټول شولو نو پلارمې دمنګوال دچمیاري دکلي مجاهدینوته وویل چې موږ نه شوکولای په حکومتي اویافوځي چونیبانديې حمله وکړو ځکه چې موږ درندې وسلې نه لرو نو د دې لپاره چې دغه سیمه دحکومت د تسلط نه ووځي نو باید چې په ناڅاپي توګه دکونړ کلي ته لاړ شو او هلته سبا په جامع جومات کې دجمعې لمونځ وکړو او له خلکو سره خبرې وکړو ، دشپې له خوا زیادتره کسانو دتګ وعده وکړه خو سباته چې موږ حرکت کا وه یواځې څلور نفره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمنګوال دکلي اوڅلورتنه دچمیاري دکلي نه دې ته حاضر شول چې مونږ سره لاړ شي چې زمونږ په شمول ټول تعداد پنځلس کسوته ورسېده ، دمنګوال دکلي نه مونږ سره بازشیخ ، ملامحمد رحمان ،حاجي ګلبت خان اوفتوخان وو او دچمیاري دکلي نه شیرافضل دشېر محمد خان زوی ، عبدالغفار دفیض ملك زوی سید محمد دخیر محمد زوی ،طاؤس د دواجان ملك زوی اوهاشم دصاحب جان زوی وو مونږ اوه کسه پلار مې ،زماورور سلطان محمود ، میازرین ،امیر جان ماما دچنچن دوه کسه ګجر اوزه شامل وو .

پلارمې دقومندان غازي محمد اوظاهر خان ګروپونو ته هم خبرولیږه چې دجمعې دلمانځه لپاره باید دکونړ کلي جامع جومات ته راشي خو هغوئ رانغلل ، مونږ چې دکونړ کلي ته نږدې شولو دباران څاڅکي هم پیل شو ل اولاره کې بازشیخ چې سپین ږیری و را وغورځېده اولاس یې خوږ شو خو سره له دې یې هم دخپل همت نه کار واخیسته او په دغه ورځ تر اخره پورې له مونږ سره و.

پلارمې وویل چې مخکې له دې چې جومات ته لاړشو باید دکونړ دکلي یوتن مهم مشر او سپین ږیری حاجي محمد جان کورته لاړشو هم به هلته دلمانځه لپاره او دسونه وکړو او هم به هغه دخپل راتګ نه خبرکړو چې مونږ غواړو چې په جامع جومات کې لمونځ وکړو .

حاجي محمد جان دخاص کونړ دولسوالۍ مشهور او باتجربه مشرو چې دوه دورې دخاص کونړ له ولسوالۍ په ولسي جرګه کې وکیل هم و .

کله چې دحاجي محمد جان دیرې ته ورسېدو نو باران لږ زیات شوی و او په دېره کې څوك نه و نو پلار مې راته وویل چې دهغه دکلا ور وټکوه ، کله چې ما د دروازې ور ټکوه نو حاجي محمد دلمانځه لپاره درا وتلو په حال کې و پخپله را ووته او څنګه چې یې په پلار مې سترګې ولږېدې ، هك پك شو چې څنګه مونږ په رڼاورځ کلي ته اوخاصتاً دهغه کورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي یو په داسې حال کې چې حکومت په ولسوالۍ کې عام وتام تسلط لري .

دستړي مشي نه وروسته پلار مې سمدستي حاجي محمد ته وویل چې مونږ راغلي یو چې دجمعې لمونځ په شریکه جومات کې وکړو او د سپین ږیرو او مشرانو سره غواړم چې څه خبرې وکړم نو صرف اوبه راوړه چې اودسونه وکړو ، دکونړ کلی دوه جوماتونه لري چې یوته یې چاره کي جومات اوبله ته صیب جم جومات وایي ، د اودس کولونه وروسته حاجي محمد جان وویل چې څنګه ورځ باراني ده نوټول خلك په یوه جومات کې نه ځایږي نو تاسې دصیب جم جومات ته لاړشئ او زه به دچارکي جومات ته لاړشم ، دلمانځه نه وروسته به زه دهغه جومات خلك هم دصیب جم جومات ته راولم او هلته به خبرې وکړو ، کله چې مونږ دصیب جم جومات ته ورسېدو دجمعه دورځې لومړني سنت مخ په خلاصېدو و نو پلارمې مونږ ته امر وکړ چې تاسې ټول بیرون پاتې شئ او یو یو کس جدا بیرون په کوڅوکې و دریږئ زه پخپله د جومات په برنډه کې مؤظف شولم تر څو دحکومت طرفداران پر مونږ ناڅاپي حمله ونه کړي .

پلار مې یوائې جومات ته د ننه ورننوت او ځان یې لومړي صف ته ورسوه . مخکې له دې چې ملاامام (چې ملاباتور یې ورته وایه ) خطبې ته اوچت شي نو پلار مې په لوډسپیکر کې خلکو ته وویل چې د لمانځه نه وروسته هېڅوك باید دخپل ځآی نه ونه خوځیږي چې زه له تاسو سره خبرې لرم . دلمانځه نه وروسته دچاره کي دجومات خلك هم دلته راځي . دجهاد په دې وخت کې زمونږ سره مهمه وسله وړوکی لوډسپیکر و چې هغه به همیشه زما دپلار سره و او یوه تمانچه به یې په غاړه اچولې وه او مونږ ټولو سره دزړو او شلخي ټوپکونو څخه پرته بل څه نه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوډسپیکر د اواز اوربېدوسره په جومات کې ټول خلك ارام شول تابه ویل چې ساه په کې نه شته دی. دجومات دمخې صف سپین ږیرو غوښتل چې دپلار سره مې ستړي مشي وکړي نوپلارمې وویل چې دستاسو ټولو په نمایندګي به دملاصیب او شیخ علي رضا چې هغه هم دکونړ دکلي مهم سپین ږیری وو ستړي مشي وکړم ، پلار مې راته وروسته  وویل چې د دې دوه کسوسره مې ځکه ستړي مشي وکړه چې څوك مې دستړي مشي په وخت کې ونه نیسي ځکه چې زمونږ دنفرو تعداد ډېرکم وو.

دجمعې دلمانځه نه وروسته دچاره کي دجومات خلك هم د حاجي محمد جان په شمول دصیب جم جومات ته راغلل او دخلکو دځای په ځای کېدونه وروسته زما پلار ودرېد او لنډې خبرې یې وکړې چې دمهمو ټکویادونه یې دلته ضروري بولم.:وروسته له حمد او ثنا نه یې دکونړ خلکوته وویل چې تاسې ټول ماپېژنئ چې دچازوی او دکوم ځای یم او پخوامې څه دنده درلوده . تاسې وګورئ چې دمونږ سره نه انګرېزان شته اونه امریکایان .دا چې خلقیان تبلیغ کوي چې مونږ سره انګرېزان یاامریکایان دي ، او یا دهغوئ په لمسون مونږ هجرت کړی دی دا سهي نه ده . ما مخکې له تاسې سره اړیکې نیولې وې خوتاسې اول ویل چې د اوړي فصلونه واخلو نوبیا به هجرت اوجهاد کوو ،نواوړی هم تېر شو ،بیا مو ویل چې دمني درمندونه واخلو نوبیا به هجرت کوو ،دمني د درمندو داخستلو نه وروسته مو ویل چې اوس ژمی دی ،یخني ده او سخته ده چې خپل کورونه پرېږدو او مهاجرشوو. په همدې نن او سباکې یونیم کال تېر شو او اوس روسان مستقیماً افغانستان ته داخل شوي دي . اوس هېڅ بهانه نه ده پاتې غیر له دې چې په شریکه راپاڅېږو او دخلق دحکومت سره خپل روابط قطع کړو ،حکومت زمونږ او تاسې نه جوړ شوی دی که مونږ ونه غواړو نو نه حکومت څه کولای شي او نه روسان .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې وویل چې ماته چا په لاره کې وویل چې په کوم قوت ته په رڼا ورځ د کونړ منځ ته ځې نوماورته وویل چې لومړی خو ما دکونړ دخلکو سره هېڅ داسې بد نه دي کړي چې زه ووېرېږم .
دویم داچې مونږ په حقه لار روان یوو او الله تعالیٰ (جل جلاله)وایي چې ((لاتحزن ان الله معنا)) یعني څوك چې دخدای په لار ځي دهغوی سره الله تعالیٰ مرسته کوي او الله تعالیٰ وایي چې تاسې دهېچا څخه مه ویرېږئ او زه له تاسې سره یم .
درېیم داچې په مادي لحاظ هم دماسره داسې قوت شته د ی که زه یوبم دزواچوم نو تاسې یوهم د دغه ځای نه وتلی نه شئ .دپلار په جیب کې مې یوګرنیټ و نو خلکو وروسته ویل چې کله پلار مې جیب ته لاس کړ نو هغه کسان چې کړکیو ته ناست وو نوپه دې سوچ کې شول چې څرنګه وتښتي .
زمادپلار دخبرو نه وروسته حاجي محمد جان چې دپلار نه مې ډېر مشر و ، د خلکو په نمایندګۍ اوچت شو او وې ویل : سیدمحمود جانه! ستاسې په جهاد کې هېڅ شك او شبه نه شته ده ، مونږ غیر له دې چې په خپل بې غیرتي او بې همتي باندې اعتراف وکړو بل څه دلیل نه شته دی. اوس چې ته څه وایې مونږ به هغه منو .
پلار مې ورته وویل چې زما فیصله داده چې پس له دې خپل اولادونه او ورونه منع کړئ چې دخلقي رژیم او روسانو سره همکاري ونه کړي ، عسکر ورنه کړئ او څوك چې ملیشه دي هغه باید دحکومت نه را ووځي ،مالیه باید ورنه کړي .ټولو دا ومنله او دغرمې ډوډۍ لپاره محمدنور کشمېري (پائیکوټ) چې دجومات سره نږدې یې کور و ، وبللو او هلته مو ډوډۍ وخوړه .دمحمدنورکشمېري زوی مسافر خان په وروسته کلونوکې دحکمتیار د اسلامي حزب دیوې ډلې له خوا چې ملك محمد جان یې مشري کوله ووژل شو ځکه چې هغه پیسه دار و اودوئ غوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

چې پیسې ترې واخلي . ملك محمد جان او دهغه زوی میراغاجان هم څه وخت وروسته دحکمتیار دیوې بلې ډلې چې معلم محمد امین یې مشري کوله ووژل شول همدا رنگه معلم محمد امین دکونړ دسنه خیلو یو تن مشر حاجي امان خان ورو یې مسافر خان او دمسافر زوی ظاهر خان یو ځای ووژل.

وروسته کلونو کې معلم محمد امین ډیرنور بې ګناه کسان هم ووژل چې په هغې کې دکلي ګرام دکلي مدیر رستم ،عزیزالله ملك ،ماهر استاد او دهغه ورور قاري عبد الوهاب سوزان شامل دی. استادماهر او قاري عبدالوهاب سوزان د کونړ ډیرمشهور عالم مولوي عبدالحنان زامن وو خو دحزبي او وهابي ډلوسره یې عقیدوي مخالفت درلوده نوځکه یې دوی ووژل چې د دوی او داسې نورو وژنو په اساس دمجاهدینود ډلونه دخلکوکرکه پیدا شوله . مولوي ماهر په اتم او نهم ټولګیو کې زمونږ استاد وو چې ډیر حلیم انسان وو شاعري یې کوله او دچپي ډلو هم سخت مخالف وو خپلې خبرې ته راګرځو، دغرمې د ډوډۍ نه وروسته پلار مې وویل چې : اوس باید بیرته دمنګوال کلي ته لاړشو چې ګوندې دحکومت قواوې په مونږ دلته حمله ونه کړي ځکه چې دکونړ دکلي او د عسکري کنډك تر منځ تقریباً شل دقیقې دپښو مزل فاصله ده وروسته مونږ ته دحکومت د داخل نه کسانوویل چې حکومت ځوځلي دانیت وکړ چې په مونږ باندې حمله وکړي خو بیرته به هغوی دحملې کولونه منصرف شول او داسې فکر یې کاوه چې دوی دلته راغلي خامخا په څه قوت راغلي او که مونږ پرې حمله وکړو نوکیداې شي چې مونږ ته زیات تلفات ورسیږي ځکه چې دلښکر په لومړي شپوکې چې مخکې مایادونه کړې وه ملیشه ووته پوره زیان رسیدلی وو او هغه تجربه د دوی په فکر کې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه ووچې دکونړ دکلي نه دغره غاړې یوکلي ته چې دکنډرو غاړه ورته وایي لاړو ترڅو قومندان غازي محمداو ظاهر خان پیداکړو چې ولې دوی جومات ته را نغلل قومندان غازي محمد موهلته پیدا کړ ځرنګه چې هغه مې دپلار ډېر نژدې ملګری و نو دپلار په لیدو مې سمدستي زما پلا ر ته وویل چې حکومت ستادنیولو لپاره پنځه لکه افغاني خپرې کړې اوته په کوم جرئت دکونړ کلي ته لاړې ،پلار مې په ځواب کې ورته وویل چې مونږ جهاد ته راغلي یو اوباید د خلکوسره وغږیږو ځکه دمونږ سره داسې وسلې نشته دي چې په حکومت حمله وکړو نو زمونږ قوت همدا خلك دي او پلار مې دقومندان غازي محمد سره توقې وکړې چې استاد رباني ماته لس لکه روپۍ راکړې چې حاکم ژوندی ونیسم ،دا دشکست خبرې مه کوه .

شپه مو په همدغه کلي کې دمحمد اسرار میاسره وکړه اویوشمېر مجاهدین دسیف الرحمٰن کورته لاړو ، او سهار بیرته غرته وختلو ترڅو دولي او څپري دسیمو دولس سره خبرې وکړو ،هغوئ ټول دې ته تیار وو چې دحکومت پر ضد مسلحانه جهاد ته دوام ورکړي .د دوشنبې په ورځ دشپې له خوا تقریباً سل کسه دکنډوالی،برچنچن ،کوز څپري او ولي دکلیونه دې ته تیار شول چې دخاص کونړ په عسکري کنډك باندې حمله وکړي او مونږ ته داسې راپور راغلی وو چې په کنډك کې نفر ډېر کم دي او د حملې کولو سره به ټول تسلیم شي ځکه په دغه وخت کې دپرچم ډله دببرك کارمل په مشرۍ په قدرت کې ده او اکثریت خلقیانو دحکومت سره همکاري نه کوله .

دشپې له خوا دخاص کونړ سره نږدې په یوه ډاګ کې چې ورسك ورته وایي راټول شولو قومندان غازي محمد په دې فکر وو چې حمله باید نن شپه وځنډوو تر څو دکنډك له منځ څخه دقیق معلومات تر لاسه کړو ، ځرنګه چې دقومندان غازي محمدورور ګل عباس چې پرچمي و او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې یې د مجاهدینوسره فعالیت کاوه خوکله چې د روسانو د راتګ نه وروسته خلقیانونه قدرت پرچمیانوته انتقال شو نو دی بېرته حکومت ته لاړو او دکونړ ولایت د ولایتي کمیټې منشي شو ، نو دپلار مې په قومندان غازي محمد دا اشتباه راغله چې ګوندې دهغه سره دتماس په نتیجه کې دغه حمله شاته اچوي او په دې توګه د پلار مې او قومندان غازي محمد ترمنځ اختلاف دنظر پیداشو او قومندان غازي محمد دهماغه ځای نه دخپلو کسانو سره پېښور ته لاړ ، که څه هم دا اشتباه سهي نه وه خو په دغه شپه زمونږ حمله خرابه شوله .

پلار مې زه هم پېښور ته ولېږلم چې که اسلامي جمعیت تنظیم مونږ سره څه کمك کوي چې یاوسلې راکړي اویا پیسې نو همدا یې وخت دی چې مونږ د خلکوپه منځ کې فعالیت وکړو خو متاءسفانه چې اسلامي جمعیت تنظیم مونږ ته هېڅ رانه کړل .

پلار مې دوه اوونۍ نورې هم په خاص کونړ کې تېرې کړې او یوزیات شمېر ملیشه او حکومتي کسان د حکومت نه را وتښتېدل اوخپلې وسلې یې راوړې خوپلار مې د دوئ نه وسلې وا نه خیستلې او دوئ ته یې وویل چې همدا تاسې مجاهدین یاستئ ځکه مجاهدین خو د کوم بل ځای څخه نه راځي ، په دې ډول دخاص کونړ دولسوالۍ نیمایي برخه دحکومت دتسلط یواځې دخبرو اترو او دخلکو سره دتفاهم په نتیجه کې ازاده شوله بې له دې چې جګړه وشي او یا په کې څوك ووژل شي .

دخاص کونړ د دغې سیمې د ازادېدو نه وروسته دمنګوال کلي دمجاهدینو دتګ او راتګ لپاره یوه ترانزیتي لار شوله او آن تر کامې تر پله پورې ټوله دغه سیمه یعنې دکونړ سیندټوله سهیلي غاړه دحکومت د تسلط نه ووتله ، هره ورځ به د دره نور ،تګاب ،لغمان او حتیٰ دپنجشېر او شمالي ولایتونوپه سل ګونو مجاهدین او مهاجرین د دغه لارې نه خپلو سنګرونو او یا پېښور تلل راتلل ،مخکې له دې به دوئ دچترال او نورستان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې تقریباً په درې اونیو کې دغه لاره ووهله خو دمنګوال له لارې یې دوه ورځې نیولې . دخاص کونړ خلکوهم دغه مجاهدینو او مهاجرینوته تر خپل وس پورې اوبه اوخواړه ورکول اودلارې رهنمایي به یې کوله دکونړ دسیند نه دپورې وتلو په هکله به حاجي یوسف الدین دکاشکوت په سیمه کې د دوئ سره مرسته کوله او دې مجاهدینواومهاجرینوته به یې جالۍ اونور سهولیتونه برابرول .

## یولسم څپرکی

### د وحدت المسلیمن ګوندونو جوړېدل:

د ۱۳۵۹ کال دوري په میاشت کې مې پلار پېښورته راغی تر څو دخپلې سیمې دمشکلاتو په هکله د اسلامي جمعیت دتنظیم مشر استاد رباني سره وګوري خو استاد رباني زما پلار ته یواځې ۲۵۰ ګټې مختلف النوع کارتوس (۲۵۰۰ دانې )اوڅه پیسې دسفریه او کرایې لپاره حواله کړې او وې ویل چې نور کمکونه نه شته او امید شته دی چې مونږ زیات کمکونه ترلاسه کړو نوبیا به خامخادخاص کونړ دولسوالۍ سهم په کې وي . زمونږ دټول دجهاد په دور کې دا یواځنی کمك وو چې مونږ دتنظیمونونه ترلاسه کړ ځکه چې مخکې له دې پنځوس ګټې کارتوس اسلامي حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي وخوهغه دملاصحاف سره پاتې شول ، د دې کارتوسو دلاس ته راوړلو څخه وروسته مې پلار یوځل بیا خاص کونړ ته لاړ .
د یادونې وړده چې مخکې پلارمې له دې نه خاص کونړ ته لاړشي یوه ورځ داسلامي جمعیت د دفتر مالي څانګې ته دپېښور په دین بهار کې روان و چې خپلو مجاهدینوته دلارې خرڅ اوکرایه واخلي، تصادفاً دچرګانوچوك سره چې اوس دپادشاه خان دچوك په نامه یادیږي ، شهدعزیز الرحمٰن الفت په مخه راغی چې وروسته دستړي مشي نه مي پلار ترې پوښتنه وکړه چې څه وخت راغلی یې اوچېرته یې؟
عزیزالرحمٰن الفت سمدستي دپېښورپه مشرانوباندې انتقادونه پیل کړل، او ددوئ دخود خواهۍ او بې تفاوتي نه زیات مایوسه و. نو پلارته مې وویل چې دخالص دتنظیم سره کارکوم خو پاسپورتونه مې تیار کړي اودخپلو ماشومانو سره بهر ته ځم . پلار مې ورته وویل چې داسمه نه ده چې ټول پوه شخصیتونه بهر ته لاړ شي نوداجهاد په چاکوئ ، خدای ښښلی عزیزالرحمٰن الفت وویل : چې څه وکړو ؟ پلارمې ورته وویل چې ډېر نور دوستان اوپوه کسان مهاجرشوي دي باید دهغوئ سره سلا مشوره وکړو او په شریکه به یو تصمیم ونیسوو .
د دغه لږ وخبرو نه وروسته الفت مې پلار ته خپله داوسېدو پته ورکړه او وعده یې سره کېښوده چې وبه ګورو . بله ورځ چې دقیق تاریخ مې په یادنه دی د عزیزالرحمٰن الفت کورته چې په کوز تهکال کې دپیمان اتحاد اسلامي دفتر ترځنګ و، ورغلو . عزیز الرحمٰن الفت بهر ته دخپل تګ نه تېر شوی وو او ویل یې چې ځانته به نوی حزب جوړ کړو او پلارته مې دمشر الفت صیب (ګل پاچاالفت ) دا لاندې شعر ووایه :

نه دي بدتمام غلچي او دراني
نه ازبك نه هزاره نه ترکمني
نه ښه دي اونه بد تمام ولسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې قانون مستثنی دي لغماني

نو عزیزالرحمٰن الفت په ټوقوکې وویل چې لغماني یاټول ښه دي او یاټول بد خو زیاته یې کړه چې دا دپېښور تنظیمونه ټول بد دي ، پلار مې ورته وویل چې زه یوځلي خاص کونړ ته ځم چې بېرته راغلو بیا به دوستانو اوملګرو سره مشوره وکړو چې څه وکړو .

څرنګه چې عزیزالرحمٰن الفت نهایت پاك احساس درلوده خو د دې سره ډېر تند اوسر تنبه انسان وو او دهېڅا مشورې ته یې غوږ نه نیوه نو هماغه وو چې د انتقام اسلامي په نامه تنظیم یې اعلان کړ . کله چې مې پلار دکونړ نه بېرته راغی نو الفت ته وویلې چې ډېر ژر دې حرکت وکړ، په دومره منډه څه نه کیږي. عزیزالرحمٰن الفت مې پلار ته وویل چې زه څومره تندیم، ته هماغومره سست یې . په هر حال پلارمې د الفت صیب سره یواځې د دوستي اړیکې درلودې خو په تنظیم کې یې ورسره برخه وانه خیسته ځکه اکثریت دپلار دوستان مې دې ته چمتونه وو چې دعزیزالرحمٰن الفت تر مشري لاندې کار وکړي .

د ۱۳۵۹ هـ ش کال په اوړي کې مې پلار دیو شمېر دوستانو سره لکه رحمت شاه خان دلاور،د غازي عجب خان افریدي د لور له پلوه لمسی و،حاجي سیف الدین خان دکوز کونړ ،قاضي میرزمان دنورګل ،قاضي محمدالله انصاري دبلخ ولایت ،محمدغازي چوپان دکونړ داسمار ،مولاناقیام الدین کشاف دلغمان ،قومندان عبدالرؤف خان ساپی دتګاب او همداسې یوشمېر نور سره راټول شول او په دې نظر وو چې د دې تنظیمونوترمنځ اتحاد امکان نه لري نو ښه به داوي چې خپله ډله یاحزب جوړ کړو . بلاخره د ډېرو مشورونه وروسته یې د وحدت المسلمین افغانستان په نامه حزب جوړکړ چې د دې تنظیم د مرامنامې مسوده د مولاناقیام الدین کشاف له خوا ولیکل شوه چې رحمت شاه خان دلاور د دې تنظیم دمشر په توګه ،حاجي سیف الدین خان دمرستیال په توګه،پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې دمنشي او اداري چارو دمسؤل په توګه ،مولاناقیام الدین کشاف دفرهنګي چارو د مسؤل په توګه ، قاضي محمدالله انصاري د مهاجرینو دچارو دمسؤل په توګه وټاکل شول . دغه نوي تنظیم د پېښور دصدر په انټرنیشنل هوټل کې په داسې حال کې تشکیل شو چې دافغانستان دبېلابېلو سیمونه یوشمېر زیات قومندانان او قومي مشرانوپکې ګډون کړی وو .د وحدت المسلمین ټول مصارف د رحمت شاه خان له خوا ورکول کېدل او دپېښور د صدر سره نږدې په دریم نمبر ګلبرګ سیمه کې یې دوه حویلي د دفترونو لپاره نیولې وې .

څرنګه چې اکثریت قومي مشران او سپین ږیري دتنظیمونونه مایوسه وو نو هره ورځ به په لس ګونو کسان د فتر ته راتلل او دوحدت المسلمین دحزب دعضویت کارتونه به یې اخیستل ، که څه هم د وحدت المسلمین ټول غړي ،تجربه کار اوبانفوذه قومي مشران وو او د دې وسه یې درلوده چې زیات د قومي او ملي مفکورې کسان راتول کړل خومتاءسفانه چې دوی دسیاسي لوبو کافي تجربه نه درلوده اوهماغه وو چې دوی ونه کړای شول چې فوځي یا غیر فوځي مرستې جلب کړي . یوبل لامل چې په پېښور کې قومي مشرانو نه شول کولای چې زیات نفوذ پیداکړي هغه دپاکستان حکومت ووچې نه یې  غوښتل چې یو قومي حرکت تقویه شي ځکه قومي مشران تل د افغانستان ملي منافع دتنظیمي ګټوڅخه اوچتې شمېري او هر څه یې په ډاګه دي .

د ۱۳۵۹ هـ ش کال ترمني پورې په پېښور کې دپارټیو شمېر تقریباً یوسل او شلوته رسېدلی وو او هره ورځ به دیو نوي تنظیم نوم اوربدل کېده چې البته د دومره ډلوموجودیت هم صحیح کار نه وو چې بلاخره د ۱۳۵۹ هـ ش کال په اخرو کې یوه ورځ افغان کمشنر چې شیخ عبدالله نومېده دټولو تنظیمونو استازي  راوغوښتل او دوی ته یې اعلان وکړ چې خپل دفترونه باید ټول وتړئ او دپاکستان حکومت یوائې اووه حزبونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمیت پېژني او که تاسې غواړئ نو ددې اووه ډلوو څخه یوې ډلې سره یوځای شئ . دغه اووه ډلې په لاندې ډول دي :
دملي نجات جبهه ،دحضرت صبغت الله مجددي په مشرۍ ، حزب اسلامي ، دګلبدین حکمتیار په مشرۍ ، اسلامي حزب دمولوي خالص په مشرۍ ،داسلامي انقلاب دحرکت تنظیم دمولوي محمدنبي په مشري ، اسلامي اتحاد د استاد عبدالرب رسول سیاف په مشري ، اسلامي جمعیت داستاد برهان الدین رباني په مشري ،او ملي اسلامي حزب دپیرسید احمد ګیلاني په مشري .
دپاکستان د دې فیصلې نه وروسته ټولو تنظیمونوخپل دفترونه وتړل او چاچې غوښتل فعالیت وکړي پورته اووه تنظیمونو یو له بل سره یو ځای شوي وو .د ۱۹۸۳ کال په اوړي کي بیا دمهاجرو دکمپونو نه یو لوی حرکت پیل شو چې دپیښور اوه تنظیمونه باید سره یوځای شي او اتحاد وکړي . دغه حرکت لومړي دناصرباغ دکمپ نه پیل شو چې دچپرهارملك نظیر(۱) یي مشري کوله اود کچه ګړي د کمپ نه پلاري دیوشمیر نورو سپین ږیرو سره لکه سیدخان ملك دلوګر ،ملك محمود دچپرهار ، دکامه دغوریزو ملاصیب اوداسي نورو کوله اودکچه ګړي په کمپ کی پوره لویه غونډه چې تقریباً تعداد یي دري زره کسوته رسیده او دصوبه سرحد دمهاجرینودټولو کمپونواستازیو په کي برخه درلوده جوړه کړه .داغونډي چې ځومیاشتي یي دوام وکړ دپیښور په شاهي باغ اووزیرباغ کې جوړیدې او هرورځ به ډیرکسان هلته راټولیدل او مشرانوبه په خپل نوبت داتحاد او وحدت به باره کې خبرې کولې چې بالاخره اخرنۍ غونډه دپیښور په اشرفیه مدرسه کې وشوله چې مولوي محمد نبي محمدي ، استاد رباني ، مولوي خالص ، پیرسید احمدګیلاني ، حضرت صاحب صبغت الله مجددي اوحکمتیار هم پکې برخه درلوده . دمهاجرینو یوتن نماینده چې قاضي عمرنومیده او دشینوارو اوسیدونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو د ې مشرانوته وويل كه تاسې اتحاد ونه كړئ نو تاسې هريو به موږ ته دببرك كارمل حيثيت و لرئ .
مولوي محمد نبي محمدي وويل چې موږ دافغانستان لپاره دمجاهدينوداتحاد په نامه اتحاد كړې دى تاسې ته اطمينان دركوو .
١ — ملك نظير اوس دننگرهار ولايت اداري ريس دى .

خوبيا دغه اتحاد په دوه حصوتقسيم شو چې يوته يي اوه گونى اتحاد يا (هفت گانه) اوبل ته يې درې گونى اتحاد يا
( سه گانه) وايه .
په درې گوني اتحاد كې چې ميانه روې ډلې د ملي نجات جبهه ، داسلامي انقلاب حركت اود ملي اسلامي محاذ تنظيمونه شامل وچې دچارسدې هڅې سره يې نږدې دفتر درلوده خوهيڅوك ددې اتحاد سره په نامه نه و اوپه شريكه يې درهبرۍ شورا درلوده.

١ — مولوي محمد مير دحضرت صيب صبغت الله مجددي مرستيال و خوددغه اتحاد دجوړيدو په وخت دحضرت صيب نه جدا شو او د جبهه نجات ملي په نامه يي اوه گوني كه دځانگړي حزب په توگه ومنل شو .
٢ — مولوي نصرالله منصور هم دحركت انقلاب اسلامي معاون و خوپه همدغه نامه يي بل تنظيم جوړ ده دمولوي محمد نبي دډله نه ووته او اوه گونۍ اتحاد دځانگړي گونه په توگه ومانه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

٣ – مولوي سوذن هم دمولوي محمد نبي دجدا شو او اوه ګوني اتحاد هغه هم دځانګړي ګوند په نامه ومانه

داوه ګوني اتحاد مشري استاد سیاف کوله چې په هغه کې دخالص اسلامي حزب ، داستاد سیاف اسلامي اتحاد ، دمولوي محمد میر(١) په مشرۍ دجبهه نجات ملي ډله . دحکمتیار اسلامي حزب ، اسلامي جمیعت داستاد برهان الدین رباني په مشري داسلامي انقلاب دحرکت تنظیم دمولوي نصرالله (٢)منصور په مشرۍ او داسلامي انقلاب دحرکت تنظیم دمولوي مؤ ذ ن(٣) په مشرۍ ډلې شاملې وې .
دې اتحادونو  هم عملي جنبه نه درلوده اوهریوه جد افعالیت کاوه . څرنګه چې اوه ګوني اتحادته هرګوند لس لس کسه داجرایه شورا لپاره وړاندې کړي وو نو لوی ګروپونه لکه داسلامي جمیعت ، حکمتیار ا و خالص اسلامي حزبونه پرې خوشحاله نه و ځکه استاد سیاف سره چې زیاتي پیسي وي نو دشورا هرغړي ته یي یو موټر اوسل زره  کلدارې ورکړې وې اود هغوئ راې  دمشري لپار اخستي وه خو استاد سیاف تراخره پوري دافغانستان لپاره داسلامي اتحاد نوم ټینګ کړي و او تراوسه په همدغه نامه فعالیت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم څپرکی

### د کچه ګړۍ په کمپ کې ژوند :

د ۱۳۶۰ هـ ش کال دجوزا په میاشت کې چې ډېره سخته ګرمي هم وه پلارمې یوشمېر ملګرو سره تصمیم ونیوه، چې دپېښور په ښار کې دحوېلیو کرایه مخ په اوچتېدو ده نوباید دکچه ګړۍ کمپ ته چې تازه دپېښور او جمرود ترمنځ په عمومي سړك جوړ شوی و، ووځو او هلته دیره شو .
هماغه وو چې مونږ دکامه والو دجومات سره نږدې یې تقریباً له یوجریب ځمکې نه دیوال چاپیر کړ او دوه خیمې مو په هغې کې ووهلې په همدغه کال زمونږ اقتصادي وضع هم ورځ په ورځ مخ په خرابېدو وه ځکه د اسلامي جمعیت دمهاجرینو دفتر زمونږ راشن پاسونه بې درکه کړي وو او مونږ ته دپاکستان کمشنري خوراکي مواد لکه چې نورو مهاجرینوته ورکول بند کړل . د اسلامي جمعیت دتنظیم دلیل داوو چې دغه راشن پاسونه ددوئ دتنظیم له خوا جوړشوي او داچې مونږ دتنظیم سره اړیکې پرې کړي وې نومونږ ته یې راشن نه راکوه، حال داچې راشن دملګرو ملتو دمهاجرینودعالي کمیشنرۍ له خوا ورکول کېده خو توزیع او تقسیم یې د افغان کمشنري او تنظیمونو دمهاجرینو دکمیټوله لارې کېده .
بالاخره پلار مې په افغان کمشنري کې د اسلامي جمعیت په مشر عریضه وکړه او افغان کمشنر چې ګل نوازخان نومېده په مربوط کمپ باندې امر ولیکه چې زمونږ راشن پاسونه ( دخوراکي موادو دتوزیع کوپون) پیداکړي . تصادفاً دکمپ آمر سلیم نومیده چې اصلاً دشونکړې و. په پېښور کې د ډېر پخوانه اوسېدلی او پلار یې په شاه ډنډ کې چیرمین یامشر و چې په شکر چیرمین یې شهرت درلوده . سلیم په اډوارډز کالج

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دانګلیسي ژبې په کورسونوکې زما هم صنفي و او زمونږ راشن پاسونه یې ډېر ژر پیداکړل چې زمونږ پرې پوره چاره وشوله .
دکچه ګړۍ کمپ په ډاګیزه شاړه ځمکه کې پروت ووچې دشنې ونې او اوبو په کې هېڅ درك نه لږېده خو دا چې داکمپ دپېښور ښار ته ډېر نژدې وو نو زیاترو مهاجروته فرصت و چې دغریبي لپاره هره ورځ دپېښور ښارته لاړشي نودکمپ دمهاجرو تعداد په ډېر لږ وخت کې تقریباً یولك نفرو ته ورسېد او دځای پیداکول پکې خورا ګران شول .
د ۱۳۶۰ او۱۳۶۱ هـ ش کلونو اوړي پر مونږ باندې ډېر سخت وو، ځکه اکثریت کورنیو سیوری نه درلود اونه یې په کافي اندازه پاکې اوبه درلودې اوحتی اکثرو مهاجرو دخپلوخیمونه دیوالونه هم نه و تاوکړي . ښځې اوماشومان به دپېښور په ټکنده غرمو او خاصتاٌ دجوزا دمیاشتې په سختو تودو بادونوکې چې چې برهو به یې ورته ویله په خیموکې ناست واو نارینه به دکمپ په جوماتونوکې دلوېو تجیرونو لاندې کېناستل .دغه جوماتونه دناستې او ولاړې یواځیني مرکزونه وو چې د مړي او ژوندي ټول مراسم به هماغلته ترسره کېدل . په دغو کلونوکې یو زیات شمېرماشومان دګرمۍ له امله جل ووهل او مړه شول .
مونږ وروسته په دغه لوی انګړ کې یوه لویه خونه هم جوړه کړه ، تقریباً زمونږ دکور دیرش کسه غړي په دوه خیمو او یوه خونه کې اوسېدل .اوبه به مو د ذخیرې نه چې ډګۍ به یې ورته ویله راوړلې . دغه ډګۍ به دسهار او ماښام له خوا د اوبو د ټانګونو په وسیله ډکېدلې ، هرې ډګۍ ته به په لس ګونو کسان چې ښځې ،ماشومان اوسړي به په لیکه ولاړ وو تر څو د ابو نوبت ور سپړي .دښځو او نارینو وختونه معلوم وو او کله کله به د ابو په سر سخت جنګونه هم کېدل .زمونږ لپاره هم د اوبو راوړل د ټولو نه سخت کار و او د ښوونځي دحاضري په شان باید د اوبو راوړلو وخت په یاد وی کنه، نه دڅښلو لپاره د اوبو درك لږېده او نه دبل څه لپاره. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

همدغه کال زمونږ دجومات پورې مربوطوکورنیو په لس ګونوماشومان مړه شول چې زما یوه وړوکې خور او ورور هم دګرمۍ له امله جل ووهل او مړه شول .
د ګرمي اوخولو له امله زما دمور سترګو دید پرېښود چې وروسته مو دواړه سترګې ورته عملیات کړې. هره ورځ به یوه یادوه جنازې یواځې زمونږ دجومات نه په هدېره کې ښخېدلې چې بالاخره دځایي خلکو لپاره دمهاجروپه هدېره باندې بندیز ولږول شو چې نور د دوئ په هدېره کې مړي ښخ نه کړئ ، دغه هدېره دکچه ګړۍ اورګاډي دپټلۍ سره نږدې وه ،بیا مهاجرو وروسته دکچه ګړۍ د ډاګ په شمالي برخه کې یوځای دهدیرې لپاره تعین کړ چې د کچه ګړۍ دشهیدانودهدیرې په نامه یادیدله . په دغه هدېره کې لومړنی مړی دښېوې د ولسوالۍ دګوریك دسیمې دشیرجان خور وه چې وروسته شیرجان هم جل وواهه اودګرمي له امله مړشو او دخپل خور ترڅنګ خاوروته وسپارل شو . دا هدېره مخ په پراخېدو وه ځکه هره ورځ به دپېښور دښارنه دمهاجرومړي همدلته راوړل کېدل ،زما شهیدورور سید سردار محمود او یوه ترور مې هم په همدغه هدېره کې خاوروته سپارل شوي دي . دکچه ګړۍ په کمپ کې دقبرونوتیارول هم څه اسانه کار نه وو ځکه ځمکه ډاګیزه اوسخته وه اودیو قبردکېندولو لپاره شل پنځه ویشت کسان په کار وو. څرنګه چې په ابتداءکې دمهاجرو ترمنځ ورور ګلوي او د اسلامي مینې جذبه زیاته وه نو چې دمړي اواز به وشو نو هر کور به یو یوتن سمدستي دقبرکېندلولپاره لېږه ، همداشان به تر درې ورځو پورې دمړي کور ډوډۍ نه پخوله او ټولو به ډوډۍ په شریکه جومات کې خوړله او ښځوته یې به کور ته لېږله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټول کمپ کې په یوه جومات کې هم لوډسپیکر نه وو چې مونږ لومړی د کامه والو په جومات کې دلوډ سپیکر لپاره  چانده (اعانه) واچوله اولومړی لوډسپیکر مو واخیسته .

دکامه والو جومات دوه کسه امامان درلودل چې دواړه ورونه وو او دکامې د ولسوالۍ اوسېدونکي وو ، یوه ته به یې مشر مولوي صیب وایه چې اصلي نوم یې مولوي ګل احمد و او هم یې د غوریزو مولوي صیب په نامه شهرت درلود. غوریزي په کامه کې دیو کلي نوم دی او بل ته به یې کشرمولوي صیب وایه چې مولوي عبد المحمد نومېده .

ما خپلو کشرانو ورونوته وویل چې د اوبو راوړل خورا ګران کار دی نو ښه به دا وي چې دکور په منځ کې یو کوهی وباسو ، په کچه ګړۍ کې کوهی ده ۵۰-۴۰ مترو په خوا اوشا ژور والي کې اوبه ورکولې ،هماغه وو چې مونږ پخپله کوهی شروع کړ خو دشل متره ژور والي نه وروسته زمونږ پرې وسه نه کېدله نوپاتې موبیاپه شپږ سوه روپیوباندې فني کسانوته په اجاره ورکړ .

په لومړي وخت کې په کور کې دکوهي درلودل هم یولوی نعمت وو خو بیاهم دومره ژوروالي نه د اوبو راوېستل څه اسانه کار نه وو خصوصاً د ښځولپاره .ټول مهاجرین په دې فکر وو چې نن به افغانستان ازادیږي او سبا که دچا اقتصادي وضعه ښه هم وه خو نه یې غوښتل چې ښه ځایونه جوړ کړي خو کله چې خبره اوږدېدله نو هرچادخپل ضرورت په اساس هرکال یوه یادوه نوې کوټې جوړولې چې په وروستیو کلونوکې حتیٰ زیاتوخلکو پاخه کورونه جوړ کړل د اوبو نلونه او حتیٰ برق هم کچه ګړۍ ته راوستل شو اود اکثرو مهاجرینو اقتصادي وضعه هم ښه شوله .

په ټول کمپ کې دوه صحي کلینیکونه چې Dispensary به یې ورته ویل موجود وو چې لومړی دسعودي عربستان د ((سره میاشت)) له خوا تمویلېدل ، دغه کلینیکونه هم په لویو تجیرونو کې ووچې هره ورځ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ښځې او ماشومان په لمر کې په ليکه ناست وو تر څو د ډاکتر دمعاينې نوبت ور ورسيږي نو چې کله به مريض ګرمي وواهه نو مريضي به يې نوره هم سخته شوله ځکه هرډاکتر دورځې د ۳۰۰-۲۰۰ پورې مريضان معاينه کول چې البته په طبي لحاظ دا معقول کار نه وو. اکثريت ډاکټران باتجربه هم نه وو اومريضانو ته به يې په لومړي ځل قوي مکروبي ضد(Anti-Biotic ) ورکول. څرنګه چې دوايي وړيا ورکول کيده نو د ډاکترانوهم پرې هيڅ زړه نه سوځېده او د مهاجر. په کورکې به دشربتونو او نورو دوايانو طاقچې ډکې وې وروسته دکلينيکونو لپاره پاخه تعميرونه جوړ شول.

منظمې مدرسې اوښوونځي هم په کمپ کې جوړشول ،چې تعليمي معيار يې ډېر ټيټ وو او حتیٰ بې سواده کسان هم پکې معلمان وو.

داخترونولمونځونه به هم دکچه ګړي دشهيدانوهديره سره نږدي په ډاګ کي کيدل چې په زرګونوکسانو به په لمانځه کي برخه اخستله کله به چې دکوم ملك سياسي چارواکو دپاکستان اويا پيښور نه ليدنه کوله نو اکثرو به دکچه ګړي دکمپ دمهاجرينونه هم ليدنه اوکتنه کوله چې البته دمهاجروسره ددوي کتني به د پاکستان دافغان کمشنري له خوا تنظيم کيدلي .دشاه فهد او جنرال ضيا الحق نه نيولي دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو عمومي منشي دخاص استازي (Diego Cordorez) چې دژنيو قرارداد منځګړتوب يي کاوه دکچه ګړي نه کتنه کړي ده . افغان کمشنر ي به هميشه کوښښ کاوه چې دمهاجرو په نماينده ګي داسي څوك خبري وکړي چې دپاکستان دحکومت دپاليسي سره برابر ي خبري وې .

يوځل جنرال ضياالحق دخپلي کابينې سره پيښورته راغلي و نو غوښتل يي چې دکچه ګړۍ دکمپ نه هم ليدنه وکړي خود څه مصروفيت په اساس پخپله رانغي اوراجه ظفرالحق چې داطلاعاتو اوکلتور وزير و دکچه ګړۍ کمپ ته راغي نو دخلکود غوښتني په اساس دمهاجرو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

استازیتوب مې پلارخبرې وکړې اوورته یې وویل چي موږ ته خوتاسي پناه راکړې موږ ددې ستاینه کوو خو داځنګه مسلماني ده چې دبرق لینونه زموږ په سر تیرشوي او ډیره سخته ګرمي هم ده او به هم نشته دي او مهاجروته برق نه ورکوئ .
نوراجه ظفرالحق وعده وکړه چې کچه ګړی مهاجرینو ته به دصوبه سرحد حکومت برق ورکوي هماغه ووچې څه موده وروسته دصوبه سرحد حکومت مهاجرینوته هم برق ورکړ نو وروسته په هغي اکثریت مهاجرینو کوشش کو و چې پس له دي باید زما پلار چې په کمپ کي دکونړ مدیرصیب په نامه شهرت درلوده باید بهرني میلمنوته خبري وکړي .
د ۱۹۸۸ م کال داپریل په څوارلسمه چې دژنیو قرارداد چې په هغه کې د مهاجرینو او مجاهدینو نماینده ګانو برخه نه درلوده او پاکستان زموږ نماینده ګي کوله امضاشو ، نو ددغه قرارداد نه وروسته Diego Cordorez کچه ګړي کمپ ته راغي چې دمهاجرینو سره وګوري. افغان کمشنر ي غوښتل چې یوتن داحمدزو مشر چې سید خان ملك نومیده چې دکمشنري سره یې نږدې اړیکي درلودي وغږیږي خودمهاجرینو په زیات اصرار دمهاجرو په نماینده ګي زما پلار باید خبرې وکړي اوهم مهاجرینو وویل که دکونړ مدیرصیب ونه غږیږي نو موږ ټول بیرته کورونوته ځو .
پلارمې چې دیګو کوردویز ته په خبرو کي وویل چې موږدتانه مننه کوو چې افغانستان دمسله دحل لپاره دی ډیري منډي اوترړي
ووهلي اودژنیو قرارداد مو امضا کړخو زموږ اعتراض دادي چې په دي فیصله کي دمهاجرو اومجاهدینو استاذو هیڅ برخه نه درلوده او داچې ته اوس دلته راغلي چې زموږ نظر وګوري زمونږ اعتراض دادی چې تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته باید دقرارداد دامضاء نه دمخه دلته راغلي وي او زموږ نظر اوستونزو ته دي باید غوږ نیولي وای .
پلارمې زیاته کړه چې دژنیو قرارداد زموږ مشکل حل کولای نه شي ځکه چې نه مهاجرین بیرته وطن ته ستنیږي شي . نه جنګ ودرولي شي اونه دکابل رژیم کې څه تغیر راتلای شي .
دیګو کوردویززما دپلار دخبرونه وروسته وویل چې ستاخبرې بیخي صحیح دي چې دژنیو قرارداد دامشکلات نه شي حل کولای خوچې موږ دمجاهدینو مشرانو ، پاکستانی چارواکو او امریکایانو سره غږیدو نوټولو به همدا ویل چې که روسان دافغانستان نه ووځي نو مشکل ټول حل کیږي نو موږ دا قرارداد دروسانو دوتلو لپاره کړي اوهغوي به ووځي خو دافغانستان مشکلات به په خپل ځای پاتي وي موږ په وروستیو کلونو کي وکتل چې دژینو قرارداد په افغانستان کي خپل منځي جګړو ( Civil War ) ته زمینه مساعده کړه او داقرارداد هم دبن دقرارداد په شان نیمګړي و چې تراوسه پوري موږ په جګړوکې سوځو .
دکچه ګړی کمپ سهیل پلوته داورګاډي دپټلي ترڅنګ یوه لویه دښته وه چې وروسته پکي حیات آباد جوړشو . په دغه دښته کي به مهاجرو زیاد ترو شګي چڼولي او هغه به یي په ټیکه دارانوچې دپیښوربنار په ګوټ ګوټ کې آبادی کولي خرڅولي ددغه شګو چڼول هم دپیښورپه ټکنده غرمو کې خوراګران کارو درحمان بابآ داشعر دلته ډیربنه صدق کوه چې وایي :

په سبب دظالمانو حاکمانو
کور او ګور اوپیښور دری واړه یودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ما په ۱۹۸۴ م کال کې دکچه ګړي په کمپ کې دامریکایي پروفیسر David Edwards سره تحقیق کاوه نو په کچه ګړي کې تقریباً ۶۲ جوماتونه ووچې هریویي دقوم یا دافغانستان دیوي سیمي په نامه یایده او دافغانستان دمختلفو سیمو او په خاصه توګه دمشرقي دولایاتو ډیر مهم مشران اوپوه کسان په کچه ګړي کمپ کې اوسیدل .
زموږ دهیواد مشهورسندرغاړی عبدالرحمن( اور) هم په کچه ګړي کي په یوه بل جومات کې د مؤذن دنده اجراکوله . یوه ورځې مي تري پوښتنه وکړه چې عبدالرحمن (اور) استاد څنګه دي مؤذني نیولي ده ؟ نود ه وویل چې په ودونو کې په ساز اوسیل باندې بندیز دی او په بل کارزه نه پوهیږم نوغیرد اذان کولونه بله دنده راته نشته دی که په دی مې هم ملایان په کراره پریږدي نو هم به ښه وي دافغانستان یو بل مشهور هنرمند حضرت باز استاد هم دکامه والو په جومات کې اوسیده . یوه ورځ حضرت باز استاد دپیرسید احمدګیلاني صفت وکړ نو حزبیانو چې دهغه مخالف وونو حضرت باز استاد ته یې وویل چې ته دپیرصیب صفت کوي ګوري نه چې موږ مهاجرین دلته په لمر کې سوځو و اوهغه په کبابیانو کې په خپل کورکې په سپي خیمه ودرولې اوهغه ته یې پکی چالان کړی دی. حضرت باز استاد ورته وویل چې ګوره دهغه سره دسپي قدر هم شته دی خو ستاسي دحزبیانو سره دانسانانو قدر هم نشته دی .
یوه ورځې داختر دلمانځه نه وروسته پلارمې دغوریزو مولوي صیب اویوشمیر نور دکامه والو دجومات مشرانو سره بیرته کورونو ته یوځای راروان یو نو کتل موچې حضرت باز استاد په لاره کې ولاړ دی . نو غوریزو مولوي صیب وویل چې لږ وروشي چې حضرت بآز خپل کورته نونوځې خوحضرت باز زموږ په ورو تګ باندې پوه شو نو غږیې وکړ چې مولوي صیب زه تاسي ته ولاړیم او خامخا به دسهار چای دماسره څښئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



، مولوي صیب ته هم بله چاره پاتي نه وه چې بهانه وکړي نوپلارمې
ورته وویل چې څه فرق کوي ځئ چې چاې ورسره وڅښو کله چې
دحضرت باز په کورکي کیناستو نو دغوریزو مولوي صیب ته یي وویل
چې زه پوه شوم تاسي مزل وروکړ او دادرته بدي ښکاري چې څنګه یو
مولوي د ډم ( هنرمند ) کورته لاړ شي خو مولوي صیب! زما هیڅ ګناه
نشته دی ځکه چي ګناه زما دپلار ده چې زه یي صحیح تربیه کړي نه یم .
داچې زه سړي یم نو ګوره زما یو ځوي مولوي دي اوبل معلم .
حضرت باز استاد او عبدالرحمن اور دواړه اوس په حق رسیدلي دي .
حضرت باز استاد یو ورځې دحاجي سیف الدین خان سره ټوکې کولې
چې ګوره ستاسې دمجاهدینو عجیبه غوندي کاردي چې ستا عزیزان (
دسرکنډ ولس ) راغي او زما کوریي چور کړ په دی چې زه ډم یم اوبیا دوه
ورځي وروسته یوتن ورغی او ورته یې وویل چې مونږ ستا له کوره چاې
جوش وړی او سرپوښ یې دلته پاتې دی هغه راکړه او زه یې مجبور کړم
چې مهاجر شم په هاغه ورځ چې ډیګو کوردویزدکچه ګړی کمپ ته رتلو
نو دهغه دراتګ نه دمخه ده ډیرښه شعرونه چې دحالاتو په هکله یي جوړ
کړي و وویل نو ارباب دوست محمد چې دپیښور دضلع دافغان
کمشنری مسؤل و و ، حضرت باز استاد ته یې وویل چې استاده پاس (
راشن پاس ) لرې اوکه نه ؟ حضرت باز استاد چې ارباب دوست محمد
نه پیژنده نوډیره سخته غلیظه ټوکه یې ورته وکړه او وویل چې نه یي لرم
نوارباب دوست محمد ورته وویل چې ته خو ډیرکچه سړی یې .
حضرت باز استاد ورته وویل چې دکچه ځای وم او اوس کچه ( کچه
ګړی ) ځای کي د کچه خلکوسره دلته پروت یم . حضرت باز ته دکنړ
سیند سهیلي غاړه کې دکچه ګړي په سیمه کې اعلیحضرت محمد
ظاهرشاه یوڅه ځمکه ورکړې وه اودی هلته اوسیدو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواقعیتونو په بهیر کې

---

زمونږ کورنۍ د۱۹۹۰ م کال تر اوړي پورې دکچه ګړۍ په کمپ کې واوسېدله او کله چې زما ورور دلته شهید کړی شو نوبیا مې پلار ناصرباغ کمپ ته لاړ ، په دغه وخت کې زه تازه امریکا ته تللی وم .
کله چې کونړ آزاد شو نو په ۱۹۹۳ م کال کې مې پلار بېرته کونړته خپل وطن ته راغی او د۱۳۸۳ هـ ش کال دحوت په اته ویشتمه نېټه دجمعې مبارکې په ورځ دجمعې لمانځه په وخت دلږې ناروغۍ نه وروسته چې دسرطان مرض یې په سږي او وجود کې خپور شوی و دپېښور په جرنیلي روغتون کې په حق ورسیده او دخاص کونړ دمنګوال کلي کې په خپله پلرنۍ هدېره کې خاورو ته وسپارل شو،اروا یې ښاده.
د جهاد په لومړیوکلونوکې دافغانستان اکثریت ولس جهاد واقعاً دخدای(ج) درضالپاره پیل کړی وو چې البته دکابل دخلق رژیم له خوا دبې ګناه افغانانو زورول،وژنه،شکنجه،تحقیر او بې عزتي دجهاد دپیل اصلي لامل و چې ولس یې دحکومت په مقابل کې راوپاروه، هجرت او جهاد ته یې مجبور کړل .
دا دکوم تنظیم او یاشخص دفعالیت نتیجه نه وه بلکې دجهاد له برکته تنظیمونو چې پخوایې دموجودیت چندان پته نه لږېده رشد وکړ. نړیوال کمکونه چې دافغانانو لپاره راتلل دوی دغنیمتي مالونو په توګه په خپلو منځونوکې تقسیمول او خپلې مزې اوچړچې یې پرې کولې چې اوس هم هماغه سلسله روانه ده ، هریو دا وایي چې مونږ جهاد کړی او ټول امتیازات باید زمونږ وي ، که دوی جهاد دخدای(ج) پاك درضا لپاره کړی وي نو باید په هر څه کې دجهاد د نامه څخه سؤ استفاده نه وی کړي .دجهاد په پیل کې زیاتره قومندانان اویا دجهاد مشران یاقومي سپین ږیري اویا تجربه لرونکي شخصیتونه وو خو له بده مرغه چې دوی په سیاسي لوبو نه پوهېدل نودا ورته پته نه وه چې ګاونډي هېوادونه او یانور ملکونه چې د افغانستان سره په چارو کې مستقیم یاغیر مستقیم دخیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي څه ډول ځانګړي اهداف لري . ددغه پروګرامونو عملي تجربې مونږ په خپلو سترګو په تېرو څوارلس کلونوکې وليدې چې زمونږ هېواد يې څنګه دجنګ او ورور وژنې مرکز وګرځاوه تر څو خپل ناوړه اهداف د افغانستان په ورانولو او د افغانانو په وژنه کې لاس ته راوړي . د افغانانو ترمنځ يې سرې اوشنې کرښې وکښلې همدوی ووچې دجهاد دليکونه يې پوه ،باتجربه او په وطن مين کسان لرې کړل او قدرت يې داسې کسانو ته په لاس ورکړ چې هغوی ته ملي ګټې، ورور وژنه او دخپل هېواد ورانول ديوې پيسې په اندازه ارزښت نه درلوده . دپردیو په اشاره ئې زمونږ ډېر پوه ، بادرده اومسلمان وطنوال په داخل د افغانستان کې او هم د هېواد نه بهر ووژل .د داسې وژنو سلسله په پېښور کې اوږد بحث غواړي چې ټولې پېښې په دقيقه توګه وڅيړل شي خوزه دلته ديوڅو پېښو يادونه ضروري بولم ځکه چې دا پېښې اوس هم زما تر ستر ګودی .

0 - دشهيد عزيز الرحمٰن الفت وژنه ډېره زړه دردونکې وه چې په ګلبهار کې دخپل کور په مخ کې په داسې حال کې وو ژل شو چې قاتل يې هم معلوم و خو دپاکستان حکومت هغه ونه نيو او ترنن پورې ژوندی ګرځي .

1 - د ډاکتر نسيم لودين وژنه دپېښور دجهانګير آباد په سيمه که په داسې حال کې وشوه چې دی دکور نه د دفتر خواته روان و دده د قاتل هم څه پته ونه لږېده .

2 - دشهيد بهاو الدين مجروح وژنه په داسې حال کې چې دخپل کور دروازه بېرته کوي ،دمسلحو کسانو له خوا پرې ډز کېږي او دخپل کور په دروازه کې ځای په ځای وژل کيږي ، شهيد مجروح او زه په دغه وخت کې د پېښور شاهين ټاون کې په يوه کوڅه کې او سېدو د ده قاتل هم دپاکستان حکومت ونه نيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

3 - معلم ذاکر چې دپېښور په I C R C کې یې کار کاوه ،دی په یونیورسټي ټاون کې ووژل شو او دقاتل یې څه پته ونه لږېده .
4 - د I R C د انګلیسي ژبو دپروګرامونو مسؤل انجینر عزیز وژنه چې هغه هم دپېښور په یونیورسټي ټاون کې وشوه او قاتل یې ونه نیول شو .
5 - د ټولو نه دردونکې وژنه ماته د ډاکتر سعادت شګیوال وه که څه هم ما شګیوال سره نژدې اړیکې نه درلودې خو دهغه وژنې راباندې داسې بد اثر کړی و چې زما دژوند دترخو خاطرو څخه یوه زړه دردونکې خاطره ده .

په دغه وخت کې زه دامریکاغږ راډیو محلي خبریال وم او زما کور دیونیورسټي ټاون سره نژدې په اکاډمي ټاون کې و ،ما دخپلو زامنو او یو کشر ورور لپاره ګاډی (ټانګه ) نیولې وه چې دوی به یې سهار ښوونځی ته رسول او دښوونځی درخصتي نه وروسته به یې کورته راوستل زما زامنو راته وویل چې زمونږ دوه همصنفیان چې مهاجر دي او دلته نژدې اوسیږي هغه هم مونږ دځان سره په ګاډی کې واخلو او که نه .؟ ماورته وویل چې ولې نه هغوئ هم دځان سره واخلئ اویوځای ښوونځي ته ځئ ، ماته دا پته نه وه چې دا دوه هلکان د ډاکترسعادت شګیوال زامن دي .

څو ورځې لاتېرې نه وې چې شګیوال په شاهین ټاون کې ووژل شو او کله چې کورته په موټر کې مازدیګر راغلم زمازامن په دروازه کې ولاړدي او راته ویې ویل چې میرزالالا زمونږ دهم صنفیانو پلار چا مړ کړ ، ماته په دغه وخت کې پته ولږېده چې دا دوه هلکان دشګیوال زامن وو ، نوماته دا ډېره سخته صحنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ځکه چې ما دځان سره فکر وکړ چې زه وژل شوی یم او زامن مې بې پلاره په دروازه کې ولاړ دي .
6- د عبدالحکیم کتوازي وژنه هم ډېره دردونکې وه زه دکتوازي صیب سره ډېر تازه بلد شوی وم او دهغه وژنه په حیات آباد کې د افغانستان لپاره یوه لویه ضایعه وه دهغه قاتل هم چا ونه نیوه .
7-دولي خان کړوخېل وژنه بله دردونکې پېښه وه چې په پېښور کې ترسره شوه او قاتلین یې چاونه نیول .
8- په اسلام اباد کې د جنت ګل خان غروال وژنه هم دافغانستان لپاره لویه ضایع وه او د اسلام آباد غونډې ځای کې دهغه قاتلین دپاکستان حکومت ونه نیول .
9- په کوئټه کې دوکیل عبدالاحد کرزي وژنه چې قاتلین یې ونه نیول شول .
10- زما دورور سیدسردار محمود شهادت چې دکچه ګړی په کمپ کې دعمومي سرك سره نژدې په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې دخپلې معاینه خانې څخه کورته په موټرسایکل راته او قاتلین یې چا ونه نیول .
۱۱- انجنیر عطا الله دوکیل ګل محمد خان زوی دخاص کونړ چې دحکمتیار داسلامي حزب له خوا ونیول شو او تر نن نېټې پورې یې مړی ژوندی نه دی معلوم . له انجنیر عطا الله سره په پیښور کې د BBC خبریال
حامد علمي هم اسلامي حزب نیولی وو چې وروسته د(شمشتو) له بندیخانې نه په تیښته بریالی شو او خدای(ج) له مرګه وژغوره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

۱۲- دخاص کونړ دمنګوال دکلي علي رحمان دسیداګل زوی هم په پیښور کې ورك شو .داسلامي حزب په وړاندې د علي رحمان ګناه داوه چې له افغان ملت ګوند سره یې تړاو درلود .
۱۳- دخاص کونړ دباندې دکلي اوسیدونکی محب جان هم په پیښور کې ورك شو او ده هم دافغان ملت ګوند غړیتوب درلود .
۱۴- داسلامي جمعیت حزب دباجوړ کریړنومی ځای کې تعلیمي غونډ درلود او دکونړ سیمې زیاتره بندیان به یې هلته ساتل چې په دې لړ کې دخاص کونړ دچمیاري دکلي عبدالوهاب دصاحب حق زوی او مدیرعبدالباقي دملا شریف زوی یې هم هلته بې ګناه نیولي وو چې عبدالوهاب دپیسو په بدل کې خوشې کړای شو او عبدالباقي یې وواژه عبدالباقي چې دساینس له پوهنځي نه فارغ شوی وو دلیسې په دولسم ټولګي کې زمونږدکیمیا استاد وو او وروسته دنورګل دلیسې مدیر وټاکل شو نوموړي د مجاهدینو له ډلو سره راز راز مرستې هم کړې وې .
عبدالوهاب هم زما دلیسې او پوهنتون ددورو ټولګیوال وو چې داوخت په راولپنډۍ کې اوسیږي .
۱۵- دپیښور په حیات اباد کې دفضل الحق مجاهد وژنه .
۱۶-همدارنګه په همدې سیمه کې دقوماندان عارف خان قتل .
۱۷- په پیښور کې دهلمند دملا نسیم وژنه او دې ته ورته مرګونو ټول همدا سې پرله پسې لړۍ ده .

دغه ټولې پورتنۍ پیښې ماد بیلګې په توګه یادې کړې چې زمونږ ځومره هیوادوال په پاکستان کې ووژل شو او د هیڅ قاتلین نه دي نیول شوي ، البته د دې ټولو په وژلوکې په پیښور کې دجوړو شویو بعضې تنظیمونو او دپاکستان د I S I شبکې لاس درلود او همدا علت وو چې د دوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاتلين نه نيول کېدل .دا چې دتنظيمونو په خپل منځي اختلافاتو او جګړو کې په هرګوټ کې نور څومره انسانان وژل شوي ځانګړې بحث دی ځکه يوازې زمونږ په سيمه کې په لسګونو داسې کسان شته چې ددغو عواملو په اساس وژل شوي دي . ددې پراسراره قتلونو دپلټنې په منظور بايد يو ه ځانګړې څېړنه وشي او دتاريخ په پاڼو کې ثبت کړای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - دبیلجیم دمؤسسې دتعلیم او تربیې  مسؤل استاد عبدالعزیز نصیري دبیلجیم سفیر ته دخپل پروګرام په اړه معلومات ورکوي .



۲ - دبیلجیم دکمیټې دفتر : له استادانو سره یادګاري عکس ، له کیڼ خوانه استاد عبدالصبور عزیزي ،استاد منصوري،مرحوم عبدالحی ګداخیل ،سید احمد مومند، شاه محمود میاخیل ،مولوي سید حسین شاه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دکونړ په ګجګل سیمه کې له مجاهدینو سره یادګاري عکس . له کیڼ خوانه دویم تن شاه محمود میاخیل .



۴- دبیلجیم دمؤسسې مرستیال شاه محمود میاخیل دبیلجیم سفارت شاژدافیر ته دپروګرام په باب معلومات ورکوي ، په کیڼ خواکې شمس الرحمن او په ښي طرف کې عبدالصمد عزیزي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- دکونړ په چغه سرای کې یادګاري عکس ، له کیڼ خوانه دجاپان هیواد یوورځ پاڼه لیکونکی ، ورپسې قوماندان اکبر نورستانی ، محمود دپیچ اوسیدونکی ، دامریکا غږ رادیو خبریال شاه محمود میاخیل او فاروق زماني .



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې په ۱۹۸۳ کې دبیلجیم له کمیټې نه استعفا ورکړه همکارانو راته داموټر ډالۍ کړ.په عکس کې زما مشر زوی نایل محمود ولاړ دی.

۷- دبیلجیم تعلیمي اداره . دل کوغ دبیلجیم شاژدافیر ، بنواهوشن .



(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- دبیلجیم کمیټې دکورسونو شاګردانو ته دفراغت دسندونو ویش ، له کینږ خوانه شاه



محمود میاخیل ، دبیلجیم کمیټې رئیس د UNHCR رئیس او محمد کریم .


(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- په تصوير کې دکونړ ولايت تر ازادۍ وروسته يوشمير ټينکونه ليدل کيږي چې
وروسته کباړ شول ، دټينکونو ترڅنګ دامريکا غږ خبريال
شاه محمود ولاړ دی.



۱۰- په سوات کې دافغانستان دبيا رغونې په هکله يوه غونډه چې دازادافغانستان
دليکوالو داتحاديې له خوا رابلل شوې وه ،له ښي خوانه پوهاند عبدالسلام عظيمي ،
پروفيسررسول امين ،شاه محمود مياخيل،پوهاند احمد شاه جلالي،اوتاج محمد
اکبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- دښوې دسربند په کلي کې شاه محمود میاخیل او حاجي سیف الدین ۱۹۹۵ میلادي .



۱۲- په عکس کې له کینې خوانه زما ورورسیدامیرمحمود له خپل ملګري عظیم الله سره لیدل کیږي چې تردې عکس اخیستو دوه میاشتې وروسته په پیښور کې تری تم شو ، ۱۹۸۷ .ناران باغ حیات اباد .

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱- داستاد ذاکر تر شهادت وروسته په پېښور کې د ملګروملتونو ددفتر مخې ته دافغانانو لاريون .





۲- دکچه ګړۍ کمپ کې زما دشهيد ورورډاکټر سيدسردارمحمود معاينه خانه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په عکس کې زما ورور سید سردارمحمود له خپلو ټولګیوالو سره په ولاړ کتار کې له ښي خوا نه لومړی نفر دی.




۴- ښي طرف ته شاه محمود میا خیل او شهید سید سردار محمود ۱۹۸۴میلادي کال دکچه ګړۍ کمپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- دا دبهی دښته ده چې دجهاد پروخت دموټرودنشتوالي له کبله ټراکټر
دتګ راتګ زریعه وه مونږ به په دې وسیله له مزاري چینې څخه ترښاپیښ
پورې تللو په عکس کې له ماسره زما ورور سلطان محمود هم لیدل
کیږي. ۱۹۸۴ میلادي.

۶- په عکس زما ورور شهید ډاکټر سید سردارمحمود لیدل کیږي .





(c) ketabton.com: The Digital Library

۷-دځپري کلی ۱۹۸۴ میلادي کال یادګاري تصویر ، له کیڼ خوانه شاه محمود میاخیل ، ملك محمد علي ، طالب ، فضل جان، او تر شاه دفضل جان ځوی شفیق.



۸- ۱۹۸۴میلادي کال ، په خاص کونړ کې له مجاهدینو سره یادګاري عکس ، په منځ کې زه ښکارم چې تمانچه مې ترغاړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- دا هم دبهی ددښتې انتقالونکی ټراکټر دی چې مونږ پرې دخپل هدف په لور راهي يو .



۱۰- ۱۹۷۹ ميلادي کال ، دروسانو په لاس دهغه ړنګ شوي کور يو انځور چې مونږ په کې اوسيدلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- ۱۹۸۷ کال دسپتمبر میاشت ، د New Hampshire ایالت ،
دامریکې د Al Gore دانتخاباتي مرکز څخه زمونږ لیدنه ، له کین خوانه
حاجي سید داود ، محمد یعقوب شرافت ، زرغون شاه ، سید فضل اکبر ،
حامد کرزی، سیدمسعود مجروح ، انجنیرکریم ، او ناست شاه محمود



میاخیل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- ۱۹۸۶ کال ، له خدای بښلي پلار سره زمونږ دورونو یادګاري عکس .

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- مخامخ درې تنو کې له کينې خوانه رحمت شاه دلاور دغازي عجب خان اپريدي لمسی ، شهيد محمد غازي چوپان ، او زما پلار سيد محمود حسرت .



۲- امريکا يي پروفيسر ډاکټر ډيويډ اډواردز ۱۹۸۴، دچترال پرلار دلورلائي کنډو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- له مرحوم پلار سره زما يادګاري عکس ، د۱۹۸۹ کال دجون مياشت ،پيښور تاون اکيډيمي .



۴- ۱۹۸۴ ميلادي کال ، دمنګوال په کلي کې ږمجاهدينو يادګاري عکس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- ډاکټر روح الله چې په پلاستيك سرجري کې يې ډاکټري درلوده او په ۱۹۸۷ کال په پيښور کې له خپلې معاينه خانې څخه دتل لپاره لادرکه شو تر ننه يې مړ او ژوندی نه دی معلوم .




۶- زما دورور په دفتر کې د۱۹۸۸ کال يادګاري عکس ،پيښور، له کينې خوانه زما وروړسلطان محمود ، دسيال صيب بارډيګارډ ، زما پلار سيدمحمود حسرت ، سيال ميرا جان ، امريکايي انټروپالوجيسټه
Benidick Johson
او دسيال صيب بل بارډيګارډ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- د۱۹۷۹ میلادي کال داپریل په میاشت کې مې داعکس په شبقدر ډیری
کې خدای بښلي پلار اخیستی وو .



۸- زما مرحوم والد دمطالعې پر مهال چې دا یې همیشني مصروفیت او
خوښیدونکی عمل وو .۱۹۹۰ کال دپیښور تاون اکیډیمي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




۹- دننگرهار ولایت جلال اباد ښار ختیځ لور ته د سمرخیلوپه کلي کې
دمیا علي صاحب دزیارت گنبد، چې زیاتره لیوني دتداوئ په موخه دې
زیارت ته راوړل کیږي ، مونږ هم دمیا علي صاحب لمسي یو .



۱۰- دا هغه زنځیري لیونی دی چې دنوموړي زیارت په دیوال پورې په
زنځیر په دې هدف تړل شوی چې گوندې خدای پرې مهربانه شي او
روغ شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- ۱۹۸۴ کال ،ددیر په سیمه کې دشهید غازي چوپان یادګاري عکس.




۱۲- زما مرحوم پلار سیدمحمود حسرت او ښاغلی سیال صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- زما مرحوم پلار له وفات څخه لږه موده وړاندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

Islamic Society of Afghanistan

جمعیت اسلامی افغانستان

Date: 13-10-79

تاریخ: ۱۳۵۸/۷/۲۱

726 / 225

دعوت تنظیم

مجاهدین دلیر و رزمنده گان با شهامت شجاع جمعیت اسلامی

السلام علیکم و رحمة الله!

از مجاهدات دلیرانه شما که در راه خداوند ج علیه حکومت ظالم

... انجام داده اید اجر عظیم ...

بزرگ جهاد مقدس تان را مشکور فرمایید ما نیز برای تنظیم درست جبهه شما

جناب فضیلت مآب شید محمود اغا را که یک عضو نماینده جمعیت انتخاب

نموده ایم چون شخص پخته و مسلمان صادق است امید واریم در جمله

امور شرعی و قانونی مطابق اصول جمعیت اطاعت نموده و همچنان


بنا علی قائد صاحب غازی خان به حیث قوماندان جبهه شان ...

همکاری و موفقیت در راه جهاد از خداوند متعال خواهانم

پروفیسر برهان الدین ربانی

۱۴- دجمیعت اسلامي د رهبر بناغلي برهان الدین رباني هغه لیك چې
دکتاب په متن کې یې تفصیل بیان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

Gulbuddin Hekmatyar

AMIR OF
HEZBE ISLAMI AFGHANISTAN

گلب الدین حکمتیار
امیر حزب اسلامی افغانستان

Date

برادران محترم جبهه خاص کرز: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
چون برادرها مدیر صاحب طی مکتوب رسمی بحیث امیر منطقه
[illegible] گردیده و با توجه به آن تحت رهبری ایشان
در منطقه مربوط عملاً کار آغاز شده که وطن
[illegible] ما فعالیت حزب در منطقه کاملاً مختل
میکردند ما یکبار دیگر رهبری ایشان را تائید
می نمائیم. امیدواریم برادران متعهد خوب تحت
رهبری مدیر صاحب به کار های شان ادامه دهند.
موفقیت شما را از بارگاه الهی تمنی دارم.
باالاحترام
۱۳۵۸/۷/۵

۱۵- دحزب اسلامي درهبر ښاغلي ګلبدالدين حکمتيار دخپل لاس ليکلی
ليك وينئ چي دکتاب په متن کي په تفصيل سره پرې رڼا اچول شوې ده .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**